پښتو ژبه کښې د قرآن کریم مختصر، جامع او عام فهم خلاصة القرآن



# خلاصة القرآن


## (پښتو)

مولانا عبدالباری

و

# مختصر اصول تفسیر قرآن

مولانا مفتی محمد ایاز



مطبع: اشاعت اکیډمي عبدالغني پلازه محلّه جنگی پشاور
091-2580325 - 2590315
0332-9241690

# مختصر

# أصول تفسير

# و

# خلاصة سور القرآن

افادات: حضرت مولانا مفتی **محمد ایاز** حفظہ اللہ

جمع وترتیب: ابن علیم خان

اشاعت اکیڈمی قصہ خوانی پشاور

091-2580325

091-2590315

# فهرست


| | | | |
|---|---|---|---|
| **مقدمه، مختصر اصول تفسیر** | 6 | **اصول تفسیر** | 12 |
| **دتفسیرضروری اصطلاحات** | 6 | **د تعارفِ قران متعلق پنځه خبرے** | 12 |
| دعوی یاموضوع | 6 | (۱)اسمآء القرآن | 12 |
| تنویر | 6 | (۲)تعریف القرآن | 13 |
| دلیل | 6 | ( ۳) حکمتِ نزول قران | 15 |
| تخویف (ترهیب) | 6 | (٤)موضوع یادعویٰ دقرآن | 17 |
| بشارت دنیوی | 7 | (٥) تقسیم قرآن | 19 |
| بشارت اُخروی | 7 | **تعارفِ سُورِ قران** | 21 |
| تسلی | 7 | ( 1 )**خلاصۀ سورقرآن** | 21 |
| ترغیب | 7 | (۱)دسورت مصحفی اونزولی ترتیب | 21 |
| تشجیع | 7 | ( ۲ ) دسورت ربط | 21 |
| تزهیدمن الدنیا | 7 | ( ۳ ) دسورت امتیازات | 21 |
| اُمورانتظامیه | 7 | ( ٤ ) دسورت دعوی | 21 |
| اُمورمصلحه | 7 | ( ٥ ) دسورت تقسیم یاحاصل دسورت | 22 |
| (۱)امور مصلحه دپاره دمنکرینو | 8 | (۷ ) دقرآن مضامین | 22 |
| (۲)امور مصلحه دپاره دمومنانو | 8 | **دعوی** | 22 |
| (۳)امور مصلحه مدافعه | 8 | **دلائل** | 22 |
| ادخال الهی ,براعة الاستهلال | 9 | ( ۱ ) دلیل عقلی | 22 |
| ادّماج ( اِدْماج،اندماج) | 9 | (۲ ) دلیل نقلی | 23 |
| اعادۀ برائے بعدعهد | 9 | ( ۳ )دلیل وحی | 23 |
| د ګمراهئ درجات | 9 | ( ٤ ) دلیل حلف | 24 |
| ربط القلب او دهغے درجات | 10 | دقرآن مخاطبین اوطرزخطاب | 24 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| دمشركينواقسام | 25 | خلاصة سورة يونس | 53 |
| توحيداودهغے اقسام | 26 | خلاصة سورة هود | 54 |
| دتوحيدعنوانات | 26 | خلاصه سورة يوسف | 55 |
| دتوحيدقسمونه | 27 | خلاصة سورة الرعد | 56 |
| شرك | 29 | خلاصة سورة ابراهيم | 57 |
| تعريف د شرك | 30 | خلاصة سورة الحجر | 58 |
| دشرك قسمونه | 30 | خلاصة سورة النحل | 59 |
| دقرآن باقى مضامين | 35 | خلاصة سورة الاسراء | 60 |
| صدق الرسول | 35 | خلاصة سورة كهف | 61 |
| صدق القرآن | 36 | خلاصة سورة مريم | 62 |
| الايمان بالاخرة | 36 | خلاصة سورة طٰهٰ | 63 |
| الجهادفى سبيل الله | 36 | خلاصة سورة الانبياء | 64 |
| الانفاق فى سبيل الله | 36 | خلاصة سورة الحج | 65 |
| التنظيم | 37 | خلاصة سورة المو ٔمنون | 66 |
| الاداب | 37 | خلاصة سورة النور | 67 |
| خلاصة سورة الفاتحه | 38 | خلاصة سورة الفرقان | 68 |
| خلاصة سورة البقرة | 39 | خلاصة سورة الشعراء | 69 |
| خلاصة سورة ال عمران | 44 | خلاصة سورة النمل | 70 |
| خلاصة سورة النساء | 46 | خلاصة سورة القصص | 71 |
| خلاصة سورة المائدة | 47 | خلاصة سورة العنكبوت | 72 |
| خلاصة سورة الانعام | 49 | خلاصة سورة الروم | 73 |
| خلاصة سورة الأعراف | 50 | خلاصة سورة لقمٰن | 74 |
| خلاصة سورة انفال | 51 | خلاصة سورة السجدة | 75 |
| خلاصة سورة التوبة | 52 | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| خلاصة سورة الاحزاب | 76 | خلاصة سورة الرحمٰن | 98 |
| خلاصة سورة سبا | 77 | خلاصة سورة الواقعة | 98 |
| خلاصة سورة الفاطر | 78 | خلاصة سورة الحديد | 99 |
| خلاصة سورة يٰسين | 78 | خلاصة سورة المجادلة | 100 |
| خلاصة سورة الصافات | 80 | خلاصة سورة الحشر | 101 |
| خلاصة سورة ص | 81 | خلاصة سورة الممتحنة | 101 |
| خلاصة سورة الزمر | 82 | خلاصة سورة الصف | 103 |
| خلاصة سورة المومن | 83 | خلاصة سورة الجمعة | 103 |
| خلاصة سورة حم السجدة | 85 | خلاصة سورة المنافقين | 104 |
| خلاصة سورة الشوریٰ | 86 | خلاصة سورة التغابن | 105 |
| خلاصة سورة الزخرف | 87 | خلاصة سورة الطلاق | 105 |
| خلاصة سورة الدخان | 88 | خلاصه سورة التحريم | 106 |
| خلاصة سورة الجاثية | 89 | خلاصة سورة الملك | 107 |
| خلاصة سورة الاحقاف | 90 | خلاصة سورة القلم | 108 |
| خلاصة سورة محمد | 91 | خلاصة سورة الحاقة | 108 |
| خلاصة سورة الفتح | 92 | خلاصة سورة المعارج | 109 |
| خلاصة سورة الحجرات | 93 | خلاصة سورة نوح | 110 |
| خلاصة سورة ق | 93 | خلاصة سورة الجن | 110 |
| خلاصة سورة الذاريات | 94 | خلاصة سورة المزمل | 111 |
| خلاصة سورة الطور | 95 | خلاصة سورة المدثر | 112 |
| خلاصة سورة النجم | 96 | خلاصة سورة القيامة | 112 |
| خلاصة سورة القمر | 97 | خلاصة سورة الدهر | 113 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| خلاصة سورة المرسلات | 114 | خلاصة سورة العلق | 126 |
| خلاصة سورة النبأ | 114 | خلاصة سورة القدر | 126 |
| خلاصة سورة النازعات | 115 | خلاصة سورة البينة | 127 |
| خلاصة سورة عبس | 116 | خلاصة سورة الزلزال | 127 |
| خلاصة سورة التكوير | 116 | خلاصة سورة العاديات | 128 |
| خلاصة سورة الانفطار | 117 | خلاصه سورة القارعة | 128 |
| خلاصة سورة المطففين | 118 | خلاصه سورة التكاثر | 129 |
| خلاصة سورة الانشقاق | 118 | خلاصه سورة العصر | 129 |
| خلاصة سورة البروج | 119 | خلاصة سورة الهمزة | 130 |
| خلاصة سورة الطارق | 120 | خلاصة سورة الفيل | 130 |
| خلاصة سورة الاعلىٰ | 120 | خلاصة سورة قريش | 131 |
| خلاصة سورة الغاشية | 121 | خلاصة سورة الماعون | 131 |
| خلاصة سورة الفجر | 121 | خلاصة سورة الكوثر | 132 |
| خلاصة سورة البلد | 122 | خلاصة سورة الكافرون | 132 |
| خلاصة سورة الشمس | 123 | خلاصة سورة النصر | 133 |
| خلاصة سورة الليل | 123 | خلاصة سورة اللهب | 133 |
| خلاصة سورة الضحىٰ | 124 | خلاصة سورة الاخلاص | 134 |
| خلاصة سورة الانشراح | 124 | خلاصة سورة الفلق | 134 |
| خلاصة سورة التين | 125 | خلاصة سورة الناس | 135 |

# مقدمه، مختصر اصول تفسیر

## (دتفسیریوځوضروری اصطلاحات)

**دعوی یاموضوع:** دیوسورت هغه مرکزی بنیادی اواهمه مسئله اواهم مضمون چه هغه دټول سورت دپاره په منزله دمحور وی اودسورت باقی ټول مضامین دهغه بنیادی اومرکزی مضمون نه چاپیره گردش کوی یعنی دهغے د اثبات دپاره ممد اومعاون وی۔

**تنویر:** کله کله سورت کښے دبیان شوے دعوے یامسئلے دیو اړخ دډیروضاحت دپاره اوپه هغے باندے نوره رنړا اچولودپاره یاد یوے دعوے اومسئلے متعلق دیوے شبهے دزائله کولودپاره چه کوم کلام ذکرکولے شی هغے کلام ته تنویروائی۔

**دلیل:** دثبوت په طورهغه بیان چه هغے سره دعویٰ ثابتولے شی.

**دلیل عقلی :** هغه دلیل چه دهغے تعلق دعقل سره وی یعنی دعقل مطابق وی معمولی غوروفکرسره ئے عقل تسلیموی اومنی ئے۔

**دلیل نقلی :** هغه دلیل چه دتیرے شوے زمانے دیو نبی ،ولی یایو الٰهی کتاب نه ددعوے یامسئلے دثبوت دپاره نقل شی۔

**دلیل وحی:** هغه دلیل او خبره د الله، چه دهغے نسبت الله تعالی ته شوے وی مثلاً چه دامسئله او خبره الله وحی کړے ده اودا دالله حکم دے پیغمبرلره ددے دپریخودلواختیارنشته۔

**تخویف (ترهیب) :** ویرول یعنی دالله داحکاماتو په ځائے کولو او پوره کولوپه سلسله کښے دالله نه د ویرے بیان یعنی چه دالله نه اُویریږئ اودالله تعالی احکامات پوره کړئ بیا داتخویف په دوه قسمه دے:

(۱) **تخویف دنیوی:** زیربحث دعوٰی اومسئله نه منونکو ته ددنیادعذاب ویره ورکول اوبیانول.

(۲) **تخویف اخروی:** زیربحث دعوٰی اومسئله نه منونکو ته داخرت دعذاب نه ویره ورکول اوبیانول.

**بشارت دنیوی:** منونکوته ددنیادخوشحالئ اوکامیابئ او د نعمتونو زیرے اوخوشخبری ورکول اوبیانول۔

**بشارت اُخروی :** منونکوته داخرت دخوشحالئ اونعمتونو زیرے اوخوشخبری ورکول اوبیانول۔

**تسلی :** حق پرستو ته دمخالفینو دطرف نه میلاو شوی تکلیف اوتکذیب باندے دصبرکولو تلقین کول ددے دپاره چه دهغوی دزړه نه غم لرے شی یاکم شی اوچه دهغوی حوصله افزائی اوشی۔

**ترغیب :** دیوښه کارکولوته دخلقوشوق راپورته کول ۔ او دهغے کار فائدے او ثوابونه ذکر کول.

**تشجیع :** په یوښه اونیك کارباندے راتیزول او دهغے دپاره دبهادرئ اوحوصله مندئ پیداکولوبیان کول۔

**تزهیدمن الدنیا:** ددنیانه دبے رغبتئ بیان اوددنیاپه مینه کښے دورننوتلو نه دبچ کیدلو ترغیب ورکول۔

**زجر:** دمنکرینوپه ناروا عمل اوخبرے اوبےځایه اونامعقوله مطالباتو باندے دعذاب خبردارے اورټنه ورکول اوهغوی په یو نامناسبه خبره باندے رټل۔

**تنبیه :** دانبیاء کراموعلیهم السلام اومومنانونه دخلاف اولٰی کارپه صادریدلو باندے هغوی ته تنبیه ورکول چه داکارتاسو لره نه وو کول پکار۔

**اُمورانتظامیه:** (انتظامی امور) هغه احکامات اوقوانین (اصول)چه په هغے باندے عمل کولو سره د مسلمانانو په خپل مینځ کښے اتفاق اواتحادراځی اودهغوی معاشره پرے درستیږی اوجماعت ئے پرے منظم کیږی٠ لکه دقصاص قانون، حدود، دنکاح، طلاق، رضاعت، وصیت، وراثت وغیره احکامات شو۔

**اُمورمصلحه :** هغه څیزونه چه دهغے سره حالات سم شی هغے ته امورمصلحه وائی داپه درے قسمه دی:

(۱) **امورمصلحه دپاره دمنکرینو:** اکثر مالداره خلق دمال دولت په نشه کښې دتوحید یادبلے عقیدے اودحق نه انکارکوی نودداسے خلقو داصلاح دپاره قرآن مجیدفرمائی چه:

- ددنیاپه محبت کښې غلو کول ددنیوی عذاب پیش خیمه ده۔
- ددنیامال اودولت سپك (حقیر) ناپائیدار اوفانی دے۔
- ددنیاسره داسے محبت د اخروی عذاب پیش خیمه ده۔

لکه سورة الکهف ۳۲نه ترد ۴۹ پورے،[ایت ۳۳، ٤٤ کښې اول مضمون اوایت ٤٥ کښې دویم مضمون اوپه ایت ٤٧نه تر ٤٩ پورے دریم مضمون ذکر دے]

(۲) **امورمصلحه دپاره دمومنانو:** دحق منونکودپاره دا ضروری ده چه په حق باندے کلك پاتے شی اود امورانتظامیه باره کښې بیان شوی احکاماتو مطابق عمل اوکړی چه دحق پرستو جماعت منظم اومتحدشی خوددے احکاماتو پابندی کول گران کاردےددے وجه نه داحکاماتو سره څه امور ذکر کیږی چه هغه داستقامت او عمل صالح دپاره ممد اومعاون شی اوچه هغے سره دباطن اصلاح اوشی اودحق پرستو جماعت دګران نه ګران حکم باندے عمل کولوته تیارشی لکه صوم اوصلوٰة ،حج اوزکوٰة امورمصلحه للمؤمنین دی مثال لکه سورة البقرة ۲۳۸۔ [حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى وَ قُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ]

(۳) **امورمصلحه مدافعه عذاب (دعذاب نه بچ کونکی امور):** ددنیوی اواخروی عذاب نه بچ کیدو اودنجات دپاره الله تعالی د دریوخبرو حکم کوی

- دشرك نه ځان بچ اوساتئ۔
- دالله په بندګانوظلم اوزیاتئ مه کوئ۔
- دالله بندګانوسره ښه سلوك اوکړئ۔

لکه سورة بنی اسرائیل ۲۳، ۳۱،[ایت ۲۳ کښې اوله اودریمه اوایت ۳۱کښې دویمه خبره ذکرده]

**ادخال الهی**: دیوواقعے یامضمون دبیان په مینځ مینځ کښے دالله خپل ارشادذکر کول چه اګرچه هغه دهغے واقعے اومضمون حصه خونه وی لیکن دهغے سره متعلق ضرور وی لکه چه عام کتابونو کښے ورته جمله معترضه وائی.

**براعۃ الاستهلال** : په تمهیدکښے داسے عبارت او الفاظ ذکر کول چه د راتلونکی مقصدسره مناسب وی اودهغے په ضروری امورواندے رنړا واچوی ـ

**ادّماج ( ادْماج،اندماج )**: دیومثال یادیوے واقعے مقصودی حصه صراحةً ذګرکول اوغیرمقصودی حصه حذف کول ځکه چه هغه په معمولی غور او فکر سره معلومیږی ،لکه سورۃ البقرۃ ایت ۱۷، کښے استوقدنارا نه پس هنا رجال قاعدون محذوف دے ځکه چه بنورهم کښے دجمع ضمیر پرے دلالت کوی ـ

**اعادۂ برائے بعدعهد**: یومضمون شروع وی خو دهغے نتیجه اوحکم ذکر شوے نه وی بلکه دحکم اونتیجے نه مخکښ دهغه مضمون څه نورمتعلقات ذکرشی ، بیاد نتیجے اودحکم ذکرکولو دپاره هم هغه مضمون بیاپه دویم ځل ذکرشی چه دهغه اول مضمون سره مربوط شی دیته اعاده برائے بعدعهد وائی۰ لکه سورۃ البقره ۳٦ کښے دهبوط حکم شوے دے اوایت ۳۸ کښے بیاداحکم ذکردے ۰ داځکه چه په مینځ کښے د آدم اوحوا علیهما السلام دمعافۍ اعلان ذکرشو نودهبوط حکم کښے لږ تاخیر راغے نوځکه ئے دوباره ذکر کړو.

**د ګمراهۍ درجات** : دګمراهۍ څلور درجے دی:

**(۱) ریب اوشك**: دا دګمراهۍ دپاره بنیاد اوپیش خیمه وی دیوکس په زړه کښے او ل دتوحید اودحق دین په باره کښے شکوك اوشبهات پیداشی چه هغه ئے دصراط مستقیم نه اړوی ـ

(۲ ) **ضلالت ( گمراهی )**: چه ددغه شکوك اوشبهاتو ازاله اونشی اوداپه زړه کښې پاتې شی نوانسان گمراه کیږی اودحق لار پریږدی اودباطل لاراختیارکړی ـ
( ۳ ) **جدال**: دضلالت نه پس دجدال درجه ده دگمراهۍ نه پس گمراه انسان خپلوباطلونظریواوغلطو عقیدو لره حق اوصحیح ثابتولودپاره داهل حق سره جگړه، مجادله اومنازعه شروع کړی اودضداو دعناددوجې نه دحق هرخبره ردکوی ـ
(٤) **ختم القلب** : دگمراهۍ نه پس چه کله دحق په مقابله کښې جنگ جگړه شروع کړی اونقلی اوعقلی دلیلونو سره دحق واضح اوثابت کیدوباوجود هم حق نه منی اوپه ضداوعنادټینگ شی نودده په زړه باندې مهرلگی یعنی اوس چه دده په زړه کښےکوم کفر اونفاق اوشرك دے هغه ئے د زړه نه نه اووځی اوکوم څیز چه ددۀ د زړه نه بهر دے (ایمان اویقین توحیداواخلاص) هغه ئے زړه ته نه ورننوځی۰ چه کله یوکس دے درجے ته ورسی نوبیادهغه په سمه لارراتلل ممکن نه وی، دهدایت توفیق ترینه سلب شی۰ ددے درجے نه شیخ المشائخ حضرت صاحب په مهرجباریت سره تعبیر کوی ـ قرآن دا درجے کله ځانله ذکرکوی اوکله یوځائے لکه سورة مومن ۳٤، ۳۵ ـ
وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوْسُفُ مِنْ قَبْلُ بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا زِلْتُمْ فِيْ شَكٍّ مِّمَّا جَآءَكُمْ بِهٖ حَتّٰۤى اِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِهٖ رَسُوْلًا كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُّرْتَابُ ۝۳۴ اِلَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْۤ اٰيٰتِ اللّٰهِ بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ وَعِنْدَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ۝۳۵
**ربط القلب او دهغے درجات**: ربط القلب دختم القلب ضددے. کله چه یو انسان دهدایت لاره اختیارکړی اودالله اود رسول اطاعت کښے هغه راسخ اوکلك شئ نوالله تعالی دده زړه ته محکم یقین او په ایمان داستقامت دولت ورنصیب کړی ۰ چه دهغے په نتیجه کښے داکس

دګمراهۍ نه محفوظ پاتے شی ـ د زړه دغه کیفیت ته ربط القلب وائی.
دا ربط القلب دلاندینی دریو درجاتو نه پس حاصلیږی ـ
(۱) **انابت:** دالله تعالی اودهغه کتاب اودهغه رسو ل طرف ته رجوع کول ، ددوی سره محبت لرل اوضدوعناد پریخودل اودهدایت دلارے تلاش کول لکه سورة المؤمن:۱۳، الشوریٰ :۱۳، ق:۳۷ ـ
(۲) **هدایت:** (نیغه لارموندل ) دادانابت اوالله ته درجوع نه پس حاصلیږی ـ
(۳) **اسقامت:** (په هدایت باندے پوخوالے اوثابت قدمی) دهدایت نه پس داستقامت درجه ده چه کله یوانسان دالله تعالی دهدایت مطابق په نیغه لار روان شی نوالله ورته استقامت ورکوی لکه حم السجده:۳۰ ـ
(٤) **ربط القلب:** دهدایت په لار داستقامت نه پس د ربط القلب درجه حاصلیږی دا درجه دایمان او یقین په ټولو کښے اوچته درجه ده ، چاته چه دادرجه حاصله شی نوددنیاهیڅ یوطاقت هغه لره دایمان اواسلام نه اړولے نه شی ۰ البته دا درجه دالله تعالی دهدایت اود رسو ل الله صلی الله علیه وسلم دکامل اتباع نه بغیر هیڅ کله هم نه شی حاصلیدےـ
دا درجه اصحاب کهف اوصحابه کرامو رضی الله عنهم ته حاصله وه لکه سورة کهف: ۱۳، ١٤ سورة الحجرات ایت: ۷، ۸ ـ
نَحۡنُ نَقُصُّ عَلَيۡكَ نَبَأَهُم بِٱلۡحَقِّۚ إِنَّهُمۡ فِتۡيَةٌ ءَامَنُواْ بِرَبِّهِمۡ وَزِدۡنَٰهُمۡ هُدٗى ۝١٣ وَرَبَطۡنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ إِذۡ قَامُواْ فَقَالُواْ رَبُّنَا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ لَن نَّدۡعُوَاْ مِن دُونِهِۦٓ إِلَٰهٗاۖ لَّقَدۡ قُلۡنَآ إِذٗا شَطَطًا ۝١٤ [کهف ۱۳، ١٤]

وَاعْلَمُوا أَنَّ فِيكُمْ رَسُولَ اللَّهِ لَوْ يُطِيعُكُمْ فِي كَثِيرٍ مِّنَ الْأَمْرِ لَعَنِتُّمْ وَلَكِنَّ اللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيمَانَ وَزَيَّنَهُ فِي قُلُوبِكُمْ وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ أُولَئِكَ هُمُ الرَّاشِدُونَ فَضْلًا مِّنَ اللَّهِ وَنِعْمَةً وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ[الحجرات : ۷، ۸]
دارنګ حدیث، ﴿اِعۡمَلُوۡا مَا شِئۡتُمۡ فَقَدۡ غَفَرۡتُ لَکُمۡ﴾ کښے هم دے درجے ته اشاره ده یعنی اوس تاسو دګناهونوطرف ته نشی تللے ۰

**ربط** : دیوسورت یادیوایت دمضمون دمخکښ سورت یاایت سره جوړخ، تړون اومناسبت بیانول ـ

## مختصر اصول تفسیرالقرآن

**اصول تفسیر:** دقرآن داصول تفسیر نه مراد هغه اصول اوقوانین اواصطلاحات دی چه دهغے په رنړااومددسره دقرآن پاك وضاحت اوتشریح باندے په آسانتیاسره پوهه حاصله کړے شی ـ

## د تعارف قران متعلق پنځه خبرے

### (1) اسمآءِ القرآن:

دیوکتاب تعارف اوپیژندګلودهغے دنوم نه کیږی ځکه چه دکتاب نوم دهغے دموضوع عکاسی کوی ښنګه چه هرمصنف دخپل تصنیف دپاره نوم تجویزکوی دغه شان الله رب العزت هم دخپل کتاب مختلف نومونه ایخودلی دی چه هغے سره د قرآن پاك دمرکزی موضوع وضاحت کیږی ،بعضے علماؤ اسمآء القرآن ډیرزیات ذکر کړی دی لیکن حقیقت کښے اسمآء القرآن یعنی اسمآء علَم پنځه دی اوباقی نوراسمآء صفتی دی اوهغه پنځه دادی، القرآن ،الفرقان ،الذکر ،الکتاب ،التنزیل، اوبیاپه دیکښے قرآن اوکتاب ډیرمشهوردی . [ماخوذ ازعلوم القرآن ]

بیااسمآء صفتی دقرآن هم ډیرزیات دی اودیوځیززیات نومونه اوصفتونه دهغے په عظمت اوشرافت دلالت کوی ـ

الاتقان فی علوم القرآن کښے حافظ جلال الدین سیوطی رحمه الله ٥٥ ،[پنځه پنځوس] اوشیخ القرآن مولانامحمدطاهر رحمه الله په العرفان في اصول القرآن کښے تقریبًا٦٢ [دوشپیتۀ] اوعلامه محمدحسین شاه نیلوی رحمه الله په مقدمه تسهیل کښے اوشیخ عبدالسلام رستمی رحمه الله په تنشیط الاذهان کښے ٧٥ [پنځه اویا] نومونه ذکرکړی دی. دارنګ نورو علماؤ هم مختلف تعدادذکرکړے دے چه په حذف د تکرار راجمع کړے شی نوتقریبًا ١٢٠[یوسل او شل] نومونه جوړیږی چه ځنے دهغے نه دادی:

(۱)القرآن [البقرة:۱۸۵]
(۲)الفرقان[البقرة:۱۸۵] شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِیٓ اُنْزِلَ فِیْهِ الْقُرْاٰنُ هُدًی لِّلنَّاسِ وَبَیِّنٰتٍ مِّنَ الْهُدٰی وَالْفُرْقَانِ
(۳)البیان[العمران: ۱۳۸]هٰذَا بَیَانٌ لِّلنَّاسِ
(٤)التبیان[النحل:۸۹]وَنَزَّلْنَا عَلَیْكَ الْكِتَابَ تِبْیَانًا لِّكُلِّ شَیْءٍ وَهُدًی وَرَحْمَةً وَبُشْرٰی لِلْمُسْلِمِیْنَ(۸۹)
(٥)الموعظة (٦) الشفاء (٧) الهدیٰ (٨) الرحمة [یونس: ٥٧]
یٰاَیُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُمْ مَّوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِی الصُّدُوْرِ وَهُدًی وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِیْنَ(٥٧)
(۹)الروح[الشوریٰ:٥۲] وَكَذٰلِكَ اَوْحَیْنَآ اِلَیْكَ رُوْحًا مِّنْ اَمْرِنَا
(۱۰)الذکر[الحجر:۹]اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ
(۱۱)کلام الله[التوبة: ٦] وَاِنْ اَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِیْنَ اسْتَجَارَكَ فَاَجِرْهُ حَتّٰی یَسْمَعَ كَلٰمَ اللّٰهِ
(۱۲)حبل اللّٰه[ال عمران: ۱۰۳] وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِیْعًا وَّلَا تَفَرَّقُوْا
(۱۳)سبیل الله (١٤) الصراط السمتقیم [انعام:۱٥۳] وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِیْ مُسْتَقِیْمًا فَاتَّبِعُوْهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِیْلِهٖ

## (2)تعریف القرآن:

دیوکتاب دفهم دپاره دهغے دتعریف ضرورت وی، ددے دپاره چه دهغه کتاب حیثیت،موضوع اوغرض اوغایت معلوم شی۰ دغه شان دقرآن پاك هم تعریف شته چه هغےسره ددے عظیم الشان کتاب منفرداوامتیازی شان معلومیږی ـ

## لغوی تحقیق:

○ په لغت کښے دلفظ دقران څه معنٰی ده اودڅه نه ماخوذ دے نوپه دے کښے ګنړ اقوال دی. دیکښے اختلاف دے چه دا لفظ مهموز دے اوکه غیرمهموز، چه غیرمهموزشی ـ

(۱) نوبعضے علماء فرمائی چه دااسم علم دکتاب الله دے،غیرمشق دے، خاص دے کلام الهی پورے په شان دتورات او د انجیل ،داقول دامام شافعی دے ـ

(۲) بعضے علماء فرمائی چه دامشق دے د''قِرَاءَتُ الشَّیِ بِالشَّیءِ'' نه (په معنٰی دیوځائے کول یوځیزدبل سره، متصل کول) قرآن ته هم قرآن ځکه وائی چه ددے سورتونه او ایتونه هم دیوبل سره متصل اومربوط دی نوقرآن بمعنٰی مقرون شو۔

(۳) امام فراء فرمائی چه دا ماخوذ دے دقرائن نه (جمع قرینه) ځکه چه دقرآن ایتونه دیوبل تصدیق کوی دیوبل سره مشابه اودیوبل دپاره قرائن دی۔

اوبعضے علماء فرمائی چه لفظ دقران مهموز دی۔

(۱) خوبیابعضے فرمائی چه دامصدردقراءت دے (لکه غفران ) په معنٰی د مَقْروءٌ (لوستلے شوے)۔

(۲) او بعضے فرمائی چه وصف دے په وزن دفُعلان مشتق دے قَرءٌ په معنٰی دجمع۔ دقرآن ایتونه اوسورتونه هم دیوبل سره جمع اوضم دی۔

(۳) امام قطرب فرمائی چه قرآن ته قرآن ځکه وائی چه قاری دا دخپلې خُلے نه ظاهر وی، اوبیانوی لکه عرب وائی: ''مَا قَرَأَتِ النَّاقَةُ سَلاًقَطُّ'' یعنی اوښے هډو بچے زیګولے نه دے یعنی ظاهرکړے نه دے۔

امام راغب فرمائی چه د وحی هرجمع ته هم قرآن نه وائی اونه دهر کلام جمع ته قرآن وائی بلکه قرآن ته قرآن ځکه وائی چه قرآن دکتب سابقو مُنزلو ثمرات راجمع کړی دی۔

**قول فیصل** : امام سیوطی رحمه الله فرمائی چه ځماپه نزدمختارقول دامام شافعی قول دے (اتقان ) اوعندالمجمهور قرآن مصدرد قَرَاءَ یقْرَءُ دے په معنٰی دجمع اولوستلو لکه غفران

[انظر علوم القرآن للشیخ تقی عثمانی وللشیخ گوهررحمان]

په دے معنٰی دقران وجه تسمیه داده چه قرآن ته قرآن ځکه وائی چه (۱)دا دایتونو اوسورتونومجموعه ده (۲) دانبیاء سابقینو د کتابونو او صحائفو دتعلیماتو عطر اوخلاصه ده (۳) قصص، واقعات، حالات او

حوادث، اوامر او نواهی پکښې په مناسب اندازسره جمع شوی دی (٤)دعلومو اومعارفو بهترینه مجموعه ده

**فائده مفیده:** دقرآن دانوم (قرآن) دکفاروتردیدکښې ایخودلے شوے دے، هغوی به وئیل چه ﴿لَاتَسْمَعُوْالِهٰذَا الْقُرْآنِ وَالْغَوْافِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُوْنَ﴾ یعنی چه قرآن ته غوږمه ایږدئ اوشورجوړکړئ چه دقرآن اثر ختم شی ۰نوالله رب العزت خپل کتاب لره نوم قرآن کیخودلو اشاره وه چه داکتاب دختمیدو نه دے بلکه داخو دلوستلو کتاب دے ترقیامته پورے به لوستلے کیږی [علوم القرآن للشیخ تقی عثمانی] داخولغوی تحقیق وو۰)

## اصطلاحی تعریف:

اصطلاحی اوفنی تعریف علماء داسے کوی:

﴿اَلْقُرْآنُ كَلَامُ اللهِ الْعَرَبِيُّ اَلْمُنَزَّلُ عَلٰى مُحَمَّدٍ ﷺ بِوَاسِطَةِ جِبْرَيِلِ اَلْمُتَعَبَّدُ بِتَلَاوَتِهِ الْمَكْتُوْبُ فِي الْمَصَاحِفِ اَلْمَنْقُوْلُ اِلَيْنَا نَقْلًا مُتَوَاتِرًا بِلَاشُبْهَةٍ﴾

## دقرآن تعریف دقرآن نه:

دقرآن تعریف دقرآن په ژبه:

﴿وَاِنَّهٗ لَتَنْزِيْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ٥ نَزَلَ بِهِ الرُّوْحُ الْاَمِيْنُ ٥ عَلٰى قَلْبِكَ لِتَكُوْنَ مِنَ الْمُنْذِرِيْنَ ٥ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِيْنٍ٥﴾ [سورة الشعراء ایت ۱۹۲تا۱۹۵]

دغه شان سورة البقره:۲ ،سورة الزخرف:۳، سورةمؤمن:۲ ، سورة السجده :۲ ،سورة الکهف: ۱،سورة محمد: ۲،سورة النحل:۱۰۲ددغے ایتونونه دقرآن تعریف په عربئ ژبه کښے داسے جوړیږی:

﴿اَلْقُرْاٰنُ هُوَالْكِتَابُ الْمُعْجِزُ الْمُنَزَّلُ عَلٰى قَلْبِ مُحَمَّدٍ بِوَاسِطَةِ جِبْرَيِلِ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِيْنٍ﴾

## (3) حکمت نزول قران:

(یعنی دقرآن دنزول غرض څه دے اوفوائد مُرَتَّبَه دنزولِ قرآن څه دی ؟ چونکه غرض هغه فائدے ته وائی چه دهغے رجع متکلم ته

کیږی اوالله تعالی خوداستفادے نه پاك ذا ت دے ۱۰وغاية، انتهاء ته وائی اودالله دافعالو اوحکمتونوانتهاء نشته نواګرچه عام کتابونو کښے دکتاب غرض او غایت ذکرکیږی،خودالله د کتاب باره کښے ادب دادے چه دغرض په ځائے حکمتِ نزول اووئیلے شی ۰ الله رب العزت حکیم ذات دے اوقرآن دالله کتاب دے قرآن ته هم حکیم وائی یعنی دحکمتونه ډك کتاب دے اوددے په نزول کښے ګنړحکمتونه دی ۔

الله تعالی داحکمتونه پخپله په قرآن کښے په مختلف اندازونوسره ذکرکړی دی، کله په لام سره، کله د مفعول له په صورت اوکله په صورت دحال سره دهغے حکمتونونه څه حکمتونه دادی:

(۱) للهداية خصوصاًوعموماً: قرآن د عام او خاص هدايت دپاره نازل شوے دے [سورة البقرة:۲، ۱۸۵] شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِیٓ اُنْزِلَ فِیْهِ الْقُرْاٰنُ هُدًی لِّلنَّاسِ .

(۲) للشفاء والرحمة والموعظة: دشفاء (علاج)، رحمت اوموعظه (وعظ) دپاره [یونس:۵۷]یٰٓاَیُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَتْکُمْ مَّوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّکُمْ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِی الصُّدُوْرِ

(۳) للتدبروالتذکر: دتدبراو تذکر(غوروفکر ﭘکښے کول او پند او نصیحت ترے اغستل) دپاره [سوره ص ایت:۲۹]

کِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَیْكَ مُبٰرَكٌ لِّیَدَّبَّرُوْٓا اٰیٰتِهٖ وَلِیَتَذَکَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ

(٤) للتبليغ: دتبليغ دپاره نازل شوے دے [سورة ابراهيم:۵۲] هٰذَا بَلٰغٌ لِّلنَّاسِ .

(۵) للتحکیم: دفیصلے کولودپاره[سورۂ نساء: ۱۰۵]

اِنَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَیْكَ الْکِتٰبَ بِالْحَقِّ لِتَحْکُمَ بَیْنَ النَّاسِ بِمَآ اَرٰىكَ اللّٰهُ

(٦) لاٴخراج الناس من الظلمٰت الی النور: خلق دکفراوشرك اودمعصيت دتيارونه دتوحيداوسنت اودنيکئ رنړاته راويستلو دپاره نازل شوے دے [سورة ابراهيم:۱]

الٓرٰ قف کِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَیْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَی النُّوْرِ

( ۷ ) للیقین بالاخرة : اخرت باندے د یقین جوړلو دپاره [سورة رعد:۳]
يُدَبِّرُ الْاَمْرَ يُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ بِلِقَآءِ رَبِّكُمْ تُوْقِنُوْنَ۝۲

( ۸ ) للتثبت : په دین او ایمان باندی داستقامت دپاره [سورة النحل: ۱۰۲]
قُلْ نَزَّلَهٗ رُوْحُ الْقُدُسِ مِنْ رَّبِّكَ بِالْحَقِّ لِيُثَبِّتَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهُدًى وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ

## (۴)موضوع یادعوی دقرآن:

(موضوع ته ترجمة الباب یاترجمة القرآ ن یا مقصد هم وئیلے شی):

قرآن کښے اګرچه ډیرزیات مضامین ،مسائل اواحکام ذکردی خوټولوکښے اهم اوبنیادی مسئله اومضمون چه دهغے دپاره قرآن نازل شوے دے نو په دے کښے د علماؤمختلف اقوال دی. بعضے علماء وائی چه د قران موضوع انسان دے او امام انقلاب مولانا عبید الله سندهی رحمه الله فرمائی چه د قران موضوع او دعوی جهاد او انقلاب دے خو رئیس المفسرین حضرت مولانا حسین علی الوانی رحمه الله فرمائی چه د قران دعوی او مقصد توحید دے ځکه چه قرآن دټولو علومو اومعارفو اوموضوعاتو منبع اوسرچمشه ده نوهغه توحیددے اوباقی ټول مضامین اومسائل دتوحیدتوابع اوممدات دی اودشجرِ توحید شاخونه دی۰

شیخ الاسلام ابن قیم فرمائی :

﴿بَلْ نَقُوْلُ قَوْلًا كُلِيًا اِنَّ كُلَّ اٰيَةٍ فِي الْقُرْآنِ فَهِيَ مُتَضَمِّنَةٌ لِلتَّوْحِيدِ شَاهِدَةٌ بِهِ دَاعِيَةٌ اِلَيْهِ فَأَنَّ الْقُرْآنَ اِمَّا خَبَرٌ عَنِ اللّٰهِ وَأَسْمَاءِهِ وَصِفَاتِهِ وَاَفْعَالِهِ فَهُوَ التَّوْحِيْدُ الْعِلْمِيُ الْخَبَرِيُ وَاِمَّا دَعْوَةٌ اِلَى عِبَادَتِهِ وَحْدَهُ لَاشَرِيكَ لَهُ وَخَلْعِ كُلِّ مَايُعْبَدُ مِنْ دُوْنِهِ فَهُوَالتَّوْحِيدُ الْأَرَادِيُ اَلطَّلَبِيُ وَاِمَّا اَمْرٌ وَنَهْيٌ وَاِلْزَامٌ بِطَاعَتِهِ فِي نَهْيِهِ وَاَمْرِهِ فَهِيَ حُقُوْقُ التَّوْحِيدِ وَمُكَمِّلَاتُهُ وَاِمَّا خَبَرٌ عَنْ كَرَامَةِ اللّٰهِ لِاَهْلِ تَوْحِيدِهِ وَطَاعَتِهِ وَمَافَعَلَ بِهِمْ فِيْ الدُّنْيَا وَمَايُكْرِمُهُمْ بِهِ فِي الْاٰخِرَةِ فَهُوَ جَزَاءُ تَوْحِيدِهِ وَاِمَّا خَبَرٌ عَنْ اَهْلِ الشِّرْكِ وَمَا فَعَلَ بِهِمْ فِي الدُّنْيا مِنَ النَّكَالِ وَمَايَحِلُّ بِهِمْ فِي الْعُقْبٰى مِنَ الْعَذَابِ فَهُوَ خَبَرٌ عَنْ مَّنْ خَرَجَ عَنْ حُكْمِ التَّوْحِيدِ۔ فَالْقُرْآنُ كُلُّهُ فِي التَّوْحِيدِ وَحُقُوْقِهِ وَجَزَاءِهِ وَفِي شَانِ الشِّرْكِ وَاَهْلِهِ وَجَزَآءِهِمْ﴾

[مدارج السالکین فی منازل ایاك نعبد وایاك نستعین]

ترجمه : بلکه مونږیوکلي (جامع) خبره کوو چه دقرآن هر آیت توحیدلره متضمن دے، په دے ګواه دے ،ددے طرف ته دعوت ورکونکے دے. (ددے تفصیل کولوسره فرمائی) بس قرآن یاخوخبرورکوی دالله تعالی نه اودهغه داسماؤ ، صفاتو اودافعالونه نو داتوحید علمی خبری دے ۰ اویاقرآن دنورو معبودانونه سیوا دالله وحده لاشریك له دعبادت دعوت ورکوی نوداتوحیدارادی طلبی دے ۰

اویاقرآن دامراونهی بیان کوی اوامراونهی کښے د الله تعالی اطاعت لره لازموی ،نودادتوحید حقوق اومکملات دتوحیددی اویاخبرورکوی داهل توحیداوطاعت ، د دنیاوی اکرام او اعزاز او د اخروی اعزاز د الله دطرف نه نو داجزاء دتوحیدده ،اویاخبردے داهل شرك او په هغوی چه کوم عذاب راغے په دنیا کښے ، او هغوی ته به چه آخرت کښے کوم عذاب ورکولے شی دهغے خبر دے ،نودا اطلاع ده دهغه خلقو چه دتوحیدنه وتلی دی ۰

بس ټول قرآن دتوحید اودحقوقو دتوحیداودبدلے داهل توحید اودشرك اوداهل شرك دمذمت اوسزا په باره کښے دے

○ دارنګه ملاعلی قاری حنفی رحمه الله فرمائی:

﴿فَالْقُرْآنُ كُلُّه فِي التَّوْحِيدِ وَحُقُوْقُ أَهْلِهِ وَثَنَاءِهِمْ وَفِي شَانِ ذَمِّ الشِّرْكِ وَعُقُوْقِ أَهْلِهِ وَجَزَاءِهِمْ﴾ [شرح فقه اکبر: ۱۰]

ترجمه: بس ټول قرآن دتوحید اوداهل توحیددحقوقواوثناء اومذمت دشرك او داهل شرك دنافرمانئ اوسزابیان کوی ۰

○ اومرقات شرح دمشکوٰة کښے لیکی :

﴿إِنَّ الْقُرْآنَ مَا أُنْزِلَ إِلَّا لِتَقْرِيْرِ التَّوْحِيْدِ (۱۶۸/۲)﴾

"بے شك قرآن خودتوحیدداثبات او دبیان دپاره نازل شوے دے"

غرض داچه توحیددقرآن اصل مقصد،دعویٰ بلکه ټول قرآن توحید توحیددے چونکه دعویٰ وائی هم دیته چه هغه دټول قرآن په

هرهرآیت کښې خوره شوې وی لکه دیو اونې تخم، جرړې او ویخ چه دهغې اثر په ټوله اونه یعنی ښاخونو ،پاڼړو اومیوؤ کښې وی چونکه ددې ټولوددې جرړې او ویخ سره بنیادی تعلق وی دغه رنګه توحیدهم دې

**دعوی دقرآن دقرآن نه :** (اوهمداخبره چه د قرآن دعویٰ توحیددې پخپله قرآن هم بیان کړی ده )

علامه زرکشی په البرهان کښې دحافظ ابوطاهر سلفی قول نقل کړې دې چه بغدادکښې چادابومکرم نحوی نه تپوس اوکړو. ﴿كُلُّ كِتَابٍ لَہٗ تَرْجَمَةٌ فَمَاتَرْجَمَةُ كِتَابِ اللّٰہِ﴾ (چه دهر کتاب څه نه څه ترجمه (دعویٰ) وی نودالله تعالی دکتاب څه ترجمه (دعویٰ) ده )

﴿فقال : هٰذَا بَلَاغٌ لِلنَّاسِ وَلِيُنْذَرُوْا بِہٖ وَلِيَعْلَمُوْا اَنَّمَاهُوَ اِلٰہٌ وَّاحِدٌ..........الخ [ابراهیم: ۵۲]

نو هغه جواب ورکړو چه دقرآن دعویٰ سورة ابراهیم ایت ۵۲، **هذابلاغ للناس---الخ** یعنی توحیددې ۰

الغرض توحیددقرآن موضوع ده او دا خبره په نورو سورتونو کښې هم ذکرده لکه:سورة انعام ایت ۱۰٦،انبیاء ۱۰۸،هودایت ۱،۲ ، هودایت ۱٤

## (5) تقسیم قرآن:

حضرت مولاناحسین علی الوانی رحمه الله فرمائی چه قرآن دغټو غټو مضمونونو اوعنواناتوپه اعتبار شلورحصې دې. داخبره امام رازی په تفسیرکبیرکښې او امام زرکشی په البرهان فی علوم القرآن کښې هم ذکر کړې ده او د قران دا هره حصه په لفظ الحمدلله سره مُصَدَّر (شروع) ده ۰

**(۱) اوله حصه:** دسورة الفاتحة نه ترسورة المائده پوری داحصه په شپږو سورتونومشتمله ده. اوپه دیکښې په اعتبار د اغلب اواکثر دخالقیت مضمون بیان دې یعنی چه صرف الله تعالی دتمام کائناتوخالق دې.

( ۲ ) **دویمه حصه**: دسورة انعام نه تردسورة بنی اسرائیل پورے داحصه په دولسو سورتونومشتمله ده اوپه دے حصه کښے په اعتبارد ا غلب او اکثر دربوبیت بیان دے یعنی چه دتمام مخلوقاتواو کائناتو پالونکے صرف الله تعالی دے.

( ۳ ) **دریمه حصه**: دسورة الکهف نه تردسورة الاحزاب پورے، داحصه په شپاړس سورتونومشتمله ده په دیکښے په اعتبار د اغلب او اکثرمضمون دبرکاتو او انعاماتو بیان دے یعنی چه هرڅه کښے برکت اچونکے اوبرکت ورکونکے ذات صرف الله تعالی دے ۰

( ٤ ) **څلورمه حصه** : دسورة سباء نه تردسورة الناس پورے، داحصه په یونوی (۹۱) سورتونومشتمله ده اوپه دے حصه کښے په اعتبار د اغلب او اکثر دمالکیت اوقیامت بیان دے یعنی اختیاراوتصرف صرف دالله دے، دارنګ نفی دشفاعت قهریه اودقیامت د احوالو او اهوالو بیان دے پکښے ۰

**فائده**: اخری حصه چونکه په دوه اهمومضمونونومشتمله ده (مالکیت اوقیامت ) نوځکه په هغے کښے الحمدلله دوه ځل ذکر ده ۰(د سباء او د فاطرپه ابتداء کښے)

دقرآن دے تقسیم لره زمونږ شیخ علامه نیلوی صاحب رحمه الله منظوم هم بیان کړی دی۰

اے برادر یادر کھ۔۔۔تورات،،کے کل حصہ جات
پانچ ہیں خلق وخروج، گنتی،استثنا،قضات
اور قرآن مبین کے کل حصص بھی کرلو یاد
چار ہیں خلق وربوبیت،تبارک اور معاد
فاتحہ تا مائدہ تخلیق کا ہوگا بیان
پھر ربوبیت ہے اس کے بعد تا اسراء بیان
کہف سے احزاب تک ہوگا،، تبارک کا بیان
پھر سبا تا آخر قرآن "قیامت" کا بیان

# تعارف سُور قران

**(1)خلاصۂ سورقرآن:** دَتفسیرَپه دوران کښې په یو سورت باندې په آسانئ سره د پوهې حاصلولو دپاره دسورت دشروع کولونه مخکښ دمتعلقه سورت تعارف او خلاصه پیژندل ضروری دی۰ دهر سورت خلاصه تقریبًاپه پنځو (۵)امورو (خبرو) مشتمل وی

**(۱)دسورت مصحفی اونزولی ترتیب:** دمصحفی ترتیب نه مراد دَ سورتونوهغه ترتیب دے چه کوم مونږسره موجوده دقرآن په سورتونوکښې په مصحفی شکل کښې دے لکه اول سورة الفاتحة بیاسورة البقره بیاسورة العمران --الخ ۰

اودنزولی ترتیب نه مراد دَ سورتونوهغه ترتیب دے چه وحی ئے په تقریبًادرویشت (۲۳) کلونوکښې وخت په وخت دحالاتو واقعاتو او د حادثاتو په مناسبت نازل شوی وه لکه اول سورة العلق بیاسورة القلم بیاسورة المزمل بیاسورةالمدثربیاسورة ا لفاتحه ۰۰۰۰الخ۰

**( ۲ ) دسورت ربط :** دربط نه مراد دسورتونو په مینځ کښې دیوبل سره تعلق اومناسبت دے، چه زیر بحث (شروع ) سورت دمخکښ سورت سره څه تعلق اومناسبت لری ؟ مثلاً دسورة البقرة دمخکښ سورت یعنی سورة الفاتحه سره څه تعلق اومناسبت دے. یاسورة البقره دسورة الفاتحه نه پس دکوم مناسبت اوتعلق دوجې ذکر شوے دے (ایخودلی شوے دے )

**( ۳ ) دسورت امتیازات:** د امتیازاتو نه مراد هغه خصوصیات دی چه دهغې دوجې یوسورت دبل سورت نه ممتازشی یاهغه خبرے چه زیربحث سورت کښې وی اوبل کښې نه وی ۰

**( ٤ ) دسورت دعوی:** ددعویٰ نه مراد دیو سورت هغه مرکزی محور،عنوان، موضوع اوهغه مقصودی مسئله وی چه دهغې د اثبات دپاره متعلقه سورت نازل شوے وی اوباقی ټول سورت دهغه محورنه چاپیره گردش کوی .

**( ٥ ) دسورت تقسیم یاحاصل دسورت :** دسورت دتقسیم اوحاصل نه مراد دادے چه دا زیربحث سورت دمضمونونو په اعتبارپه څومره حصو (بابونو) باندے مشتمل دے ۰یعنی په لنډه طریقه دیوسورت مختصره نقشه اوخاکه پیش کولوته حاصل اوتقسیم دسورت وائی یعنی داسورت په کوم مضمونونومشتمل دے،حاصل دسورت ته محتویات السورة ،فزلکة السورة ،مااشتمل علیه السورة هم وائی ۰

**(٧ ) دقرآن مضامین:** قرآن اګر چه په ډیرو مسائلواو مضمونونو مشتمل دے خودغټوغټو مضمونونو اومسائلو په اعتبار زمونږ د مشائخو په نزد د قرآن اتۀ غټ اواهم مضمونونه دی چه هغے ته اصول مهمه هم وائی:

(١) اثبات التوحید ( ٢ ) اثبات الرسالة ( ٣ ) صدق الکتاب ( ٤ ) اثبات القیامة (٥ ) الجهاد فی سبیل الله (٦)الانفاق فی سبیل الله (٧) التنظیم والمنظمة ( ٨ ) الاداب، په دے کښے وړومبنی څلوروته مقاصد مهمه یاسوابق وائی ( مقاصداربعه ) او وروستنی څلوروته ممدات یالواحق وائی۰

**دعوی:** مخکښ ذکرشوی دی چه دعوٰی هغه مرکزی مسئلے اوموضوع ته وائی چه ټول سورت دهغے نه بحث کوی، دقرآن ددغه اتۀ مضمونونو نه کله یومضمون اوکله دوه یاګنړ مضمونونه په یوځائے دیوسورت دعویٰ جوړه کړے شی لکه دسورت فاتحے دعویٰ توحیددے اودسورة البقره دعویٰ څلورمضامین دی: [توحید،رسالت ،جهاد،انفاق]

**دلائل:** ددلائلونه مراد داسے ثبوتونه دی چه هغه قرآن، د مرکزی مضمون (موضوع) دثابتولو دپاره ذکرکوی. قرآن پاك عام طورڅلورقسمه دلائل ذکرکوی:

**( ١ ) دلیل عقلی:** هغه دلیل چه عقل ئے منی اوتسلیموی ئے بیا دلائل عقلیه په درے قسمه دی:

**(الف ) دليل عقلى محض** (ساده دليلِ عقلى ) لكه سورة النحل ايت نمبر۳ البقره ايت نمبر۲۲،۲۱

﴿يٓا أَيهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِى خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ الَّذِى جَعَلَ لَكُمُ الأَرْضَ فِرَاشًا وَالسَّمَاءَ بِنَاءً وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَكُمْ فَلا تَجْعَلُوا لِلَّهِ أَنْدَادًا وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ﴾

**(ب) دليل عقلى اعترافى:** هغه عقلى دليل چه خصم (مقابل) هم دهغے اعتراف كوى لكه ،سورت المؤمنون ٨٤، ٨٥ –

قُلْ لِّمَنِ الْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهَآ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ۝ سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ؕ قُلْ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ۝

سورة العنكبوت:٦١ لقمٰن ٢٥،زخرف ،٩

**(ج) دليل عقلى الزامى مسكت للخصم:** هغه دليل عقلى چه دخصم (مقابل ) مخكښ بيان شى نوهغه لاجواب اوچپ شى لكه سورة الانعام ايت نمبر٤٠، قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ اَوْ اَتَتْكُمُ السَّاعَةُ اَغَيْرَ اللّٰهِ تَدْعُوْنَ ۚ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ۝ الانعام ،٤٧ ،٦٣، ٦٤ ۰

**(٢ ) دليل نقلى:** هغه دليل چه دتيرشوو انبياء كرامو ، آسمانى، كتابونو،نيكانوخلقو اوپيريانو نه نقل وى لكه سورۀ الانبياء:٢٥، ٩٢، سورة بنى اسرائيل :٢ ، وَاٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَجَعَلْنٰهُ هُدًى لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اَلَّا تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِيْ وَكِيْلًا۝

سبا:٤٠، ٤١ الكهف:١٤، مؤمن :٢٨، احقاف: ٢٩، جن :١– ٣ الصافات ١٦٥– ١٦٦ وغيره

**( ٣ )دليل وحى :** پورا قرآن مجيدالله كلام او وحى ده خوكله كله ديودعوىٰ سره رسول الله عليه السلام ته حكم كيږى چه صفااعلان اوكړئ چه داځه څه وائم نو دا دځان نه نه وايم بلكه ماته دالله دطرف نه دوحى په ذريعه حكم شوے دے لكه سورة المؤمن:٦٦،يونس :١٥،النحل :٢٢، ٥١ بنى اسرائيل :٢٢ ، ٢٣ ۰قُلْ لَّوْ كَانَ مَعَهٗٓ اٰلِهَةٌ كَمَا يَقُوْلُوْنَ اِذًا لَّابْتَغَوْا اِلٰى ذِى الْعَرْشِ سَبِيْلًا۝ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يَقُوْلُوْنَ عُلُوًّا كَبِيْرًا۝ [بني اسرائيل]

( ٤ ) **دلیل حلف** : دیومسئلے دثابتولو دپاره قرآن مجیدکه کله حلف (قسم ) ددلیل او دشاهد(گواه ) په طورپیش کوی ۰
لکه ،والعصر ،والطور،والقلم وغیره۰
کله کله ددے څلورقسمه دلائلو نه علاوه دمسئلے دوضاحت دپاره **قصص** یعنی د انبیاء کرامو او د حق پرستو واقعات بیانیږی، لکه سورة الاعراف هود،شعراء وغیره اوکله کله دوضاحت دپاره امثال پیش کولې شی لکه سورة الحج ۷۳، العنکبوت ٤١، وغیره

**دقرآن مخاطبین اوطرزخطاب**:

قرآن مجید دَ دوه قسمه خلقو سره خطاب کوی:
( ۱ ) منقادین [گردن نهاد] یعنی منونکی
( ۲ ) غیرمنقا دین یعنی نه منونکی .

دمسئلے دبیان او د ثبوت نه پس الله تعالی منقادینوته بشارت (زیرے ) ورکوی دابشارت کله دنیوی وی لکه سورة الانفال ۱۰، ۱۱ اوکله اخروی وی لکه سورة البقره ۲۵،
کله کله تسلی ورکوی لکه سورة الانعام: ۱٤۷،الفاطر۲۵،
کله کله تشجیع (بهادری ) ورکوی د انبیاء کراموعلیهم السلام اودحق پرستو واقعاتو بیانولو سره چه هغوی دحق په لارکښے دتکلیفونو نه وو ویریدلی نو ته هم مه ویریږه لکه سورة هود ٥٤، الانبیاء ۷۰ ،
کله کله ترغیب ورکوی لکه سورة النساء:۱۰ التوبة:۲۰،مومن :٦۰ ۰
کله کله د ربط القلب (استقامت ) بیان وی لکه سورة الکهف ایت نمبر ١٤
(۲ ) غیرمنقادینو یعنی نه منونکوته کله الله رب العزت زجر(رټنه، زورنه) ورکوی لکه سورة التوبة ۳۸،یونس ۱۸،اوکله ورته تخویف (ویرول) بیانیږی بیاتخویف په دوه قسمه دے تخویف دنیوی اوتخویف اخروی۰ تخویف دنیوی ، لکه سورة البقرۂ ٦۱،الاعراف۱٥۲، تخویف اخروی لکه سورة البقرۂ ایت نمبر ۲٤،اوکله دغیرمنقادینو دختم القلب یعنی زړه باندے دمهرلګیدو بیان وی لکه سورة البقره ۷،

**بیاغیرمنقادین پنځه قسمه دی:**

(۱) **یهود** : دسیدناموسیٰ علیه السلام اودتورات منونکی اوعزیرعلیه السلام لره حاجت روا اودالله نائب ګنړونکی او د قران او د نبی اخر الزمان صلی الله علیه وسلم سخت دشمنان ۰

(۲) **نصاریٰ** (عیسائیان) دسیدناعیسیٰ علیه السلام پیروکاراو دانجیل منونکی، عیسیٰ علیه السلام لره حاجت روا اودالله نائب ګنړونکی او د قران او د آخری نبی صلی الله وسلم نه منکر ۰

(۳) **منافقین**: په ژبه دایمان اوددین دعوٰی کونکی او د زړه نه نه منونکی ۰

(٤) **مشرکین**: دالله تعالی سره دالله په ذات اوصفاتو او په اسمآؤ اوافعالوکښے دالله مخلوق شریك اوحصه دارګنړونکی ۰

(۵) **مجوس**: دَ الله سره اُور شریکونکی او د اُور عبادت کونکی. دَ خیر خالق یزدان (الله) او د شر خالق اهرمن (شیطان) ګنړونکی

په دے ټولو باطلو فرقو باندے په قران کښے رد کوی لکه سورة الحج ۱۷،

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالصَّابِئِيْنَ وَالنَّصٰرٰى وَالْمَجُوْسَ وَالَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا ۖ اِنَّ اللّٰهَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۗ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ﴿۱۷﴾

**دمشرکینواقسام** : بیامشرکین په څلورقسمه دی:

(۱) **مشرکین بالعبادالصالحین**: چه دالله تعالی نیکان بندګان (انبیاء او اولیاء )دالله سره شریك ګنړی لکه سورة الاعراف ۱۹٤،نوح ۲۳،

اِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ عِبَادٌ اَمْثَالُكُمْ فَادْعُوْهُمْ فَلْيَسْتَجِيْبُوْا لَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۹٤﴾ **[اعراف]**

(۲) **مشرکین بالجن**: چه جنات اوپیریان دالله سره شریك ګنړی لکه سورة الانعام ۱۰۰، ۱۲۸ وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ الْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ وَخَرَقُوْا لَهٗ بَنِيْنَ وَبَنٰتٍۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ **[انعام]**

( ٣ ) **مشركين بالملائكة** : چه فرشتي دالله سره حصه داري اوشريك ګنړي لكه سورة سبا٤٠،النجم ٢٦ **وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ثُمَّ يَقُوْلُ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اَهٰٓؤُلَآءِ اِيَّاكُمْ كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ﴿٤٠﴾**[سبا]

(٤) **مشركين بالكواكب** : چه نمر،سپوږمۍ اوستوري دالله سره شريك ګنړي لكه سورة النمل ٢٤،حم السجدة ٣٧، **وَصَدَّهَا مَا كَانَتْ تَّعْبُدُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ اِنَّهَا كَانَتْ مِنْ قَوْمٍ كٰفِرِيْنَ﴿٤٣﴾**

## توحيداودهغے اقسام

**توحيد**:- الله تعالى په خپل ذات صفاتواو افعالو كښے واحد اويكتا منل اوهيڅ څوك ورسره حصه داراوشريك نه ګرځول دے ته توحيدوائى

○ ﴿**قَالَ اِبْنُ حَجَرٍ اَلتَّوْحِيدُ مَصْدَرُ وَحَّدَ يُوَحِّدُ وَمَعْنٰى وَحَّدْتُّ اللّٰهَ اِىْ اِعْتَقَدْتُّهٗ مُنْفَرِداً بِذَاتِهٖ وَصِفَاتِهٖ وَلَانَظِيرَ لَهٗ وَلَاشَبِيهٗ**﴾ [فتح البارى كتاب التوحيد] يعنى توحيدد وحديوحدمصدردے اود وحدّتُ الله معنٰى داده چه زۀ دالله تعالى په ذات اوصفاتو كښے ديووالى اويكتا كيدو عقيده لرم اوداچه دالله څوك نظيرشبيه اومثل نشته

○ ﴿**وفى شرح المقاصد**[٢٧/٣] **اِعْتِقَادُ عَدَمِ الشَّرِيكِ فِي الْاُلُوْهِيَّةِ وَخَوَاصِّهَا**﴾ يعنى دتوحيدنه مراد داعقيده ساتل دى چه دالله تعالى سره په الوهيت (خدائى) اودهغے په خواصوكښے هيڅ څوك شريك نشته ـ

**دتوحيدعنوانات**:

مسئله دتوحيدچونكه ټولو مسائلو كښے اهمه مسئله ده ددے وجےنه الله تعالى قرآن مجيدكښے په ډيرو عنواناتو اوپه قسماقسم اندازونو سره ذكر كړے اوبيان كړے ده ، دے دپاره چه ښه واضحه شي اودخلقو ذهن ته ښۀ پريوځى لكه توحيد ـ

كله په عنوان د ا لٰه، سره ذكر كوى لكه سورة البقره: ١٦٣ـ

**وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ﴿١٦٣﴾**

كله په عنوان دعبادت ، سره ذكركوى لكه سورة البقره:٢١ ـ **يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِىْ خَلَقَكُمْ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ۙ﴿٢١﴾**

کله په عنوان دتسبیح، سره ذکرکوی لکه سورة حدید:۱ ۔ سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝
کله په عنوان دتحمید،سر ہ لکه سورة الفاتحه:۱ انعام :۱ ۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝
کله په عنوان دبرکت، سره ذکرکوی لکه سورة الملك:۱الفرقان:۱ ۔ تَبٰرَكَ الَّذِيْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰى عَبْدِهٖ لِيَكُوْنَ لِلْعٰلَمِيْنَ نَذِيْرًا ۝
کله په عنوان ددعاء، سره لکه سورة الاعراف: ۵۵ ۔ اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً ۭ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ۝
کله په عنوان دملك سره لکه سورة ال عمران: ۱۸۹ ۔ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝

## دتوحیدقسمونه:

**(۱) توحیدفی الذت:** یعنی الله تعالی واجب الوجودمنل او دا منل چه الله تعالی په خپل وجودکښې چاته محتاج نه دے (دالله وجودتسلیمول اودزړه نه دامنل چه دالله سره په ذات کښې څوك شریك نشته) دارنګ الله تعالی واجب الوجودمنلوسره سره قدیم، ازلی اوابدی منل اودعدم او فناء نه پاك منل دتوحیدفی الذت په مقابل کښې شرك فی الذات دے لکه [سورة النحل: ۵۱ ،المائده:۷۳] وَلَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلَهُ الدِّيْنُ وَاصِبًا ۭ اَفَغَيْرَ اللّٰهِ تَتَّقُوْنَ ۝ [النحل]

**(۲) توحیدفی الربوبیة:** یعنی داعقیده ساتل چه دټول کائناتو اوموجوداتو خالق صرف یوذات دے چه هغه داټول پیداکړی دی اوهغه الله رب العزت دے هم دغه الله دټولو څیزونومالك مدبراوتصرف کونکے، دټول عالم تدبیراوانتظام چلوونکے اودټول عالم پالونکے دے اوهم دغه الله ددے پاللو دپاره باران ورروی بوټی میوے اوفصلونه راټوکوی، دارنګ خوراك پوشاك اواوبه وغیره پیداکوی، دیته توحید فی التصرف والتدبیرهم وائی ددے مقابل کښې شرك فی الربوبیة یاشرك فی التصرف والتدبیردے ۔ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ۝ [البقره]

دتوحیدددے قسم نه صرف دهریه (کمیونسټ) منکردی مشرکین هم دربوبیت دالله قائل دی او اعتراف ئے کوی۰ لهذا د توحید صرف دایوقسم منونکے کامل موحدنشی کیدے تر څو پورے چه دتوحید نور اقسام اونه منی، البته توحیدفی الربوبیة دتوحیددنوروقسمونودپاره دبنیاد اواساس حیثیت لری اوددےپه بیان سره دالله تعالی عظمت اولوئی زړه کښے پیداکیږی ۔

(۳) **توحیدفی الالوهیة**: دتوحیداقسم په لااله الاالله کښے موجوددے. دیته توحیدفی المعبودیة هم وائی ۔ مطلب دا چه دعبادت اوبندګئ دټولو قسمونومستحق صرف اوصرف الله منل اودالله تعالی نه علاوه بل هیڅ څوك دعبادت دهیڅ یوقسم او جزء لائق اومستحق نه ګڼړل ۔ اِیَّاكَ نَعۡبُدُ وَاِیَّاكَ نَسۡتَعِیۡنُ﴿۴﴾

دتوحیدددے قسم لاندے توحیدفی الدعاء والنداء ، توحیدفی العبادت ، مالی وجانی عبادت ، نذرونیاز اومنخته دحاجاتو مشکلاتو پوره کول ، رکوع سجده ،قیام کول اونورټول خدائی تعظیمونه داخل اوشامل دی ۔

(٤)**توحیدفی الاسماء والصفات**: په قرآن مجید او صحیح احادیثو کښے چه کوم نومونه اوصفتونه دالله تعالی دپاره بیان اوثابت دی په هغه ټولوباندے عقیده ساتل اوهغه دبل چادپاره نه منل ،اودکومو نومونواوصفتونو نفی چه قرآن اوحدیث کښے دالله تعالی نه شوے ده هغه دالله تعالی نه نفی کول (یعنی هغه لره ئے نه ثابتول ) دالله تعالی اګر چه ډیرزیات صفات اونومونه دی خودهغے نچوړ اوخلاصه دوه صفتونوکښے راجمع ده یوصفت دعلم اودویم صفت دتصرف (قدرت کارسازی).

دالله تعالی چه څومره نورصفتونه دی لکه استواء علی العرش ، یدٌ ، وجه اوعین وغیره په دے ټولوداعقیده ساتل چه داصفتونه الله تعالی لره دهغه دشان مناسب ثابت اولائق دی،ددے صفتونو نه نه خو انکارکول اونه پکښے باطل تاویل اوتحریف کول، اونه دمخلوق سره دهغے تشبیه

اوتمثیل جائزدے د امام ما لك او دارنګه ام سلمه رضی الله عنهانه نقل دی چه:

اَلْاِسْتِوَاءُ مَعْلُوْمٌ وَالْكَيفُ مَجْهُوْلٌ وَالْاِيمَانُ بِهِ وَاجِبٌ وَالسُّؤَالُ عَنْهُ بِدْعَةٌ

(۵)**توحيدفی الحاكمية** : دیته توحيدفی الاطاعة ، توحيدفی التحليل والتحريم، توحيدفی الحكم والقانون اوتوحيدفی الشرع والتشريع هم وائی۔

یعنی داعقیده ساتل چه دشرع اوقانون جوړونکے ذات صرف الله دے او دا صرف دالله حق دے یعنی چه الله کوم څیزونه حلال کړی دی هغه حلال ګنړل اوچه الله کوم څیزونه حرام کړی دی هغه حرام ګنړل (یعنی دالله حلال حلال ګنړل اودالله حرام حرام ګنړل)۔

دارنګ دانسانانواوپیریانو د روزمره ژونددتیرولو دپاره اودملك اودقوم دپاره قانون اوآئین جوړولو حق اواختیارصرف الله لره ثابت ګنړل اودالله نه علاوه بل چالره داحق قطعاثابت اوحاصل نه دے نوکه څوك دالله حراموته حلال وائی یادالله حلالوته حرام وائی یادالله تعالی درسول په مقابله کښے اودشرعی دلیل په مقابله کښے په تحلیل اوتحریم کښے دبل چااطاعت کوی اویاداللہ تعالی اودرسول الله دحکم اوقانون په مقابله کښے دیوصاحبِ اقتداربادشاه حکم اوقانون منی اودشرعی قانون اوحکم نه انکارکوی نوداټول شرك اوکفردے . اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلَّهِ [یوسف]

**شرك** :

دتوحیددنورډیروضاحت اوپوهے دپاره دشرك تعریف اوقسمونه پیژندل ضروری دی ځکه چه ﴿ تُعرَفُ الاَشياءُ بِاَضْدَادِهَا، وَبِضِدِّهَا تَتَبَينُ الاَشياءُ ﴾ [څیزونه په خپل ضدسره ښه پیژندلے کیږی] لاندے دشرك تعریف اوقسمونه ذکرکیږی۰

**تعریف د شرک:** دالله تعالی سره دهغه په ذات صفاتو،اسماؤ او افعالو کښې څه قسم مخلوق [نبی ،ولی ، پیر ، فقیر، بزرگ،حجر،شجر، قبراوبت وغیره] حصه داراوشریك ګڼړل ۔

○ امام شاولی الله دهلوی رحمه الله لیکی:

﴿وَالشِّرْكُ اَنْ يُّثْبِتَ لِغَيْرِاللهِ سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى شَيْئًا مِنَ الصِّفَاتِ الْمُخْتَصَّةِبِهٖ﴾ [الفوزالکبیر:۲۰]

"شرك دیته وائی چه دالله تعالی دخاصو صفتونونه یوصفت دغیرالله دپاره ثابت کړے شی (او وګڼړلے شی)

○ علامه شامی لیکی : ﴿وَالْمُشْرِكُ مَنْ عَبَدَمَعَ اللّٰهِ غَيْرَهٗ﴾

[شامی:۳/۳۹٦]

مشرك هغه دے چه دالله تعالی سره سره دنورو عبادت هم کوی ۔

الغرض بس په لنډو الفاظو کښې شرك دوه خبری دی یو د الله صفات بل چا لره ورکول او بل د الله عبادت او بندګی بل چا لره کول ۔

**دشرک قسمونه:** دشرك غټ دوه قسمونه دی ،

( ۱ ) شرك اعتقادی یعنی دعقیدے شرك ( ۲ ) شرك فعلی یعنی په عمل اوعادت کښې شرك

**شرک اعتقادی:** شرك اعتقادی په څلورمه قسمه دے ۔

(۱) شرك فی العلم ( ۲ ) شرك فی التصرف ( ۳ ) شرك فی الدعاء (٤)شرك فی العبادة

( ۱ ) **شرک فی العلم:** دالله تعالی په شان په مخلوق کښې څوك (نبی ،ولی پیر،فقیر ژوندے یامړ) عالم الغیب (مافوق الاسباب یعنی بغیرداسبابوپه پټو څیزونوپوهه لرونکے ) منل اوګڼړل لکه سورة النحل:٦٥،الاعراف ۱۸۸،الانعام ٥٩ ۰ قُلْ لَّآ اَمْلِكُ لِنَفْسِيْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ وَلَوْ كُنْتُ اَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ ۛۚ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوْٓءُ ۛۚ اِنْ اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ وَّبَشِيْرٌ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۱۸۸﴾ [الانعام]

○ علامه شامي رحمه الله فرمائي: ﴿إِنَّ دَعْوىٰ عِلْمِ الْغَيْبِ مُعَارِضَةٌ لِنَصِّ الْقُرْآنِ فَيَكْفُرُ بِهَا﴾ [ردالمحتار:۳/۳۹۷] یعنی دعلم غیب دعویٰ کول (په خپله یادبل چا په باره کښې ) دقرآن خلاف ده لهذا کفردے

○ ملاعلي قاري رحمه الله ليكي : ﴿اَلْكُفْرُ عَلىٰ اِعْتِقَادِ اَنَّهٗ عَلَيْهِ السَّلَامُ عَالِمُ الْغَيْبِ﴾ [مرقات:۳/۱۰۰]

داعقیده ساتل چه نبي کریم صلی الله علیه وسلم عالم الغیب دےکفردے.

**(۲) شرک فی التصرف:** دالله تعالی په شان دالله مخلوق بغیر داسبابو(مافوق الاسباب) اختیارمند واکدار، حاجت روا، مشکل کشا اولاداوبرکات ورکونکی ګڼړل .سورة الانعام: ۱۷،سورة الرعد:۱٦،الفرقان:۳ ﴿وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗٓ اِلَّا هُوَ ۗ وَاِنْ يَّمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ﴾[الانعام]

○ قال ابن کثیر رحمه الله: ﴿مَنْ زَعَمَ اَنَّ اللّٰهَ تَعَالىٰ جَعَلَ لِلْعِبَادِ مِنَ الْاَمْرِ شَيْئًا فَقَدْ كَفَرَ﴾ [ابن کثیر:۴/۲۳۱]

یعنی دچا چه داخیال اوعقیده وی چه الله تعالی خپلو بندګانوته (دمخلوق او کائناتو) اختیارورکړے دے نوپه دے عقیدے سره کافرشو.

○ قال الشامي رحمه الله : ﴿مِنْهَا اَنَّهٗ ظَنَّ اَنَّ الْمَيِّتَ يَتَصَرَّفُ فِي الْاُمُوْرِ دُوْنَ اللّٰهِ وَاِعْتِقَادُهٗ ذٰلِكَ كُفْرٌ﴾ [ردالمحتار:۲/ ۱۲۸] یعنی دچاچه داعقیده وی چه دالله تعالی نه علاوه مړی دکائناتو په امورو کښې تصرف کوی نوداعقیده ساتل کفردے.

**(۳) شرک فی الدعاء والاستعانة:** دالله تعالی نه سیوا په مخلوق (نبی ،ولی ،پیرفقیرژوندے یامړے) کښې څوك حاجت روا، واکدار اوعالم الغیب ګڼړل اوپه دغه عقیده هغه ته رامددشه وئیل اوغائبانه آواز ورته کول اومددترینه غوښتل.لکه سورة مومن ایت:٦٠،سورة الرعد:۱٤،سورة الفاطر:۱٤،الاحقاف:٥، الانعام: ۷۱ ﴿قُلْ اَنَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلٰٓى اَعْقَابِنَا بَعْدَ اِذْ هَدٰىنَا اللّٰهُ كَالَّذِي اسْتَهْوَتْهُ الشَّيٰطِيْنُ فِي الْاَرْضِ حَيْرَانَ لَهٗ

اَصۡحٰبٌ يَّدۡعُوۡنَهٗۤ اِلَى الۡهُدَى ائۡتِنَا ؕ قُلۡ اِنَّ هُدَى اللّٰهِ هُوَ الۡهُدٰى ؕ وَاُمِرۡنَا لِنُسۡلِمَ لِرَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ۙ﴿۷۱﴾

○ علامه محمدطاهر الفتنی رحمہ الله فرمائی: ﴿وَمِنۡهُمۡ مَنۡ قَصَدَ بِزِيَارَةِ قُبُوۡرِ الۡاَنۡبِيَآءِ وَالصُّلَحَآءِ اَنۡ يُصَلِّيَ عِنۡدَ قُبُوۡرِهِمۡ وَيَدۡعُوَ عِنۡدَهَا وَيَسۡأَلَهُمُ الۡحَوَائِجَ وَهٰذَا لَا يَجُوۡزُ عِنۡدَ اَحَدٍ مِنۡ عُلَمَاءِ الۡمُسۡلِمِيۡنَ فَاِنَّ الۡعِبَادَةَ وَطَلَبَ الۡحَوَائِجِ وَالۡاِسۡتِعَانَةَ حَقُّ اللّٰهِ وَحۡدَهٗ﴾ [مجمع البحار: ۲/ ۴۳]

یعنی بعضے خلق د انبیاء کرامو او د بزرگانو د قبرونو (مزارونو) زیارت ته په دے نیت اوارده ځی چه هلته دهغوی دقبرونوپه خواکښے مونځ اوکړی اودهغوی نه خپل حاجات اوغواړی ،حالانکه دادمسلمانانودیوعالم په نزدهم جائزنه ده ځکه چه عبادت اوحاجتونه اومددغوښتل صرف دالله رب العزت حق دے۔

○ شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمہ الله فرمائی :﴿ مَنۡ ظَنَّ اَنَّ الدُّعَاءَ عِنۡدَ الۡقُبُوۡرِ اَفۡضَلُ من فِى الۡمَسَاجِدِ فَقَدۡ كَفَرَ فَقَدِ اتَّفَقَ اَئِمَّةُ الۡمُسۡلِمِيۡنَ عَلٰى اَنَّ اِتِّخَاذَ الۡقُبُوۡرِ لِلدُّعَآءِ عِنۡدَهَا اَوِ الصَّلٰوةِ لَيۡسَتۡ مِنۡ دِيۡنِ الۡاِسۡلَامِ ،وَقَدۡ تَوَاتَرَتِ السُّنَنُ فِى النَّهۡىِ عَنۡ اِتِّخَاذِهَا لِذٰلِكَ﴾ [مختصر فتاوی المصریه :۷۵]

ترجمه: دچاچه داخیال وی چه دعاګانے دجوماتونو په ځائے دقبرونو(مزارونو) په خواکښے غوره اوافضل دی نویقینًا دے سړی کفراوکړو ځکه چه دمسلمانانوامامان په دے متفق دی چه مزارونه ددعاګانو او مونځونو دپاره مقررول په دین اسلام کښے نشته۔ او په احادیثوکښے قبرونه مزارونه د دعاګانو او د مونځونو د پاره دمقررولونه منع راغلے ده۔

( ٤ ) **شرک فی العبادة** : دالله تعالی عبادت رکوع ،سجده طواف وغیره په مخلوق (نبی ولی پیرے ،پیر، فقیر، ژوندے یامړے بت قبر،حجریاشجر) کښے دچادپاره کول۔لکه سورة النساء: ۳٦، الرعد:۳٦، الانعام: ٥٦، النحل: ۷۳ قُلۡ اِنِّىۡ نُهِيۡتُ اَنۡ اَعۡبُدَ الَّذِيۡنَ تَدۡعُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ ؕ قُلۡ لَّاۤ اَتَّبِعُ اَهۡوَآءَكُمۡ ۙ قَدۡ ضَلَلۡتُ اِذًا وَّمَاۤ اَنَا مِنَ الۡمُهۡتَدِيۡنَ ﴿۵۶﴾ [الانعام]

**شرک فعلی**: دشرك فعلي څلورقسمونه دي:
(۱) تحریمات غیرالله (۲)نذرغیرالله(۳) شرك فی البرکات ( ٤ ) شرك فی الحکم والقانون۰
**(۱)تحریمات غیرالله** :- تحریمات غیرالله دیته وائی چه یوڅیزحلال وی الله ترینه منع نه وی کړے اونه ئے حرام کړے وی اویوکس ئے دغلطے عقیدے(لکه دغیر الله نه دویرے یا د غیرالله د قربت حاصلولوپه عقیدے) په وجے، دخپل طرف نه یادبل چاپه ویناحرام اوګنړی لکه داوئیل اوداعقیده ساتل چه فلانکے څیز(خوراك جامه وغیره ) په مونږ باندے ساپ (راس) نه راځی که مونږ ئے استعمال کړو نواولاد، مال ، دولت به موتباه شی داعقیده ساتل شرك دے ،لکه سورة المائده:۸۷، ۸۸ ،البقره: ۱۷۳،الانعام : ۱۳۸
وَقَالُوْا هٰذِهٖٓ اَنْعَامٌ وَّحَرْثٌ حِجْرٌ ۖ لَّا يَطْعَمُهَآ اِلَّا مَنْ نَّشَآءُ بِزَعْمِهِمْ وَاَنْعَامٌ حُرِّمَتْ ظُهُوْرُهَا وَاَنْعَامٌ لَّا يَذْكُرُوْنَ اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا افْتِرَآءً عَلَيْهِ ۗ سَيَجْزِيْهِمْ بِمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۱۳۸﴾ [الانعام]
**تحریمات الله**: دتحریمات غیرالله په مقابله کښے تحریمات الله دی یعنی دالله حرام کړے شوے څیزونه حرام ګنړل اوحلال ئے نه ګنړل نوداتوحیددے لکه سورة المائده: ۲، ۹۵، ۹۶ ۰
يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحِلُّوْا شَعَآئِرَ اللّٰهِ وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلَا الْهَدْيَ وَلَا الْقَلَآئِدَ وَلَآ آٰمِّيْنَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّهِمْ وَرِضْوَانًا ۗ وَاِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا ۗ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ اَنْ صَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اَنْ تَعْتَدُوْا ۘ وَتَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى ۖ وَلَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ۖ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۗ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۲﴾ [المائده]
**(۲)نذرغیرالله**: دالله تعالی نه سیوادیومخلوق (نبی ولی ،بزرګ پیرفقیرمړے یاژوندے )په نوم (په دے عقیدے چه هغه دنفع اونقصان ذمه واردے اوهغه ته دقربت حاصلولو دپاره) نذر و نیاز منخته کول اوشکرانه ورکول ۰ نوداشرك اوحرام دی لکه سورة البقره :۱۷۳،المائده: ۳،الانعام :۱۳٦

وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ مِمَّا ذَرَاَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْاَنْعَامِ نَصِيْبًا فَقَالُوْا هٰذَا لِلّٰهِ بِزَعْمِهِمْ وَهٰذَا لِشُرَكَآئِنَا ۚ فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمْ فَلَا يَصِلُ اِلَى اللّٰهِ ۚ وَمَا كَانَ لِلّٰهِ فَهُوَ يَصِلُ اِلٰى شُرَكَآئِهِمْ ۗ سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿۱۳۶﴾ [الانعام]

○ شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمائی : ﴿اَمَّا النَّذْرُ لِلْمَوْتٰى مِنَ الْاَنْبِيَاءِ وَالْمَشَائِخِ وَغَيْرِهِمْ اَوْلِقُبُوْرِهِمْ اَوْ لِلْمُقِيْمِيْنَ عِنْدَ قُبُوْرِهِمْ فَهُوَ نَذْرُ شِرْكٍ وَمَعْصِيَةِ اللّٰهِ تَعَالٰى سَوَاءٌ كَانَ النَّذْرُ نَفَقَةً اَوْذَهَبًا اَوْغَيْرَ ذٰلِكَ وَهُوَ شَبِيْهٌ لِمَنْ يَنْذُرُ لِكَنَائِسِ الرُّهْبَانِ وَبُيُوْتِ الْاَصْنَامِ﴾

**[مجموعه رسائل شرح دعاء ذوی النون :۸۶]**

○ علامه شامی رحمه الله لیکی:﴿اِعْلَمْ اَنَّ النَّذْرَ الَّذِيْ يَقَعُ لِلْاَمْوَاتِ مِنَ الْعَوَامِ وَمَا يُوْخَذُ مِنَ الزَّيْتِ وَالشَّمْعِ وَنَحْوِهَا مِمَّا يُنْقَلُ اِلٰى ضَرَائِحِ الْاَوْلِيَاءِ الْكِرَامِ تَقَرُّبًا اِلَيْهِمْ فَهُوَ بِالْاِجْمَاعِ بَاطِلٌ وَحَرَامٌ وَقَدْ اُبْتُلِيَ النَّاسُ بِذٰلِكَ وَلَاسِيَمَا فِيْ هٰذِهِ الْاَعْصَارِ﴾ [درالمختار قبل الاعتکاف]

پوهه شه چه هغه نذراوهغه تیل شمعے اوداسے نورخیزونه چه عوام ئےداولیاکرامو قبرونو(مزارونو) ته دتقرب په نیت پیش کوی نوداپه اجماع سره باطل اوحرام دی اوخلق په دے کښے ډیرمبتلادی ،خاصکرددے زمانے خلق ۔

**نذرالله:** نذردغیرالله په مقابله کښے نذرالله دے یعنی دالله تعالی په نوم نذرونیازاومنخته منل اوکول ، چه که ځمادافلانکی کار اوشو نوفلانے نیك کاربه کوم یاصدقه، خیرات به کوم وغیره نوداجائزبلکه توحیددے لکه سورة البقره :۲۷۰،ال عمران: ۳۵، مریم:۲۶،الحج : ۲۹۔ اِذْ قَالَتِ امْرَاَتُ عِمْرٰنَ رَبِّ اِنِّيْ نَذَرْتُ لَكَ مَا فِيْ بَطْنِيْ مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّيْ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۳۵﴾ [العمران]

**( ۳ ) شرک فی البرکات:** دالله تعالی نه سیوا یومخلوق (نبی ،ولی ،پیرفقیرژوندے یامړے) په مال ،اولاد عمر، کاروبار، کور وغیره کښے برکت اچوونکے ګڼړل لکه سورة الفرقان ایت ۱، ۱۰، ۶۱ ۔ سورة الملك ۱. تَبٰرَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ ۡ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرُ ﴿۱﴾

○ قَالَ الْعَلَّامَۃُ الْاٰلُوْسِی نَاقِلًا عَنِ الْاِمَامِ الرَّازِی : ﴿اِنَّ الْبَرَکَۃَ لَہٗ تَفْسِیرانِ اَحَدُھُمَا اَلْبَقَاءُ وَالثُّبَاتُ وَالثَّانِیْ کَثْرَۃُ الْاٰثَارِالْفَاضِلَۃِ فَاِنْ حَمَلْتَہٗ عَلَی الْاَوَّلِ فَالثَّابِتُ الدَّائِمُ ھُوَاللّٰہُ تَعَالٰی وَاِنْ حَمَلْتَہٗ عَلَی الثَّانِیْ فَکُلُّ الْخَیرَاتِ وَالْکَمَالَاتِ مِنَ اللّٰہِ تَعَالٰی فَھٰذَا الثَّنَاءُ لَایلِیقُ اِلَّابِحَضْرَتِہٖ جَلَّ وَعَلَا﴾ [روح المعانی :ص:۱۳۹ج:۸تفسیرالکبیرص:۱۱۸ج۱۴]

(٤) **شرک فی الحکم والقانون:** دالله تعالی اودرسول الله یعنی دشریعت دقانون اوفیصلے په مقابله کښے دبل چاپه قانون فیصلے کول اوپه هغے دزړه نه راضی کیدل .لکه سورة المائده ٤٤، ٤٥، ٤٧، ٤٩

اِنَّآ اَنْزَلْنَا التَّوْرٰىةَ فِيْهَا هُدًى وَّنُوْرٌ ۚ يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّوْنَ الَّذِيْنَ اَسْلَمُوْا لِلَّذِيْنَ هَادُوْا وَالرَّبّٰنِيُّوْنَ وَالْاَحْبَارُ بِمَا اسْتُحْفِظُوْا مِنْ كِتٰبِ اللّٰهِ وَكَانُوْا عَلَيْهِ شُهَدَآءَ ۚ فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ وَاخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِيْ ثَمَنًا قَلِيْلًا ۭ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۴۴﴾ [المائده]

○ موضح القرآن کښے شاه عبدالقادردهلوی دسورت انعام ایت: ۱۲۲ لاندے لیکی:

*" یعنی شرک فقط یہی نہیں کہ کسی کو سوائے خدا کے پوجے بلکہ یہ شرک کے حکم میں ہے کہ اور کا مطیع ہووے "*

## دقرآن (د غټو اهمو مضامینو دتوحیداوشرک دوضاحت نه پس) باقی مضامین

(۱) **صدق الرسول:** دنبی کریم صلی الله علیه وسلم رشتینوالے په قرآن مجیدکښے الله تعالی ښهٔ په پوره تفصیل او وضاحت سره بیان کړے دے ددے دپاره چه د رسالت دمنکرینو څه عذراوبهانه پاتے نه شی .لکه سورة البقرة: ۱۱۹،النساء: ۱۳، ٦٥ ، ۱۱۵، ۱٦۳ یوسف: ۱۰۲، الاعراف: ۱۵۸ ، ال عمران: ۳۲، ٤۳، ۸۱، الاحزاب: ۳٦ ، الرعد:٤۳،

اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ بِالْحَقِّ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا ۙ وَّلَا تُسْـَٔــلُ عَنْ اَصْحٰبِ الْجَحِيْمِ ﴿۱۱۹﴾ [البقره]

ددے ایتونو نه علاوه دپیغمبرد رشتینوالی بیان د پاره مستقل سورتونه هم نازل شوے دی لکه سورة والضحیٰ سورة الانشراح وغیره

**(۲) صدق القرآن:** الله تعالی دقرآن مجید رشتینوالی او حقانیت په قرآن کښې په مختلفو طریقو سره واضح کړې دې دټولو نه وړومبئ وحی (سورة العلق ) کښې الله تعالی دقرآن دلوستلو حکم کړ ے دےاوسورة القدرکښې ئے دقرآن عظمت بیان کړے دے اوسورة المزمل کښےئے ترغیب الی القرآن اوسورة المدثرکښې ئے ترغیب الی تبلیغ القرآن ذکر کړ ے دے. دارنګ دقرآن رشتینوالے په مختلفو اياتونوکښې ذکر دے لکه سورة النساء: ۱۱۳، النحل: ٦٤، الاسراء: ۱۰۵، الفاطر: ۳۱، یونس: ۳۷، الاعراف: ۳ ، ۱۵۷، الزمر:۵۵، وغیره .

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهٗ لَهَمَّتْ طَّآىِٕفَةٌ مِّنْهُمْ اَنْ يُّضِلُّوْكَ ؕ وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَضُرُّوْنَكَ مِنْ شَيْءٍ ؕ وَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ ؕ وَكَانَ فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ عَظِيْمًا ﴿۱۱۳﴾ **[النساء]**

**(۳) الایمان بالاخرة:** دارنګ داخرت داثبات بیان قرآن په ګڼړو سورتونو کښې ذکر کوی لکه سورة الاسراء: ۱۰، الرعد:۲، الجاثیة: ۲٦، الحج: ۷، حم السجدة: ۷ ، سباء: ۸ الانعام: ۹۲

وَّاَنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ اَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۰﴾ [بني اسرائیل]

**(٤)الجهادفی سبیل اللّه :** جهادچونکه ددغه اولنی څلو رو اصولو داشاعت اوخوررولو ذریعه ده ددے وجے نه الله تعالی په قرآن مجیدکښے دجهادحکم ،دجهادقسمونه ،اوچه دچاسره به جهادکیږی هغه تفصیلاً ذکرکړی دی لکه سورة البقره: ۲٤٤، التوبة: ۷۳، ۱۲۳، الانفال: ۷۳ ، الصف: ۱۰، وغیره ـ

وَقَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۴۴﴾ [البقره]

**(۵)الانفاق فی سبیل اللّه:** دجهاد حکم اودالله تعالی ددین دعوت اوخدمت دمال لګولو نه بغیر په پوره طریقے سره سرته نه رسی ددے وجے نه قرآن مجیدپه انفاق هم ډیر زور ورکوی لکه سورة البقره: ۳ ، ۱۹۵، ۲٦۲، ۲٦۵، ال عمران: ۱۳٤، التوبة: ۳٤، ۹۹، ۱۲۱ ۰

الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿۳﴾ [البقره]

(٦) **التنظيم**: ددے اصل يومقصددادے چه مسلمانان په خپلوکښے منظم اومتفق شی، ځکه چه اسلام اجتماعيت خوښونکے دين دے. دويم مقصد دادے چه ددے اصل تعلق دجهاد ، دعوت ددين ،اواقامت ددين سره دے او داټول کارونه (جهاد،دعوت اواقامت ) دجماعت اونظم نه بغير ممکن نه دی، ددے وجے نه قرآن مجيدپه خپل مينځ کښے منظم اوسيدو، داميرد اطاعت اودشورئ داصولو وغيره بيان کوی .

دتاسيس الجماعة دپاره پنځه قاعدے په سورة ال عمران کښے ۱۰۲ تا ۱۱۸، د امير اوماموراحکام سورة النساء کښے اودشورئ قاعدے او اداب په سورة المجادلة کښے او دامير شرطونه اوصفتونه په سورةالبقرة ۲٤٦،ال عمران ۱۵۹، ۱٦۱، ١٦٤،کښے اودجماعت دارکانودرے قسمونه په سورة المزمل کښے ذکر دی۰

(۷) **الاداب**: په دنياکښے دژونددتيرولو اودهرقسم کا ردکولو شريعت څه اداب مقررکړی دی، قرآن مجيددهغےبيان هم کړے دے لکه ددعوت اداب شو په سورة المؤمنون ۹٦ ، الشعراء ۲۱۳ کښے، په کورکښے دژونددتيرولو اداب په سورة النور۵۸، ۵۹ ، ٦۰ کښے، دارنګ دجماعت دحفاظت اداب او دارکانوپه خپل مينځ کښے دتعلقاتو اداب په سورة الحجرات وغيره کښے ذکر دی۰**وبالله التوفيق.**

# خلاصة سورة الفاتحه

**ترتيب:** دا سورت نزول كښې ٥ نمبر دے پس د سورت مدثر نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة**: سورة الفاتحه، سورةام القران،سورةام الكتاب، سورة السبع المثاني،سورة القران العظيم،سورة الحمد، سورةالصلاة، سورةالنور، سورةالكافية،سورةالشافية،سورةالوافية،سورةالشكر،سورةالتفويض، سورةالشفاء، سورةتعليم المسئلة وغيره.

**وجه دتقديم:** سورت فاتحه د ټولو نه وړومبے ځکه ذکر شوے دے چي داسورت أساس القرآن، ام الكتاب او ام القرآن دے .

**دعوى دسورت:** توحيد.

**تقسيم او حاصل دسورت**: داسورت په دريو حصو يا درى خبرو باندى مشتمل دے (١)وړومبى دريو ايتونو كښى دعوى دتوحيد او دالله رب العزت پنځه صفتونه ذكر دى چي هغه په حقيقت كښى په دعوى باندي دليلونه دى (٢)څلورم ايت كښے دالله حق او د بنده حق ذكردے (٣)ايت٥،٦،٧ كښے دعا (او دهغى د طريقے تعليم) او د دريو ډلو بيان دے (١)منعم عليهم(په چا چي احسان شوے دے) (٢)مغضوب عليهم (په چاچي دالله غضب شوى دے)(٣)الضالون (څوك چى بغير د علم نه گمراه شوى دى)

**دسورت امتيازت:**(١) په ذكر داصول داسماء حسنى (چي الله رب رحمٰن دے)(٢)ذكر د طريقے د دعا.

# خلاصۃ سورۃ البقرۃ

**ترتیب**:. داسورت ترتیب نزولی کښې ۸۷نمبر دےپس دسورت مطففين نه نازل شوے دے.

**اسماءالسورۃ**:. سورۃ البقرۃ ، سورۃ الزهراء ، سورۃسنام القران ، سورۃ فسطاط القران ، سورۃ الذروۃ.

**ربط**:(۱)فاتحة کښې د دعا درخواست وو نو دا سورت دهغې استجابت (قبولیت)دے(۲) فاتحه کښې د دریو ډلو مختصر بیان وو. دلته د هغې تفصیل دے.

**دعوی د سورت**:. دے سورت کښې د مضامین ثمانیه نه څلور اهم مضامین ذکر دی دوه مقاصد او دوه ممدات (۱)توحید (۲)رسالت (۳)جهاد في سبيل الله(٤)انفاق فی سبيل الله .

**تقسیم او حاصل د سورت**:. داسورت په څلورو حصو باندی مشتمل دے وړومبۍ حصه ۱انه ۹۶ پورې ده دیکښې د توحید بیان دے بیا دا وړومبۍ حصه په څلورو بابونو باندی مشتمله ده.

وړومبے باب۱نه۲۰پورې .تمهیددے او تمهید کښې د قران عظمت ترغیب او دهغے درے صفات،د دریو ډلو بیان، د هغوی صفتونه او دنیوی اخروی حکمونه او دآخری دوو ډلو مثالونه ذکر دی.

دویم باب ۲۱ نه ۳۹ پورې بیان دخطاب عام په دے کښې د عوی د توحید سره د پنځو دلیلونو، په رسالت او قران باندے د شبهے جواب، تخويف اخروي او بشارت اخروی. او ددعوے سره متعلق څلور نعمتونه بطور دلیل ذکرکوی.

دریم باب ٤٠نه ٤٨پورې په دې کښې د عام خطاب نه پس خاص خطاب په کښې دشپږو خبرو بیان. درې د دین مضبوطونکې(اقامت صلوة ، استعانت بالصبر او ایمان بالآخرة) او درې د دین نړونکې. (تحريف واشتراء بالدين .كتمان حق او ترك عمل).

څلورم باب٤٩نه ٩٦پورې دیکښې بیان دشپږو خطابونودې چي پکښې دبنې اسرائیلو اصلاح او امت مسلمه ته عبرت ورکول مقصود دی.

وړومبےخطاب٤٩نه ٦٢پورې دې پکښې أته نعمتونه او دوه عذابونه ذکر دی مطلب دا چې بنې اسرائیل کله ددین پابند وو نو دنعمتونو مستحق وو او چي کله ئے نافرمانی وکړه نو د عذاب مستحق شو نو اوس هم دغه قانون دے.

د اول خطاب تتمه په ترغیب سره چي نجات صرف په نوم،نسبت او په دعوو نه حاصلیږی.

دویم خطاب٦٣نه ٨٢ په دې کښې د دریو خباثتونه دیهودو د مشرانو او بیادپنځو ډلو دموجوده یهودیانو ذکر دی.مطلب دا چې یهود نسل درنسل د حق مخالفت کښې مبتلا دی.ددےخطاب تتمه په تخویف او بشارت سره کوی.

دریم خطاب ٨٣نه ٨٦پورے د اهل کتابو بل قباحت یعني داوامر نه انکار کول او نواهی کول. مطلب دا چه دوی خپل دین التہ کړے دے. یعنی یهود د اوامرونه انکار کوی او منهیاتُ باندے عمل کوی.

او د دےدخطاب تتمه ددنیا او دآخرت په تخویف سره.

څلورم خطاب۸۷نه ۸۸ پورے بل قباحت دپخوانو پیغمبرانو نه انکار کول یعنی یهود خپل پیغمبران هم نه منی.اودانکار کولو طریقه ذکر کوی.

پنځم خطاب ۸۹نه ۹۱ پورے بل قباحت دمحمد علیه الصلوٰة والسلام نه دضد په وجه انکار کول. او په انکار زجر یعنی د حق دمعرفت باوجود نه منل. او د یهود دیو باطل زعم رد کوی.
اودڅلورم او پنځم خطاب تتمه په زجر سره کوی.

شپږم خطاب۹۲نه ۹٦پورے دتیرو خباثتونو نچوړ او وجه ذکر کوی (شرك او کتاب الله نه اعراض کول) او یهودوته د مباهلے اعلان او د دوی د قباحتونو علت ذکر کوي.

دویمه حصه۹۷نه ۱۷٦پوری درسالت بیان دیکښے د منکرینو دطرفنه په نبی علیه السلام او رسالت باندی د نهو شبهو جوابونه او د نبي دشجرے بیان دنبی علیه السلام د عظمت او د یهودو او دمشرکانو د رد دپاره ذکر کوی او ورسره زواجر او تخویف هم .داحصه هم په څلورو بابونو مشتمله ده.

وړومبے باب۹۷نه ۱۲۳پورے په دے کښے د وؤو شبهو جواب،زواجر، بیان دامر مصلح د پاره د تثبت . تسلی او نقلی دلیل د اهل کتابونه ذکرکوی.

دویم باب۱۲٤نه ۱٤۱پوري . دیکښے درسول الله علیه السلام شجره نسب او دابراهیم علیه السلام دعظمت بیان او دری اهم مقصدونه ذکردی.او اهل کتابو ته د هغوی په اقوالو او افعالو باندے زواجر ورسره د ایمان د معیار بیان او طریقه د دعوت او په یو غلط رسم باندے رد ذکر کوی.

دریم باب۱٤۲نه ۱٦۱پورے د اتمے او د نهمے شبهے جواب او نبي علیه السلام ته تنبیه او داهل کتابو دعناد بیان او دهغوی درے ډلے او د نبي علیه السلام دهغوی نه دبراءت بیان اوداختلاف او مصیبتونو په وخت کښی په دین د کلکوالي حکم او دآخرت تخویف.او د پنځو خبرو بیان اودشهیدانو مقام اودصبردمواضعو بیان او صابر ینو ته بشارت اودحق پټونکو ته زجر او تخویف اوتوبے ته ترغیب او دهغے درے شرطونه اودآخرت تخویف دحق پټونکو ته ذکرکوی.

څلورم باب ۱٦۲نه۱۷٦ پوري دیکښے دتوحید اعاده د شرك فعلي درد دپاره سره د اتو عقلي دلیلونو،مشرکانو ته زجر او تخویف اخروی په براءت د معبودینو او عابدانو سره، دتحریمات غیر الله رد، د مشرکانو نه د دلیل مطالبه او مثال، رد د نذر غیر الله او کاتمین حق ته زجر ذکر کوی.

دریمه حصه ۱۷۷نه ۲٥۳پورے دجهاد بیان. دی حصه کښے وړومبے د جهاد دپاره دری بنیادی خبری ذکر کوی چه هغه تهذیب الاخلاق، تدبیرمنزل، اوسیاست مدني دې او په آخر کښے جهاد ته ترغیب ورکولو دپاره مثالونه ذکر کوی.داحصه هم په څلورو بابونو مشتمله ده.

وړومبے باب۱۷۷نه ۱۹٥پورے په دیکښے لس امور دتهذیب ا لاخلاق او څلور قوانین د سیاست مدنی او حکم د قتال سره د علت نه او ذکر د انفاق فی سبیل الله اجمالا ذکر کوی.

دویم باب۱۹٦نه ۲۱٤پورے. په دے کښے د حج مسئله د جهاد د تنویر دپاره،احکام د حج، دخلقو قسمونه،جهاد ته ترغیبات، دیوے شبهے جواب او تخویف دنیوی ذکر کوی.

دریم باب۲۱۵نه ۲٤۱پورےپه دیکښے د تدبیر منزل اتلس احکام او امور ورسره د جاهلیت په مظالمو او رسمونو رد کوی، مینځ کښے تخویف اخروي او بشارت ذکر دے.

څلورم باب۲٤۲نه ۲۵۳پورے په دے کښے جهاد ته ترغیب د پاره د پخوانو مثالونه ذکر کوی چي د مرګ ویرے نه او د ملګرو د کموالی د وجے نه جهاد مه پریږدئ ګني ذلیله به شئ، امر بالقتال والإنفاق في سبیل الله، دامیر شرائط، د جهاد حکمت، صدق درسول او داختلاف الامم ذکر چي دا د قتال سبب دے.

څلورمه حصه۲۵٤نه اخره پورے، په دے کښے دانفاق فی سبیل الله بیان دے دا حصه هم په څلورو بابونو مشتمله ده. وړومبے باب ۲۵٤نه ۲٦۰پورے په دیکښے دعوی دانفاق ، اعاده دتوحید سره د دلیلونو دپاره د نفی د شفاعت قهری. او تقسیم دخلقو او د اصحاب الرشد او اصحاب الغی مثالونه ذکر کوی . او بیان دقانون داصحاب الرشدو اصحاب الغی متعلق.

دویم باب ۲٦۱نه ۲۷۳پورے په دے کښے دمنفقینو مثالونه (د منفق في سبیل الله او فی غیر سبیل الله) او د انفاق ایجالي او سلبي شرطونه. او دانفاق سره متعلق د شپږو امور بیان کوی او ترغیب ورکوی دطیباتو انفاق ته.

دریم باب۲۷٤نه ۲۸۲ پورے په دے کښے مانع دانفاق،اصحاب الربوته زجر او تخویف آخروي او ددے په مقابله کښے بشارت، بیږوسه خلقو ته د مهلت بیان،تخویف اخروی او امور انتظامی ذکر کوی.

څلورم باب۲۸۳نه آخره پورے په دے کښے دسورت تتمه ده په دے کښے دمقاصد اربعو (توحید رسالت جهاد او انفاق) اعاده، او تعلیم ددعا ذکر کوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)واقعه د ذبح البقره او ذکر د اية الكرسی.

(۲)ذکر د احوالو دبنی اسرائیلو تفصیلاً.

# خلاصة سورة ال عمران

**ترتیب:.** داسورت نزول کښے۹۸نمبر دےپس د سورت الانفال نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة:.** سورة ال عمران، سورة الزهراء، سورة طيبة، سورة المعينة، سورة المجادلة، سورة الاستغفار، سورة الكنز، سورة الأمان، سورة تاج القران.

**ربط:.**(۱)سورة البقرة کښے دیهودیانو دمعبود دعاجزۍ بیان وو اوس سورة آل عمران کښے دعیسایانو د معبود دعاجزۍ بیان دے (۲)سورة البقرة کښے دجهاد دپاره د دریوبنیادی خبرو بیان وو آل عمران کښے دجهاد دپاره دتاسیس الجماعة دقاعدو بیان دے.

**دعوی دسورت:.** دے سورت کښے هم هغه مسائل بیانوی کوم چه سورة البقره کښے ذکر شوی دی(توحید، جهاد،انفاق،رسالت).

**تقسیم اوحاصل دسورت:.** داسورت په دری حصو مشتمل دے.

وړومبۍ حصه ۱ نه ٦٣ پوری په دیکښے دری بابونه دی.

وړومبۍ باب ۱نه ۱۷پورې دیکښې شپږ خبرې ذکر دی حاصل دا چه دعوی توحید سره د درې قسمه دلیلونو.جواب(۱)د شبهې، تعلیم د دعا، تزهید في الدنیا،تذلیل الدنیا، بشارت او دنیکانو خلقو صفتونه، دې باب کښې ذکر دی.

دویم باب ۱۸نه ۲۵پورې په دیکښې هم شپږ خبرې ذکر دی یعني دتوحید اثبات سره د دلیلونو او دثمرې، دتیرې شبهې دویم جواب، د دعوت طریقه او نبوي فریضه (تبلیغ)،په تبلیغ بهادرکول او باغی اهل کتابونه ته تخویف.ناکاره علماؤ ته زجر او تخویف په ذکر د قیامت سره ذکر کوی.

دریم باب ۲۵نه ٦۳پورې په بیان د شپږو امورو کښې.یعني توحید سره ددلیلونو. ترکِ موالات، تخویف اخروي، دپیغمبر په اتباع راتیزول،دشبهې تفصیلی جواب(عبدیت دعیسیٰ )او اعلان د مباهلې ذکرکوی.

دویمه حصه٦٤نه ۱۰۱پورې په دې کښې درسول درسالت اثبات او د رسالت د منکرانو څوارلس قباحتونه او د درې سوالونو جوابونه، ورسره ورسره منکرینو ته تخویفات او زواجر. طریقه د دعوت اواظهار د الله ددین او د عوامو د توبې شرائط ذکرکوی.

دریمه حصه۱۰۲ نه اخره پورې. په دې کښې دجهاد او انفاق في سبیل الله بیان دې. د تاسیس الجماعة قاعدې، تقابل په مینځ د صفاتو د نیکانو او ګمراهو اهل کتابو کښې، په قواعدو باندې واقعه د بدر او احد تفریع. جهاد او انفاق ته ترغیبات، منافقانو ته زواجر، مومنانو ته تسلي او

بشارت ، دامیر شرطونه،داهل کتابو یو څو قباحتونه او اخر کښے دنیکانو صفتونه او دعاګانے ذکرکوی.
**دسورت امتیازات:** (۱)په ذکرد آیت(۷)شهد الله الخ چي په کښے توحید سره دادله ثلاثه او ثمرے ذکر دے.(۲)کثرت د دلائیلو په عبدیت د حضرت عیسیٰؑ .

# خلاصۃ سورۃ النساء

**ترتیب:**.دا سورت نزول کښے۹۲ نمبر دے پس د سورت الممتحنه نه نازل شوے دے.
**اسماء السورۃ:**. سورۃ النساء الطولی،سورۃ النساء.
**ربط:**۱) مخکښی سورتونو کښے دعقیدی اصلاح وه. نو دی سورت کښی د معاشرے اصلاح ذکر کوی.
(۲)آل عمران کښے د تاسیس الجماعة او دتنظیم قوانین ذکر وو په دی سورت کښی دامیر او دمامور قوانین ذکر کوی.
**دعوی دسورت:** دجهاد او د معاشرے د اصلاح دپاره انتظامی امور.
**تقسیم او حاصل دسورت:** سورت په درے حصو مشتمل دے .
وړومبۍ حصه ۱نه ۵۷ پورے په دے کښے د تدبیر منزل یعنی اصلاح د رعیت (عوامو) دپاره شپاړس حکمونه ذکر کوی ورسره مومنانو لره تخویفات او د منافقانو قباحتونه او زواجر. داهل کتابو قباحتونه او هغوي ته تخویفات او زواجر. او اخر کښۍ بشارت مومنانو ته ذکر کوی.
دویمه حصه:۵۸نه۱۳٤پورے په دے کښے د سیاست مدني یعني د راعی او د حاکم د اصلاح دپاره أ ته احکام ذکر کوی. ورسره ورسره منافقانو ته زجر او دهغوی قباحتونه.اتباع د رسول ته ترغیب، بشارت. حکم بالتباعد عن

المنافقین او اقسام دمنافقانو. تخویف اخروی مخالفینو د رسول ته، شرك فعلي باندے رد. او اخر کښے بشارت ذکر کوی.

دریمه حصه:۱۳۵نه اخرپورے. په دے حصه کښے مقاصد عالیه او د دریو ډلو بیان،مومنانو ته تنبیه،منافقانو او اهل کتابو ته زواجر. دمنافقانو قباحتونه ، دمنافق د توبے شرائط،دیهودو قباحتونه او د هغوی دیو سوال دوه جوابونه او په هغوی باندے اسباب دتحریم الطیبات، رد دشرك اعتقادی،ترغیب الی اطاعة الرسول.عبدیت د عیسیٰ او ترغیب قران ته ذکر کوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د حقوقو دیتیمانو او سفهاؤ.

(۲) بیان د احکامود وراثت دے تفصیلاً.

## خلاصة سورة المائدة

**ترتیب:**.دا سورت نزول کښے ۱۱۲ نمبر دے پس د سورة الفتح نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة:.** سورة المائدة،سورة العقود، سورةالمنفذة.

**ربط**:. (۱)سورة النساء کښے دمعاشرے داصلاح دپاره امور مصلحه بیان وو نومائده کښے د طعام باره کښے امور مصلحه بیانوی. (۲)نساء کښے وئیلی ووچه د الله په کتاب او قانون باندے فیصلے کوئ نومائده کښے وائی چی څوك پری فیصلے نه کوی هغه ظالم ،فاسق او کافر دے.

**دعوی دسورت**:. دتحلیل او دتحریم بیان.

**تقسیم د سورت**:سورة المائدة درے حصو باندے مشتمله ده اوله حصه ۱نه۴۰پورے. په دے حصه کښے دوه بابونه دی وړومبے باب ۱ نه ۱۴ پورے. په دے کښے دعوی د سورت یعنی ذکر د مسائل اربعو، بیان دامر مصلح،

وفاء بالعهد ته ترغیب، تخویف او بشارت . په نقض عهد زجر او مثال د نقض عهد دیهودو او عیسائیانو ذکرکوی.

دویم باب ۱۵نه ٤٠ پورے په دے کښے ترغیب الي اطاعة الرسول والکتاب، رد دشرك في التصرف ، نقض عهد او جهاد کښے د سستی کونکو مثالونه ورسره امور انتظامي ،جهاد ته ترغیب،تخویف اخروی او رد دشرك فی التصرف ذکر کوی.

دویمه حصه٤١نه٦٦پورے دا حصه هم په دوه بابونو مشتمله ده.

وړومبے باب ٤١ نه ٥٠ پورے په دے کښے نبی کریم ﷺ ته تسلی. دمنافقانو او داهل کتابو قباحتونه او زواجر او ذکر د کتب الهیو دپاره د تحکیم، عظمت د قران. دکتاب الله نه په مخ اړولو زجر ذکر کوی.

دویم باب٥١نه ٦٦پورے په دے کښے داهل کتابو د موالات نه منع او دهغوي سره په موالات زجر او دترك موالات لس علتونه، دیهودو د یو باطل قول رد او اخر کښے دنیوی اخروی بشارت ذکر کوی.

دریمه حصه٦٧ نه آخره پورے دے حصه کښے هم دوه بابونه دی.

وړومبے باب ٦٧ نه ٨٦پورے. په دے کښے رد دشرك اعتقادی او ترغیب تبلیغ ته او د تبلیغ نصاب، ایمان او نیك عمل ته ترغیب، په شرك او په نقض عهد زجر. منافقانو او یهودوته تخویف دنیوی اخروی.او بعض اهل کتاب (مسلمانانو) ته بشارت اخروی او اخر کښےتخویف اخروی ذکر کوی.

دویم باب٨٧نه اخر پورے. په دے کښے رد د شرك فعلي بیان د مسائل اربعه. مسئله د قسم طرداللباب مومنانو ته ادب، د مشرکانو په دلیل رد. مبلغ ته تسلي، ذکر د حلف دپاره د تفریع په ماقبل . دلیل نقلي اجماعي

دانبیاء کرامو نه او د عیسیٰ نه تفصیلاً په نفی د علم غیب. اخر کښے بشارت او خلاصه د سورت ذکر کوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د واقعے دځامنو دادم او په واقعه د بدیل. (۲)ذکر د ترك موالات ، او ذکر د علل کثیره د هغے.

# خلاصة سورة الانعام

**ترتیب**: داسورت نزول کښے ۵۵ نمبر دے پس د سورة الحجر نه نازل شوےدے.

**ربط**:. (۱)مائده کښے دایفاء بالعقود حکم وو أنعام کښی اصل العقود یعنی د توحید بیان دے.( ۲)مائده کښی مشرکین بالعباد الصالحین باندی رد وو أنعام کښے دمشرکانوپه ټولو قسمونو باندی عمومی رد دے.

**دعوی د سورت**:.اثبات دتوحید او رد د شرك یعنی دشرك اعتقادی او فعلی رد.

**تقسیم او حاصل د سورت**:. سورت انعام دوه حصے دے وړومبے حصه ۱ نه ۱۱۷ پورے ده. په دے کښے رد د شرك اعتقادی سره دټولو اقسامو تفصیلی. دلائل عقلیه په کثرت سره، جوابونه د مختلفو شبهو او د اعتراضونو. زواجر او تخویفات منکرانوته. نبی کریمﷺ ته تسلی. په لفظ د کذلك سره درے عقبے په دعوت کښے، نقلی دلیل داهل کتابو نه، نقلی دلیل دابراهیم نه تفصیلی او دنورو انبیاؤ نه اجمالی.د دعوت د طریقو تعلیم وغیره ذکر کوی.

دویمه حصه:۱۱۸نه اخره پورے.په دے حصه کښے رد د شرك فعلی تفصیلی، رد د رسوماتو دجاهلیت، تقابل بین الفریقین، باقي درې عقبے د دعوت،تخویفات، باقي عقلي د لائل. دمشرکانو نه په شرك فعلي مطالبه د دلیل،ترغیب الي القران، دلیل نقلي از موسی،بشارت اخروي. اخره کښے اعلانات او دعوت د نبیﷺ او د ملت ابراهیمی خلاصه ذکر کوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)په بیان دعقبات سته دپاره بهادر کولو دمبلغ. (۲)پدیکښی طریقے د تعلیم ذکر دی په کثرت سره٥٦،١٥،١٤ ، ١٦٢،٧١،٥٨،٥٧.

# خلاصة سورة الأعراف

**ترتیب:**.داسورت نزول کښے ۳۹ نمبر دے پس د سورة صٓ نه نازل شوے دے.

**اسماءالسورة:**.سورة الاٴعراف ،سورة المیقات، سورة المیثاق

**ربط**:. (۱)أنعام کښے په توحید عقلی د لیلونه ذکر وو اٴعراف کښے نقلی دلیلونه ذکر دی (۲)انعام کښے دشرك ټولو انواعو باندی رد وو اٴعراف کښے د شرك علت ذکر کوی چي هغه دابلیس او دهغه د ذریت تابعداری ده.

**دعوی دسورت**:. د دریو مسئلو بیان(۱) مبلغ ته تسلی(۲)دما اٴنزل الله اتباع (۳)توحید او رد دشرك.

**تقسیم د سورت:**سورة الاٴعراف دوه حصے دے. وړومبے حصه ۱ نه ٥٣ پورے ده په دے کښے د سورت اوله او دویمه دعوی، تخویف اخروي دنیوی. په دویمه دعوی باندی واقعه دابلیس او د ادم ذکر کوی.. لفظ د یا بني آدم څلور ځله د څلورو مقاصدو دپاره ذکر کوی، ورسره بیان د تحریماتِ الهیه . بشارت او تخویف ، زجر للمشرکین ، مکالمات د اهل جنت او اهل ناراو داصحاب الاٴعراف دپاره دتخویف او بشارت . او اخر کښے نفی د شفاعت قهری ذکر کوی.

دویمه حصه٥٤ نه اخره پورے. په دے کښے دریمه دعوی(توحید)سره د مثال او عقلی دلیل، دسورت د دعوو سره متعلق نقلي دلائل د انبیاء کرامونه. ابتلاء بالنعم والنقم، واقعه د موسی داول دعو ے سره متعلق تفصیلی، ترغیب اطاعت رسول ته. په بنی اسرائیلو د نعمتونو او عذابونو تذکره، واقعه داصحاب السبت دپاره دتخویف،دیهودو په یو قبیح قول باندے رد په مختلف

طريقو سره، نفی دشرك اعتقادی . آداب د دعوت،ترغیب الی القران او دليل نقلی از ملائکه ذكر اوکوی.

**حاصل د سورت** :. سورت کښې د دریو مسئلو تفصيل دے. مبلغ ته تسلي ایت (۱۲) او دی باندی واقعه دموسی ذکر کوی. دما أنزل الله اتباع باندی دابلیس او دقوم لوط حالت ذکر کوی چې هغوی اتباع نه وه کړی. توحيد او رد د شرك آیت(۵۵)باندی واقعه د نوح، صالح او شعیب ذکر کوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د په خطابات اربعو په لفظ د بنی ادم.

(۲)ذكر د إنعام اللباس .

# خلاصة سورة انفال

**ترتیب**:. داسورت نزول کښې ۸۸ نمبر دے پس د سورة البقرة نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة**:. سورة الأنفال،سورة البدر.

**ربط**: (۱) أعراف کښې د دعوت او تبليغ آداب ذكر وو انفال کښې د قتال فی سبيل الله آداب ذكر كوى (۲)مخکښې سورتونو کښې توحيد په عقلی او نقلی دلیلونو سره ثابت شو. انفال کښې دتوحيد منكرينو سره دقتال حكم ذكر كوی.

**دعوی د سورت**:. دوه خبری دی (۱)دمال غنيمت تقسيم د الله او درسول حق دے. (۲)القتال فی سبيل الله.

**تقسیم د سورت**:. داسورت دوه حصےدے اوله حصه ۱ نه ۴۰ پورے ده په دے کښې وړومبے دعوی ، بشارت للمومنين او دهغوی اوصاف، قوانین دجهاد او علتونه د جهاد، زجر په خلاف د قوانينو، دتقویٰ اثار، تشجيع علي القتال، تخويف اخروی . او اخر کښې دویمه دعوی د سورت ذکر کوی.

دويمه حصه:٤١نه اخره پورے. په دے حصه کښے داولے دعوے تشريح او علتونه،قوانين دپاره د امير جهاد، ترغيب الي الهجرة او تقسيم دخلقو څلورو قسمونو ته، ورسره ورسره تخويف دنيوى اخروى او زجر او بشارت هم ذكر كوى.

**حاصل د سورت**:. سورت کښے ددے دوؤ دعوو تفصيل داسے دے چي دوړومبی دعوى دپاره ديارلس علتونه . او په دويمه دعوى باندي ديارلس قوانين ذكر كوى چی هغے کښے اووه قوانين د ميدانِ جهاد او اووه قوانين داميرِ جهاد دپاره دى.

**دسورت امتيازات**: (۱)بيان د مصارفو د أنفال.

(۲)ديارلس علل دپاره دالأنفال لله والرسول.

## خلاصة سورة التوبة

**ترتيب**:.دا سورة نزول کښے ۱۱۳ نمبر دے پس د سورت المائدة نه نازل شوے دے.

**اسماءالسورة**:. سورة التوبة، سورةالبراء ، سورة الفاضحة، سورةالمقشقشة، سورةالمنفرة، سورة البحوث، سورة المخزية، سورةالمنكلة، سورةالمشردة، سورة المهلكة، سورةالبعوث، سورةالعذاب.

**ربط**:.(۱)أنفال کښے قوانين دجهاد ذکر وو توبه کښے اعلان دجهاد ذکر دے (۲)انفال کښے حکم بالقتال وشوتوبه کښے اقسام دجهاد ذکر کوی.

**دعوى دسورت**:.تحضيض فى القتال.

**تقسيم او حاصل د سورت**:.سورت څلور حصے دے پکښی د څلور ډلو بيان دے مشركان،اهل كتاب، منافقان، مومنان.

وړومبے حصه ۱ نه ۲۸ پورے په دے کښے اقسام د مشرکانو او دهغوی احکام. دجهاد دموانعو جوابونه، علتونه دجهاد، بشارت او ترغیب الی القتال ذکر کوی.

دویمه حصه ۲۹نه۳۷پورے. په دے کښے اهل کتابو سره اعلان د قتال او دهغے وجوهات او داهل کتابو قباحتونه. او دمشرکانو او دیهود په رسم رد. مومنانو ته تنبیه او تخویف اخروي ذکر کوی انفاق نه کونکو ته.

دریمه حصه۳۸نه ۹۹ پورے په دے کښے منافقانو ته زواجر. ترغیبات الی الجهاد. اقسام دمنافقینو،قباحتونه د منافقانو. تخویف اخروی دنیوی. بیان د معذروینو او بشارت ذکر کوی.

څلورمه حصه ۱۰۰نه اخره پورے. په دے کښے بیان د مومنانو، اقسام دمجاهدینو،ترغیب الی الجهاد. رد په بعضے افعالو دمنافقانو دپاره دتحذیر المومنین،اوصاف دمومن مجاهدینو. نهی داستغفار للمشرك نه،ترغیب اتباع رسول ته او اوصاف درسول، او اخر کښے توحید ذکر کوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)بیان د تذکرے دغارثور او تنصیص په صحابیت دابوبکررضی الله عنه.(۲) په بیان د کفر د یهودو او وجوه د هغے.

# خلاصة سورة یونس

**ترتیب:**.دا سورت نزول کښے ۵۱ نمبر دےپس د سورت الإسراء نه نازل شوے دے.

**ربط**:.(۱)مخکښے دوه سورتونو کښے دجهاد بالسیف بیان وو. یونس کښے دجهاد باللسان بیان دے (۲)د توبے په اخر کښے بیان د توحید بغیر د دلیلونو نه ذکروو. یونس کښے بیان د توحید سره دا٘توعقلی دلیلونو ذکرکوی.

**دعوی دسورت**:. نفی دشفاعت قهری.

**تقسیم او حاصل د سورت**:.وړومبے حصه ۱ نه ۷۰ پورے. په دے حصه کښے. ترغیب الي الكتاب،منكرين ته زجر،عقلي دلائل دپاره درد دشفاعت قهری، او رد دشرك اعتقادی. تخویفات اخروی .زواجر ، بشارت،تخویفات دنیوی . رد په عقیده دمشرکانو د شفاعت قهری.تزهید فی الدنیا، براءت دالهو دمشرکانو نه.عقلی دلائل ،ترغیب الی القران، رد دشرك فعلی، بشارت اوتعریف د اولیاؤ، زجر باتخاذالولد وغیره امور ذکر کوی.

دویمه حصه ۷۱نه اخره پورے. په دے کښے تخویف دنیوی په ذکر د واقعے دنوح د قوم او دفرعون د قوم، ترغیب الی التوبة په واقعے دیونس، زواجر، اعلان دنبی علیه السلام توحید. قران ته ترغیب او تسلی وغیره ذکر کوی.

**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر د چیلنج دنوح علیه السلام خپل قوم ته (فأجمعوا أمر کم الخ).(۲)ذکر د توبے د قوم یونس ؑ.

## خلاصۃ سورۃ هود

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښے ۵۲نمبر دے پس د سورت یونس نه نازل شوے دے.

**ربط**:.(۱)یونس کښے عقلی دلیلونه ذکر وو هود کښی نقلی دلیلونه ذکر کوی (۲) یونس کښے اثبات د توحید او دشرك رد وو هود کښے دمسئلے دتبلیغ ترغیب دے.

**دعوی دسورت**:. د څلورو مسئلو بیان(۱) العبادة لله وحده (۲)العالم بکل شئ هوالله(۳)الترغیب فی التبلیغ(٤)تسلی مبلغ ته.

**تقسیم اوحاصل دسورت**:. سورت کښے ددے څلورو مسئلو تفصیل دے.(۱) **العبادة الله وحده** اية ۱۳۰۲، ۲٦، ٦۱، ۸٤، ۱۲۳. دی باندی واقعه دنوح،

هود،صالح،شعیب بطور دلیل نقلی ذکر کوی(۲)**العالم بکل شئ هوالله.**۵، ٦، ۳۱، ۱۲۳ دی باندی واقعه دابراهیم او دلوط ذکرکوی.

(۳)**ترغیب فی التبلیغ** په دی واقعه د موسی په طور د دلیلی نقلی ذکر کوی

(٤) **تسلی للمبلغ.**۲، ۱۷، ۲۳، ۳۱ په دی واقعه د موسی او لوط ذکر کوی.

ورسره ورسره ترغیب الی القران،زواجر،بشارت ،تخویف دنیوی،اعلان دبراءت. او اخر کښې خلاصه د ټول سورت ذکرکوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د تفصیلی واقعه د نوح علیه السلام چي داسې تفصیل په بل سورت کښې نه دے شوے. (۲)امربالاستقامة ولذا قال النبی صلی الله علیه وسلم شیبتنی سورة هود وأخواتها.

# خلاصه سورة یوسف

**ترتیب:**. دا سورت نزول کښې ۵۳ نمبر دے پس د سورت هود نه نازل شوے دے.

**ربط**:.(۱)هود کښې دتوحید دعوی ذکر وه یوسف کښې دوه بنیادی ارکان دتوحید (نفی دعلم غیب او نفی دتصرف)باندی د غیر الله نه نقلی دلیل ذکر دے. (۲)هود کښې دپردو طرف نه دمصیبتونو بیان ؤو یوسف کښې دخپلوانو دطرف نه دمصیبتونو بیان دے.

**دعوی دسورت**:. دسورت هود په هم هغه څلورو مسئلو باندی نوره رڼړا اچوی. یعنی داسورت دهغی سورت خاتمه ده.

**تقسیم اوحاصل دسورت**:. العبادة لله باندی دیوسف علیه السلام بیان . دعلم غیب په نفی باندی د یعقوب علیه السلام حالت ذکر کوی. په ترغیب الي التبلیغ باندی دیوسف قیدیانو ته بیان ایت۳۸ . تسلی دپاره دیوسف واقعه چی ستا حال د یوسف دحال په شان دے او د یوسف واقعه په دولسو مقاماتو مشتمله ده.

دارنګ سورت کښے ترغیب الی القران . صداقتِ رسول اول واخر کښے. زجر بالشرك،تخويف، تسلی او اخر کښے صداقت قران ذکر کوی.

**دسورت امتيازات:** (۱)ذکر د رؤیاءِ ثلاثه(۳٦،٤ ، ٤۲).

(۲)ذکر د خلط د شرك د ایمان سره.

## خلاصة سورة الرعد

**ترتيب:**.دا سورت نزول کښے ۹٦ نمبر دے پس د سورت **محمد** نه نازل شوے دے.

**ربط:**.(۱) **مکی** سورتونو کښے د توحید په اثبات صرف د لیلونه ذکر وو سورة رعد کښے ددلیلونو سره سره مثالونه هم ذکر کوی. (۲)**مخکښی** سورتونو کښے نفی د علم غيب وشوه نو رعد کښی وائی چی غیر الله عالم الغيب نه وی نو رابلیږئ ولی؟

**دعوی دسورت** : د شرك في الدعاء نفی.

**حاصل او تقسيم د سورت** :. سورت په پنځه بابونو مشتمل دے.

وړومبے باب ۱انه ١٤پورے په دے کښے ترغیب الی القران ، دلائل چی خالق لكل شئ هو الله ، زواجر ، جواب د سوال ، ثمره د دلائلو. او مثال د مشرك ذکرکوی.

دويم باب ١٦انه۲٥پورے. په دے کښے دلائل عقلی،شرك فی التصرف باندے زواجر. دوه مثالونه دمومن او دمشرك،ورسره ورسره تقابل په مینځ د اوصافو کښے،تخويف او بشارت ذکر کوی.

دريم باب:۲٦نه۳۱پورے په دے کښے عقلی دلیل، زواجر، بشارت ، اثبات د رسالت، بیان دتوحید ، او جواب د یوسوال ذکر کوی.

څلورم باب ۳۲نه ۳۷پورے په دے کښے عقلی دلیل ، تسلی تخویف اخروی، زجر، بشارت، سبب دشرك، نقلی دلیل. قرآن ته ترغیب ذکر کوی.

پنځم باب ۳۸ نه آخره پورے په دے کښے نبی کریم علیه الصلوة والسلام ته تسلی ،تخویف اخروی للمنکرین، زجر په انکار د رسالت او اثبات د رسالت په شهادت سره ذکرکوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر تسبیح دملائکے. (۲)کثرت تنبیهات.

# خلاصۃ سورۃ ابراهیم

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښے ۷۲ نمبر دے پس د سورت نوح نه نازل شوے دے.

**ربط**:.(۱)مخکښی مسئله ثابت شوه. ابراهیم کښے ترغیب دے تبلیغ ته(۲)رعد کښے مقصد د رسالت یعنی خلقو ته د الله ایتونه لوستل بیان شو ابراهیم کښے مقصد ذکر دےد تلاوت یعنی خلق د تیارو نه رنړا ته راویستل.

**دعوی دسورت**:. ترغیب الی التبلیغ او تذکیر بأیام الله.

**تقسیم او حاصل د سورت**:. سورت کښے ۵ بابونه دی او څلور ځله پکښی لفظ د الم ذکر دے چې د هغی نه پس هر ځل یوه مستقله خبره ذکر ده.

وړومبے باب ۱ نه ۸ پورے .په دے کښے ترغیب او تحضیض فی التبلیغ، مختصر عقلی دلیل سره دتخویف نه، زجر په اوصاف قبیحه،تاکید د دعوے او ددعوے دتاکید دپاره نقلی دلیل دموسیٰ علیه السلام نه ذکر کوی.

دویم باب ۹نه۱۸ پورے په دے کښے په اول ځل لفظ د الم ذکر دےپه دے کښے جدال المشرکین مع الانبیاء والموحدین او د جدال طریقے او نزوال العذاب علي المشرکین او مثال د عمل د مشرکانو ذکر کوی.

دریم باب۱۹ نه ۲۳ پورے. دے کښے په دویم ځل لفظ د الم ذکر دے په دے کښے مختصر عقلی دلائل . دآخرت حالات دپاره دتذکیر،دعابدینو او معبودانو براءت دپاره دتخویف (جدال المشرکین فیما بینهم) او آخر کښے بشارت ذکر کوی.

ځلورم باب۲٤نه۲۷پورې. په دے کښے په دريم ځل لفظ د الم ذکر دے. د توحيد او د شرك مثال .تخويف او بشارت ذکر کوی.

پنځم باب۲۸ نه اخره پورے په دے کښے په ځلورم ځل لفظ د الم ذکر دے زجر، تخويف، عقلی دلائل. نقلی دليل از ابراهيم، نبی کريم ته تسلی. تخويف اخروی تفصيلی ،اخر کښے دعوی دتوحيد او خلاصه د سورت ذکر کوی.

**دسورت امتيازات:** (۱)ذکر د واقعات مخصوصه د حضرت ابراهيمؑ.(۲) مکالمے دشيطان دخپلو اتباعو سره او اعلان دبيزارئ دهغوی نه.

## خلاصة سورة الحجر

**ترتيب:**. دا سورت نزول کښے ٥٤ نمبر دے پس د سورت يوسف نه نازل شوے دے.

**ربط:** (۱)ابراهيم کښے دموحدينو او مشرکانو بيان وو حجر کښے د دواړو انجام ذکر دے. (۱)ابراهيم کښی انذرالناس مضمون ذکروو حجر کښے دانذار طريقه ذکر ده. (فاصدع بما تؤمر).

**دعوی دسورت:** دتيرو خلقو په واقعاتو مجرمانو ته تخويف.

**تقسيم او حاصل د سورت:** سورت کښے دری بابونه دی.

وړومبے باب ۱ نه ۱٥ پورے. پدے کښے قران ته ترغيب، تخويف للمنکرين په ذکر د تمنا د ايمان. زواجر منکرينِ رسالت ته، تخويف دنيوی. زجر بالاستهزاء او زجر په انکار د معجزو ذکرکوی.

دويم باب ۱٦نه٥٠پورے. په دے کښے عقلی دلائل، دعوے سره متعلق واقعه د ادم او ابليس ذکرکوی. تخويف دنيوی اخروی او بشارت ذکر کوی.

دريم باب ٥١نه آخره پورے. په دے کښے تخويف دنيوى په ذكر داقوام خمسه مكذبه. د مقتسمينو او مستهزئينو د عذاب تذكره. نبي كريم ته تسلي او تشجيع او آداب ذكر كوى.

**دسورت امتيازات:** (١)ذكر د وعدے دحفاظت دقرآن ايت،٩.(٢) ذكر د خلقت د ابو الجن اوابوالإنس .

# خلاصة سورة النحل

**ترتيب:**. دا سورت نزول کښے ٧٠ نمبر دے پس د سورت الكهف نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة:**.سورة النحل، سورة النعم.

**ربط:** (١)حجر کښے په تيرو مكذبينو باندى د عذاب راتلل ذكر وونحل کښے اوسنى مكذبينو باندى د عذاب راتلل ذكر دى (٢) حجر کښے دتوحيد بيان وو نحل کښے په توحيد عقلي دليلونه ذكر دى.

**دعوى دسورت:** په موجوده خلقو عذاب راتلل او په مختلفو دليلونو سره دتوحيد اثبات.

**تقسيم او حاصل دسورت:**سورت په دؤو حصو مشتمل دے وړومبے حصه اول ١ نه١١٣ پورے. په دے کښے دعوى د سورت، توحيد باندے عقلي دلائل ، تخويفات دنيويه اخرويه ، زواجر ، بشارات ، رد د شرك اعتقادى او فعلي . ترغيب الى القران ،دليل نقلي اجمالي د انبياؤ نه. امور مصلحه لدفع العذاب وغيره امور ذكر كوى.

دويمه حصه ١١٤نه اخره پورے. په دے کښے رد د شرك فعلي. زجر، د ليل نقلي دابراهيم نه، ترغيب الى التبليغ او طريقے او آداب دتبليغ ذكر كوى.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر دایت چي جامع دے اوامرونواهی او احکامو لره (ایت ۹۰)(۲)ترغیب الی الوفاء بالعهد.

## خلاصة سورة الاسراء

**ترتیب:**.دا سورت نزول کښے ۵۰نمبر دے پس د سورت القصص نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة:.** سورة الإسراء، سورة سبحان،سورة بنی اسرائیل، سورة الأقصيٰ.

**ربط**:. (۱)نحل کښے د عذاب د راتلوتذکره وه بنی اسرائیل کښے دعذاب اسباب ذکر دی (۲)نحل کښے د معجزو د مطالبے تذکره وه بنی اسرائیل کښے د معراج دمعجزے ذکر دے.

**دعوی دسورت**:. د هغه ځلور خبرو بیان چی د هغی مرتکب د عذاب مستحق جوړیږی (۱) همیشه شرك کول (۲) د شعائر الله بې عزتی کول (۳) انبیاء کرام شړل (٤)انبیاء کرامو پوری ټوقے او مسخرے کول.

**تقسیم او حاصل د سورت**:. سورت په ځلورو حصو مشتمل دے او په هره حصه کښے د عذاب دیو یو سبب ذکر دے.

وړومبے حصه ۱نه ۵۸ پورے په دے کښے دعوی د توحید سره د دلائل عقلی نقلی، وحی ، نمونه د بنی اسرائیلو دپاره د تخویف دنیوی. وړومبے سبب دعذاب (شرك)، زواجر للمشرکین والمنکرین ،امور ثلاثه(شرك مه کوئ،ظلم مه کوئ،احسان وکړئ) لدفع العذاب وغیره امور ذکر کوی.

دویمه حصه:۵۹ نه ۷۵ پورے. په دے کښے د عذاب دویم سبب ذکر کوی. او د هغے مثال کښے د قوم صالح حالت ذکر کوی. واقعه دابلیس

د پاره د زجر دمتکبرینو. عقلي دلیل، تخویف دنیوی اخروی. بشارت او تحذیر من المداهنة ذکر کوی.

دریمه حصه ۷۶ نه ۱۰۰ پورے په دے کښے دریم سبب د عذاب . امور مصلحه ، بشارت، ترغیب الی القران، زواجر، عقلي دلیل ، جواب د اعتراض د بشریت نه په انکار ذکر کوی.

څلورمه حصه۱۰۱نه اخره پورے په دے کښے څلورم سبب دعذاب ذکر کوی او دهغے مثال په واقعے دموسی علیه السلام او فرعون . ترغیب الی القران ،نقلي دلیل د حق پرستو علماؤ نه او اخر کښے توحید ذکر کوی.

**دسورت امتیازات:**(۱) کثرة مصائب علیٰ الرسول علیه السلام.

(۲) ذکر دهجرت دنبی علیه السلام او دعا د نبی علیه السلام ایت(۸۰).

# خلاصۃ سورۃ کھف

**ترتیب:**. دا سورت نزول کښے ٦٩ نمبر دے پس د سورت الغاشیه نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة:**. سورةالکهف، سورةالحائلة.

**ربط:**. (۱)بنی اسرائیل کښے د اتخاذ الولد نفی وه کهف کښے داتخاذ الولو د عقیدے قباحت ذکر کوی.(۲)بنی اسرائیل کښے دعوی د توحید وه کهف کښے د توحید اثبات د پاره د نیکانو بندیګانو نه د علم غیب نفی ذکر کوی.

**دعوی دسورت:**. د شرك فی العلم دنفی دپاره دغوره خلقو عاجزی.

**تقسیم د سورت:**.سورت څلور حصے دے.

وړومبے حصه ۱ نه ٤٩ پورے. په دے کښے د اولے شبهے جواب په ذکر د واقعے داصحاب الکهف. نفی د علم غیب د نبی کریم،نه تفریعات په

واقعه داصحاب کهف .نبی کریم ته تسلی، تخویف اخروی. بشارت،خساست ددنیا په دریو طریقو سره ذکر کوی.

دویمه حصه ۵۰ نه ۵۹ پورے. په دے کښے ددویمے شبهے جواب . واقعه د ادم او دابلیس دپاره دجواب د شبهے ، زواجر،تخویف دنیوی اخروی وغیره ذکرکوی.

دریمه حصه۶۰ نه ۸۲ پورے. د دریمے شبهے جواب دپاره واقعه د موسی او خضر علیها السلام ورسره ورسره آداب د تعلیم ذکرکوی.

څلورمه حصه۸۳نه آخرپورے . په دے کښے دڅلورمے شبهے جواب په ذکر د واقعے د ذوالقرنین سره. تخویف اخروی،بشارت، اخر کښے صداقتِ رسول او توحید ذکرکوی.

**تقسیم اوحاصل د سورت:**. د علم غیب په نفی باندی څلور واقعات ذکر کوی. (۱)اصحاب کهف(۲)موسی او خضر(۳) ذوالقرنین(٤)نبی کریم،او د دنیا د خساست بیان په دریو طریقو سره کوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر دواقعے دموسیٰ او خضر چي متضمن ده ادابو علم لره.(۲)تفصیل د واقعے د ذوالقرنین.

## خلاصۃ سورۃ مریم

**ترتیب:**. داسورت نزول کښے ٤٤ نمبر دےپس د سورۃ الفاطر نه نازل شوے دے.

**اسماءالسورۃ:**. سورۃ مریم، سورۃ کهیعص.

**ربط:**. (۱)کهف کښے دنیکانو بندیگانو نه د علم غیب نفی ذکر وه مریم کښے فرمائی عالم الغیب خولری خبره ده هغوی پخپله الله ته محتاج او عاجز دی.(۲)دکهف په ابتداء کښے دقرآن دنزول بیان وو. مریم کښے دقرآن مقصد ذکر دے.

**دعوى دسورت**:. دشرك فى التصرف دنفى دپاره د غوره خلقو عاجزى ذكركوى.او دباقي شبهو جواب.

**تقسيم او حاصل دسورت**:. سورت په دوحصو باندى مشتمل دے.

ورومبئ حصه ١نه ٦٣ پورى. ديكښى دانبياء كرامو الله ته عاجزى بيانوى.ورومبے حصه كښے ازاله د شبهے د الوهيت په انبياؤ او الياؤ كښے،عجز دمختلفو انبياؤ كرامو. تخويف اخروى او بشارت ذكركوى.

دويمه حصه ٦٤نه اخره پورے په دے كښے ازاله د شبهے د اولوهيت په ملائكو كښے، زواجر، تخويفات اخروى ،بشارت، نفى د شفاعت قهرى، ترغيب الى القران او تخويف د نيوى ذكركوى.

**دسورت امتيازات:** (١)ذكر دخصوصى حالاتو ادريس عليه السلام (ورفعناه مكانا عليا).(٢)قباحة اتخاذ الولد.

# خلاصة سورة طٰهٰ

**ترتيب**:.دا سورت نزول كښے ٤٥ نمبر دے پس د سورت مريم نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة**:. سورة طه، سورةالكليم.

**ربط**:. (١) مخكښى دتوحيد اثبات او دشبهو جواب ذكروو. طه كښى په تبليغ كولو باندى تشجيع ذكر كوى. (٢)كهف او مريم كښئ ذكر و و چې نيكان بنديګان متصرف نه دى عاجزان دى طه كښى وائى چي مصيبتونه پرے راغلى وو.

**دعوى دسورت**: دوه مسئلې ذكر كوى. (١) التشجيع على التبليغ (٢) ابتلاء بالمصائب.

**تقیسم او حاصل دسورت**:. سورت په دوحصو مشتمل دے.

وړومبۍ حصه انه ۹۸ پورےوړومبے حصه کښے ترغیب الی القران او تشجیع، دلائل عقلیه، دعوی او ثمره،واقعه د موسی علیه السلام تفصیلی دپاره دتشجیع ، ورسره تخویف او بشارت هم ذکر کوی.

دویمه حصه۹۹ نه اخره پورے.په دے کښې تخویف اخروی تفصیلی. بشارت، ترغیب الی القران ، واقعه دادم دپاره دتشجیع او تحذیرا عن النسیان، تخویف اخروی بالإعراض عن القران . تسلی او تشجیع للنبی، تزهید فی الدنیا، زجر او جواب د سوال ذکرکوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر دعذر دادم (فنسي ولم نجد له عزما) (۱۱۵). (۲)تفصیل د قصے د موسیٰ علیه السلام.

# خلاصة سورة الانبیاء

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښے ۷۳ نمبر دےپس د سورة ابراهیم نه نازل شوےدے.

**ربط**:. (۱)طه کښے په مصیبتونو سره د ازمیښت بیان وو انبیاء کښے د ازمیښت نه پس داکرام بیان دے (۲)طه کښے صرف د موسی په واقعے سره بهادر کول ذکروو. انبیاء کښے دنورو پیغمبرانو واقعات ذکر کوی دبهادر کولو دپاره.

**دعوی دسورت**:.إکرام الانبیاء بعد الابتلاء۔

**تقسیم اوحاصل دسورت**:. سورة الانبیاء دوه حصے دے. وړومبے حصه ۱نه ٤٧ پورے.په دے کښے تخویف اخروی. مراتب د غفلت ، اعتراضونه او فتوے په نبی علیه السلام او دهغے جواب، ترغیب الی القران،عقلی دلائل .دوه نقلی دلائل ،زواجر . نبی کریم ته تسلی او اخر کښے تخویف اخروی ذکرکوی.

دویمه حصه ٤٨ نه اخره پورے. په دے کښے نقلی دلائل د مختلف انبیاء کرامونه. زواجر، تخویفات، بشارت، ترغیب الی القران ، دعوی دتوحید او اخر کښے تخویف ذکرکوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر دخصوصی دعا د یونس علیه السلام۸۷.
(۲)ابتلاء دابراهیم علیه السلام بالنار.

# خلاصۃ سورة الحج

**ترتیب:**.دا سورت نزول کښے ۱۰۳ نمبر دے پس د سورة النور نه نازل شوے دے.

**ربط**:.(۱) انبیاء کښے ئي اووئیل چې دحساب کتاب وخت نزدے دے حج کښې دهغې نخښنه ذکر کوی (إن زلزلة الساعة شئ عظیم). (۲) انبیاء کښے دشرك فی الدعاء رد وو چې د شرك اعتقادی یو قسم دی۔حج کښے د شرک فعلي رد دې.

**دعوی دسورت**:. رد د شرك فعلی او اعتقادی او دځلورو مسئلو وضاحت.

**تقسیم او حاصل دسورت**: سورت په دوحصو مشتمل دے. وړومبۍ حصه انه ۲۵ پوری.

وړومبے حصه کښے تخویف اخروی او دهغے نمونه(زلزله). عقلی دلیل دپاره دتوحید او اثبات قیامت. زواجر،رد دشرك او مثال د مشرك، بشارت للمومنین او تخویف للمنکرین ذکرکوی.

دویمه حصه ٢٦نه اخره پورے په دے کښے رد د شرك فعلی، حال د مشرك، دلیل نقلی دابراهیم نه. اوصاف دمومنانو.اعلان او إذن دقتال او دهغے علتونه، تخویفات، بشارت . صداقتِ رسول، عداوة الشیطن، عقلی دلائل په توحید. مثال د مشرك او اخر کښے ترغیب الي الجهاد او امور مصلحه او بشارت ذکر کوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د إذن دقتال ایت۳۹.
(۲)ذکر د زلزلے کبرٰی.

# خلاصة سورة المؤمنون

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښې ٧٤ نمبر دے پس د سورة الانبیاء نه نازل شوے دے.

**ربط**:. (١)حج کښې دلوئ زلزلےبیان وو المومنون کښې دهغے نه د نجات دپاره دمومنانو صفتونه ذکر کوی (٢) حج کښې دشرك فعلی رد وو مومنون کښې دشرك فعلي مبدأ یعنی شرك فی البرکات رد کوی.

**دعوی دسورت**:. دتوحید اثبات دری قسمه دلیلونو سره او رد دشرك او دمومنانو او د کافرانو صفتونه.

**تقسیم او حاصل دسورت** :.سورت په پنځو بابونو مشتمل دے.

وړومبے باب ا نه ١١پوری.

دیکښے اوصاف المومنین ، بشارت اخروی ذکرکوی.

دویم باب:١٢ نه ٢٢پورے په دے کښے دلائل عقلیه ،تخویف ، دعوی دتوحید ذکرکوی .

دریم باب ٢٣نه ٥٠ پورے. په دے کښے دلائل نقلیه دانبیاء کرامو نه څه تفصلی او څه اجمالي ذکر کوی.

څلور باب ٥١ نه ٧٧ پورے. په دے کښے نقلي دلیل د انبیاء کرامو نه، اوصاف دمومنانو. زواجر، تسلی اوتخویف او د مشرکانو بدصفتونه ذکر کوی.

پنځم باب٧٨نه اخره پورے په دے کښے عقلی دلائل. زواجر، تخویفات،بشارت، طریقه دتبلیغ او اخر کښے دعوی د توحید او مشرك ته تخویف او تعلیم د دعا ذکر کوی.

**دسورت امتیازات**: (١)ذکر دخصوصی حالت دمعرضینو په قیامت کښے تلفح الخ ایت١٠٤.(٢)دلائل اعترافیه.

# خلاصة سورة النور

**ترتیب**:.داسورت نزول کښے۱۰۲نمبر دے پس د سورةالحشر نه نازل شوے دے.

**ربط**:. (۱)مؤمنون کښے د مومنانو صفتونه ذکر وو چي د زنا نه ځان بچ کوی نورکښے هغه قواعد او آداب ذکر کوی چي په هغی سره د معاشری نه زنا ختمیږی (۲)حج کښے دمشرکانوصفتونه ذکر وو او مومنون کښی دموحدینو صفتونه ذکر وو نورکښے دمنافقانو صفتونه ذکر کوی دپاره دتحذیر.

**دعوی دسورت**:.دبے حیائی دختمولو دپاره دڅوامورو بیان.

**تقسیم د سورت**:.سورت دوه حصے دی.

وړومبے حصه ۱ نه ۵۷ پورے. په دے کښے ترغیب تعمیل د احکاموته. قوانین اربعه دپاره دسدالفحشاء ،زواجر ممنافقین ته، آداب للمومنین . تخویف اخروی، صفات مذمومه للمنافقین، بشارت ، اووه احکام دپاره دبے حیائی دختمولو. ترغیب الی القران،مثال د توحید، دوه مثالونه د مشرکانو د عمل. عقلی دلائل، اوصاف المومنین او بشارت دنیوی ذکر کوی.

دویمه حصه۵۸نه اخره پورے. په دے کښے آداب مومنانو ته، ترغیب الي القران . تقابل بین المؤمن والمنافق ،د نبی کریم علیه الصلوٰة والسلام عظمت او اخر کښے توحید او تخویف ذکرکوی.

**حاصل د سورت**:. دبے حیائی دختمولو دپاره څلور قوانین او درے آداب ذکرکوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر دواقعے دافك او براءت دعائشے ام المومنین.(۲) خاص مثالونه د مشرك او د مؤمن.

## خلاصۃ سورۃ الفرقان

**ترتیب:**. دا سورت نزول کښے ۴۲ نمبر دے پس د سورت یٰسین نه نازل شوے دے.

**ربط:**. (۱)نورکښے دهغه صفتونو بیان وو چې دهغی نه ځان بچ کول پکار وو فرقان کښې هغه صفتونه ذکر دی چي هغي سره ځان ښائسته کول پکار دی (۲)نور کښے دغلطے معاشرے رد وو فرقان کښے دغلطے عقیدے رد دي.

**دعوی دسورت:**.رد دشرك في البركات او دڅلورو مقاصدو بیان مرارا.

**تقسیم اوحاصل دسورت:**.سورت کښے څلور بابونه دی.

وړومبے باب ۱نه ۹ پوری.دیکښے دعوی دسورت سره د عقلي دلائلو. رد په مشرکانو په وجوه سته سره. زواجر او ذکر د اعتراضاتو په رسول باندے.

دویم باب ۱۰ نه ۳۴پورے. په دے کښے دعوی دتوحید (سورت)، زجر، تخویفات اخروی.بشارت،جواب د اعتراضونو. او تسلی نبی کریم علیه السلام ته ذکرکوی.

دریم باب۳۵نه ۶۰ پورے. په دے کښے دلائل نقلي، تسلي للنبی، زواجر، تخویف دنیوی دلائل عقلي او رد علي المشرکین ذکر کوی.

څلورم باب۶۱نه اخره پورے. په دے کښے اوصاف المومنین سره د بشارت نه. او اخر کښے تخویف ذکر کوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر دخصوصی حالت دظالم (بعض الظالم۲۷).
(۲)دعویٰ د تبارك درے ځله.

# خلاصة سورة الشعراء

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښے ٤٧نمبر دے پس د سورت الواقعه نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة**:. سورة الشعراء، سورةالجامعة، سورةالظلة.

**ربط**:. (۱)فرقان کښے دشرك فی البرکات رد وو په عقلی دلیلونو سره شعراء کښے په هغی باندی نقلي دلیلونه ذکر دي (۲)فرقان کښے د مشرکانو دطرف نه نبی علیه السلام پوری دټوقو کولو بیان وو. شعراء کښے نبی علیه السلام ته تسلی ذکرکوی.

**دعوی دسورت**:.نبی ته تسلی ورکوی دمومنانو په نجات او دمنکرانو په هلاکت.

**تقسیم او حاصل دسورت**:.سورت په دریو بابونو مشتمل دے.

وړومبے باب ۱ نه ۱۰ پورے. په دے کښے ترغیب الی القران . دعوی د سورت،تخویف دنیوی او مختصر عقلی دلیل او ثمره د دلیل ذکرکوی.

دویم باب ۱۱نه ۹۲ پورے. په دے کښے دلائل نقلیه تفصیلی دپاره د رد دشرك فی البرکات او تسلی للبنی علیه السلام ذکر کوی.

دریم باب ۱۹۳ نه اخره پورے. په دے کښے صد اقة القران، زواجر، تخویفات، جواب د دوؤ شبهو، رد د شرك في الدعاء، تحضیض فی التبلیغ او طریقه دتبلیغ . تسلی للنبی او اخر کښے تخویف دنیوی ذکرکوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر دخصوصی امر نبي علیه السلام ته وأنذر عشیرتك الأقربین.(۲)تقسیم د شعرآء.

# خلاصة سورة النمل

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښې ٤٨ نمبر دے پس د سورت الشعراءنه نازل شوے دے.

**اسماء السورة**:. سورة النمل، سورةالهد هد.

**ربط**: (١)شعراء کښې نقلي دلیلونه ذکر وو. نمل کښې عقلي دلیلونه بیانوی(٢)مخکښې سورتونو کښې ذکر شو چې برکات ورکونکے ذات الله دے نمل کښې دهغې دوه وجې ذکر کوی چې غیب دان او بچ کونکے ذات یو الله دے.

**دعوی دسورت**:.دوه خبرې دی. دغیر الله نه دعلم غیب نفی (٣)غوره خلقو ته سلامتی ورکول او بچ کول د الله کار دے .

**تقسیم د سورت**:. سورت په دریو بابونو باندی مشتمل دے.

ورومبے باب ١نه ٦ پورے .په دے کښې تمهید دے چې پکښې ترغیب الی القران،اوصاف المومنین، زجر، تخویف اخروی او نبی کریم ته تسلی ذکر کوی.

دویم باب٧ نه ٥٨ پورے .په دے کښې څلور واقعات دوه د ورومبے دعوے سره او دوه د دویمے دعوے سره متعلق دی.

دریم باب٥٩نه اخره پورے .په دے کښې دواړه دعوے او د هغے خلاصه، دلائل عقلیه اعترافیه . زواجر،تسلي نبی کریم ته، تخویفات، ترغیب الی القران او اخر کښې توحید او دلیل وحی ذکر کوی.

**حاصل دسورت**:. سورت کښې ددغه دؤو خبرو تفصیل دے. په ورومبۍ مسئله باندی دوه واقعات دموسی او د سلیمان چې هغوی عالم الغیب نه وو. او ددی خلاصه آیت ٢٥ کښې او په دویمه مسئله هم دوه واقعات د لوط او د صالح چې هغوی ته نجات ماورکړے وو. او ددی خلاصه آیت ٥٩ کښې ده.

**دسورت امتیازات**: (١)ذکر دخطاب دنمل. (٢)خروج د دابّة الارض.

# خلاصة سورة القصص

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښې۴۹نمبر دے پس د سورت النمل نه نازل شوے دے.

**ربط**:. (۱)فرقان نه نمل پورے مسئله دتبارك ذکر شوه او س د دے مسئلے په تبلیغ تیزی ورکوی(۲)نمل کښے ذکر شو چی عالم الغیب او بچ کونکے صرف الله دے قصص کښے په دے دموسی علیه السلام واقعه ذکر شوے ده چی موسی علیه السلام عالم الغیب نه وو او د مشکلاتو نه بچاؤ کښے الله ته محتاج وو.

**دعوی دسورت**:. نبی کریم ته تسلی او په تبلیغ تیزی ورکول دموسی په واقعے.

**تقسیم او حاصل د سورت**:.سورت په دوه حصو مشتمل دے اوله حصه ا نه ۴۳پورے ده.

ورومبے حصه کښے ترغیب الی القران. دعوی دسورت، واقعه د موسی علیه السلام اول اجمالی بیا تفصیلی ذکرکوی.

دویمه حصه۴۴نه اخره پورے په دے کښے صداقت رسول، دپیغمبرانو دراليږلو حکمت،زواجر، تخویفات ، عقلی دلائل،تخویف دنیوی په یو مثال سره، ترغیب الی القران، دلیل نقلی د مومنانو اهل کتابونه او دهغوی اوصاف، په واقعه د موسی باندے تفریعات او اخر کښے توحید او تشجیع ذکرکوی.

**دسورت امتیازات**:(۱) ذکر د واقعے او هلاکت دقارون.(۲)امور متفرعه دنبی صلي الله علیه وسلم په امور و دموسیٰ علیه السلام.

# خلاصة سورة العنكبوت

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښے ۸۵نمبر دےپس د سورة الروم نه نازل شوے دے.

**ربط**:. (۱)قصص کښے په انبیاء کرامو باندی دازمیښتونو تذکره وه عنکبوت کښے په مومنانو باندی دازمیښتونو تذکره ده (۲)دقصص په آخر کښے دتوحید بیان وو په عنکبوت کښے دتوحید په وجه دراتلونکو مجاهدو بیان دے.

**دعوی دسورت**:.دمومنانو ازمیښت اودمنکرانو هلاکت ذکر کول.

**حاصل دسورت** :. سورت کښے څلور امتحانونه ذکر دی نفس سره جهاد اية(۲). دوالدینو سره جهاد (چی مسلمانان نه وی)اية ۸. دعوامو سره جهاد اية۱۰. دناکاره علماؤ سره جهاد اية۱۲،دامتحان په کیفیت واقعه دابراهیم اية ۲۶. د امتحان په موده واقعه دنوح اية ۱٦او دمنکرینو په حالت باندی دعادیانو ثمودیانو او دفرعون او دقارون واقعات ذکر کوی. دارنګ سورت کښې زواجر ، تخویفات، تشجیع علي التبلیغ، ترغیب الی الهجرت، بشارت للمهاجرین، صداقت رسول، مثال دشرك او دمشرکانو ،عقلی دلائل او اخر کښے دعوی د سورت ذکرکوی.

**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر د مثال د شرك د بیت العنکبوت سره. (۲)تشجیع په طول عمر او تعذیب بالنار او إخراج او تکذیب سره.

# خلاصة سورة الروم

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښې ۸٤ نمبر دے پس د سورت الانشقاق نه نازل شوے دے.

**ربط**:. (۱)عنکبوت کښې مصیبتونه او ازمیښتونه ذکرو. روم کښې مومنانو ته دفتح زیرے ذکر کوی(۲)مخکښې توحید ذکر شو اوس پرې عقلی دلیلونه ذکر کوی.

**دعوی دسورت**:.مومنانو ته دفتح او دنصرت بشارت او اثبات دتوحید.

**تقسیم او حاصل دسورت**:.سورت په دریو بابونو مشتمل دے. وړومبے باب ۱نه ۱۸ پورے.

وړومبے باب کښې د سورت په دعوی باندے مثال، دعوی، بشارت او تسلي ، عقلی دلیل، زجر، تخویف دنیوی، او اخر کښې دعوی دتوحید ذکر کوي.

دویم باب۱۸نه ٤٠ پورے .په دے کښے عقلی دلائل ،دتوحید او د شرك مثال، اصول د نصرت ورسره تخویفات او زواجر ذکرکوی.

دریم باب ٤١نه اخره پورے .په دے کښے نور عقلی دلائل، تخویف دنیوی اخروی، بشارت،زجر، ترغیب الی القران او اخر کښے قاعده کلیه او تسلی ذکرکوی.

**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر د واقعے دروم دپاره د زیری مسلمانانو ته. (۲)ذکرد اوقات خمسه د صلوة مفروضه.

# خلاصة سورة لقمٰن

**ترتیب**:. دا سورت نزول کښې۵۷ نمبر دے پس د سورت الصٰفٰت نه نازل شوے دے.

**ربط**:. (۱)روم کښې په توحید باندی عقلی دلیلونه ذکر وو.لقمان کښې پری دری قسمه دلیلونه(وحی،عقلی ، نقلی) ذکر کوی(۲)روم کښې الله نبی ته فرمائلی وو فاصبر،لقمان کښې لقمان حکیم خپل ځوی ته دصبر تلقین کوی.

**دعوی دسورت**:.دتوحید اثبات په درے قسمه دلیلونوسره او دشرك اعتقادی نفی.

**تقسیم او حاصل دسورت**:. سورت په دو بابونو مشتمل دې.

وړومبے باب ۱انه ۱۹ پورے .په دے کښې ترغیب الی القرآن اوصفات داهل القرآن. منکرینو دقران ته زجر او دهغوی بدصفتونه، بشارت للمؤمنین ، عقلی دلیل. نقلی دلیل د لقمان حکیم نه تفصیلی ذکرکوی.

دویم باب ۲۰ نه اخره پورے .په دے کښې عقلی دلائل ،زواجر، تخویف او بشارت، دعوی د توحید. او اخر کښې عقلی دلیل او رد دشرك فی العلم ذکر کوی.

**دسورت امتیازت**: (۱)ذکر د وصیتونو د لقمان حکیم.(۲)ذکر د امور خمسه د مغیباتِ مخصوصه نه.

# خلاصة سورة السجدة

**ترتیب:**.دا سورت نزول کښې ۷۵ نمبر دے پس د سورة المؤمنون نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة**:. سورةالم سجده. سورةالمضاجع، سورةسجدة لقمان، سورةالم تنزیل، سورة المنقسمة، سورةالمنجیة.

**ربط**:. (۱)لقمان کښې دتوحید بیان اوشو په دلیلونو سره سجده کښېدمشرکانو دشبهو جواب کوی(۲)دلقمان په اخر کښې پنځمه مغیبات ذکر وو سجده کښې شپږم ایة کښې دهغې خلاصه ذکر کوی.

**دعوی دسورت**:.دزور دسفارش نفی په دلیلونو سره او ماقبل باندی تفریع.

**تقسیم اوحاصل د سورت** :. سورت سجده کښې دوه بابونه دی.

وړومبے باب ۱ نه ۲۲پورے په دے کښے ترغیب او صداقت د قران،زجر، تخویف دنیوی اخروی، بشارت للمومنین،عقلی دلائل ،تقابل بین المؤمنین والکافرین او اخر کښے تخویف ، زجر او سبب د عذاب ذکرکوی.

دویم باب ۲۳ نه اخره پورے په دے کښے دلیل نقلی د موسی نه، تخویف دنیوی عقلی دلیل، زجر او اخر کښے تسلی للنبی علیه السلام ذکرکوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د خصوصی بشارت آیت ۱۷.

(۲)ذکر د ائیمه د بنی اسرائیلو.

# خلاصۃ سورۃ الاحزاب

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښې ۹۰نمبر دے پس د سورة ال عمران نه نازل شوے دے.

**ربط**:. (۱)سجده کښې دیوی غلطے عقیدی رد وو احزاب کښې دیو غلط رسم رد دے (۲)مخکښې توحید ذکرشو اوس په تبلیغ تیزی ورکوی.

**دعوی دسورت**:.په تبلیغ تیزی ورکول اومومنانو ته د الله او درسول دتابعدارئ ترغیب.

**حاصل دسورت**:سورت کښې د دعوے تفصیل دے په تبلیغ دتیزولو دپاره نبی علیه الصلوٰة والسلام ته دولس خطابونه او دتوقیر او دتابعدارۍ دپاره مومنانو ته شپاړس خطابونه ذکر کوی.ورسره ورسره زواجر منافقانو ته او دهغوی بد صفتونه، دمومنانو اقسام او صفتونه. تخویفات ،فوائد دتقویٰ او اخر کښې تخویف او بشارت ذکرکوی.

**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر د نکاح د نبی علیه السلام د زینب سره او خصوصیت د نبی علیه السلام په لفظ د خاتم النبین سره او تذکره د زید رضی الله عنه.(۲)ردّ د رسوماتود جاهلیت.

# خلاصة سورة سبا

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښې۵۸نمبر دے پس د سورة لقمان نه نازل شوے دے.

**ربط**:. (۱)داحزاب په آخرکښې دا ٔمانت تذکره وه سبا کښې دهغه امانتونو (عقائدحقه) بیان دی چې دهغې ذمه داری پوره کول دی. (۲)احزاب کښې درسول الله عظمت اوشان بیان وو. سبا کښےپه توحید او رسالت باندی دشبهو جواب ذکر دے.

**دعوی دسورت**:. دزور د سفارش نفی او دخلورو عزتمند وعاجزی (۱)انسان (۲)پیریان (۳)ملائك (٤)بادشاهان.

**تقسیم او حاصل دسورت**:.سورت کښې دری بابونه دی.

وړومبے باب ۱ نه ۹ پورے. په دے کښے دعوی دتوحید سره د دلائلو ، زجر ،تخویف دنیوی اخروی،بشارت اخروی، دلیل نقلی او صداقتِ رسول ذکرکوی.

دویم باب ۱۰ نه ۲۱ پورے. په دے کښے دانبیاء کرامو او پیریانو متعلق د شبهاتو جواب ،عجز دانبیاؤ او د پیریانو، مثال دپاره دتخویف دنیوی، عداوت د شیطان (داعراض او ناشکرئ سبب) ذکر کوی.

دریم باب۲۲نه اخره پورے. په دے کښے دملائکو متعلق د شبهے جواب، نفی د شفاعت قهری،عقلی دلائل او طریقے د تبلیغ .
زواجر،عجز د ملائکو ،جواب د اعتراضونو،تخویفات، براءت د عابدینو اومعبودانوترمینځه . او اخر کښے تخویف اخروی ذکرکوی.

**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر د واقعے د قوم سبا (ذکرد نعمتونو او د هغوی ناشکری). (۲)قسم په إتیان قیامت.

# خلاصۃ سورة الفاطر

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښے٤٣نمبردے پس د سورة الفرقان نه نازل شوے دے.

**اسماءالسورت**:. سورةالفاطر، سورةالملائکة.

**ربط**:. (١)سبا کښے دشرك رد ذکر شو نو فاطر کښے پرې دليلونه ذکر کوی(٢)سباکښے دزور دسفارش نفی ذکر شوه فاطر کښے وائی چې مالکان هم نه دی.

**دعوی دسورت**:. دتوحید اثبات په دلیلونو سره او دشرك في الدعاء نفی.

**حاصل دسورت**:.داسورت په ماسبق باندی تفریع دے هلته دزور دسفارش نفي اوشوه نو دلته وائی چې غير الله مالکان او اختیار مندهم نه دی. اية ١٣ـ نوبیائی ولے رابلئ او دتوحید دعوی درے ځل ذکرکوی ایة٣،١٣اودیارلس عقلی دلیلونه پرې ذکر کوی.تخویفات،مثالونه د شرك او دتوحید ، تسلی للنبی، مطالبه ددلیل د مشرکانونه، رد د شرك فی الدعاء ، او اخر کښے تخویف دنیوی ذکرکوی.

**دسورت امتیازات**: (١)ذکر دتقسیم د مومنانو دریو اقساموته ایت ٣٢. (٢)امثله د شرك اوتوحید او دمشرك او دمؤحد.

# خلاصۃ سورة یٰسین

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښے٤١نمبر دے پس د سورة الجن نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة**:. سورة یٰسین، سورة قلب قران، سورةالعظيمة، سورةالمعمة، سورةالمدافعة، سورةالقاضية، سورةالعزيزة.

**ربط**:. (۱)فاطر کښے په توحید باندی عقلی دلیلونه ذکر شو یس کښے پری عقلی نقلی دواړه قسمه دلیلونه ذکر کوی(۲)مخکښے توحید ثابت شو نو یس کښے دهغے دتبلیغ طریقے ذکرکوی.

**دعوی دسورت**:.دزور دسفارش نفی په عقلی او نقلی دلیلونو سره.

**تقسیم د سورت**:.سورت په دریو بابونو مشتمل دے.

وړومبے باب ۱ نه ۳۰ پورے په دے کښے صداقت دکتاب او د رسول ، تخویف دنیوی اخروی، موانع دایمان دکفارو. عقلی دلیلونه. تشجیع دپاره واقعه دمرسلین او درجل یسین ذکرکوی.

دویم باب ۳۱نه ۷۰ پورے په دے کښے په نفی دشفاعت قهری باندے عقلی دلائل، زواجر، بشارت للمومنین، تخویف اخروی په ذکر د احوالو دقیامت،جواب دیوے شبهے او صداقت درسول او تخویف دنیوی ذکر کوی.

دریم باب۷۱نه اخره پورے په دے کښے دلائل عقلیه په توحید، زواجر،عقلی دلائل په اثبات دحشر.نفی دشفاعت قهری، تسلی للنبی علیه الصلوٰة والسلام او اخر کښے دعوی د توحید ذکرکوی.

**حاصل دسورت**:.په سورت کښے دڅلورو مقاصدو بیان دے او دزور دسفارش په نفی باندی یو دلیل نقلی او دیارلس عقلی دلیلونه ذکر کوی سره دزواجرونه او دانسان حقیقت او دری ځل لفظ د صیحة ذکر کوی ۲۹، ۵۳،٤۹ کښے.

**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر د واقعے او اکرام د صاحب یسین.

(۲)واقعه مخصوصه درسل ثلاثه.

# خلاصة سورة الصافات

**ترتيب**:.داسورت نزول کښے٥٦ نمبر دے پس د سورة الاٴنعام نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة**:. سورة الصافات، سورةالزينة.

**ربط**:. (١)يٰس کښے درجل مومن دعاجزئ بيان وو. صٰفٰت کښے دانبياؤ او دملائکو دعاجزئ بيان دے(٢)مخکښې دقيامت اثبات ذکر شو صٰفٰت کښے دقيامت په ورځ د خلقو احوال ذکر کوی.

**دعوي دسورت**:. دغوره خلقو عاجزی ذکرکوی دپاره د زور د سفارش دنفی کولو.

**تقسيم د سورت**:.سورت دری بابونو باندی مشتمل دے.

ورومبے باب ١ نه ٧٤ پورے په دے کښے تضرع او عاجزی دملائکو. او دپيريانو ذکرکوی. زواجر، تخويف اخروی په ذکر دبراءت دالهوباطلو بيا تفصيلی بشارت اخروی او تفصيلی تخويف اخروی ذکرکوی.

دويم باب٧٥نه ١٤٨ پورے په دے کښے تضرع او عاجزی دانبياء کرامو ذکرکوی تفصيلی.

دريم باب١٤٩نه اخره پورے په دے کښے بيا عجز دملائکو او د پيريانو . مطالبه ددليل د مشرکانو نه، بشارت، تخويف او اخر کښے دعوی دتوحيد ذکرکوی.

**حاصل دسورت**:.دی سورت کښے دغوره خلقو عاجزی بيان شوی ده چی ملائك عاجز دی ١،٣،٦٣،١٦٦،پيريان عاجز دی. ٦،١٠،١٥٨،١٦٠. انبياء عاجزدی په دے باندی دنهه انبياؤ حالت ذکر کوی. او دتوحيد

دعوی ایة ٤،١٨،١٨٢ کښے ذکر کوی. او د مشرکانو شرك دعذاب د سبب په طور ذکرکوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د سلام په انبیاء کرامو باندے.
(۲)تفصیل د واقعے د یونس ؑ.

## خلاصة سورة ص

**ترتیب:**.دا سورت نزول کښے۳۸نمبر دے پس د سورة القمر نه نازل شوے دے.

**اسماء السورت:**. سورةص، سورةداود.

**ربط**:. (۱)مخکښی دغوره خلقو عاجزی بیان شوه ص کښے دهغوی دامتحاناتو بیان دے (ابتلوا بالمصائب) (۲)مخکښی سورتونو کښے د مشرکانو استکبار دتوحید نه ذکر شو ص کښے داستکبار وجه یعنی استعجاب ذکر کوی.

**دعوی دسورت**:. په غوره خلقو دازمیښتونو بیان یعنی ماقبل نه ترقی (بل ابتلوا بالمصائب).

**تقسیم او حاصل د سورت:**.سورت په دریوبابونو مشتمل دے.

وړومبے باب ۱ نه ۱٦ پورے په دے کښے ترغیب الی القران ، تخویفات دنیوی،زواجر او اخرکښے تخویف اخروی ذکرکوی.

دویم باب ۱۷ نه ٦۸ پورے په دے کښے ابتلاء دانبیاؤ، زجر،ترغیب الی القران، بشارت،تخویف اخروی تفصیلی، دعوی دتوحید او دهغے عظمت ذکرکوی.

دریم باب٦۹نه اخره پورے په دے کښے نفی علم غیب درسول نه، ابتلاء دملائکو،زجر. تخویف او اخر کښې ترغیب الی القران ذکر کوی.

**حاصل دسورت**:.په غوره خلقو ازمیښت دنهو انبیاء کرامو امتحانات تفصیلا او دشپږو امتحانات اجمالا ذکر شوی دی .
**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر د ناشنا ګنړلو د مشرکانو توحید لره. (۲)ذکر د تخاصم اهل النار.

# خلاصة سورة الزمر

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښے ۵۹نمبر دے پس د سورة سبأ نه نازل شوے دے.
اسماء السورت:. سورةالزمر، سورةالغرف.
**ربط**:. (۱)مخکښی توحید بیان شو زمرکښے دمشرکانو دشبهے جواب دے.(۲)دَماقبل آخر کښ ئے فرمائیلی وو،،إن هوإلاذکرللعالمین،،دلته صداقة القرآن ذکرکوی.
**دعوی دسورت**:.د ماسبق خلاصه،دتوحید اثبات او دزور دسفارش نفی.
**تقسیم دسورت**:. سورت په پنځو بابونو مشتمل دے.
وړومبے باب ۱نه ۲۰ پورے په دے کښے ترغیب الی القران،دعوی دتوحید،رد دشرك ،عقلی دلیلونه او ثمره.تخویف ، زواجر او بشارت ذکرکوی.
دویم باب ۲۱نه ۴۱ پورے په دے کښے عقلی اعترافی دلائل. تقابل بین الأوصاف .ترغیب الی القران .مثال دموحد او رد د شرك ، زواجر، تسلی للنبی او اعلانِ تبری ذکرکوی.
دریم باب ۴۲نه ۵۲ پورے په دے کښے عقلی دلائل ، رد د شفاعت قهری. زواجر او تخویف اخروی ذکرکوی.

څلورم باب ٥٣ نه ٦٦ پورے په دے کښے ترغیب توحید او توبے ته او دفع دعذرونو. ترغیب الی القران . عقلی دلائل . بشارت ، تخویف او اخر کښے دعوی د سورت ذکرکوی.
پنځم باب ٦٧نه اخره پورے په دے کښے زجر او تخویف تفصیلی، بشارت تفصیلی او اخر کښے توحید ذکر کوی.
**تقسیم اوحاصل دسورت**:. داسورت دسبا نه ص پوری سورتونو باندی تفریع دي چی انبیاء، ملائك او پیریان عاجزدی بلکه امتحانونه پری راغلی وو. نو بیا دهغوی عبادت ولی کوئ او ولی ئ رابلي؟او دتوحید په اثبات او دزور د سفارش په نفی عقلی دلیلونه او د مشرکانو دمشهوری شبهے جواب ایت ٣ کښےاو دمومنانو او مشرکانو په صفتونو کښے تقابل ذکر کوی.
**دسورت امتیازات**: (١)ذکر د توفی د انفس حین الموت او حین النوم. (٢)ذکر د عظمة قران اوتا ثیر د هغے.

# خلاصة سورة المومن

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښے٦٠نمبر دے پس د سورةالزمر نه نازل شوے دے.
**اسماء السورة**:.سورة المومن، سورة الغافر، سورة الطول.
**ربط**:. (١)زمر کښے دشرك فی العبادت بیان اوشو مومن کښے دشرك فی الدعاء ردکوی چي دادعبادت اهم جز دے. (٢) ماقبل کښے اثبات د مسئلے اوشو او منکرینو ته ئے تخویفات اخرویه ورکړل نودلته تخویف دنیوی ورکوی په خاص مثال سره.
**دعوی دسورت**:.دشرك فی الدعاء نفي، قرآن ته ترغیب او مخکښی سورتونو باندی تفریع.

**تقسیم د سورت**:. سورة په دریو بابونو مشتمل دے.

وړومبے باب ۱ نه ۱۳ پورے په دے کښے ترغیب الی القران ، دعوی د توحید،زجر په جدال باندے،تخویف دینوی او اسباب د رسوائی،بشارت . او دمجرمانو داصلاح طریقے ذکرکوی.

دویم باب۱٤نه۵۰ پورے په دے کښے دعوی د سورت او دهغے عظمت. تخویف دینوی اخروی،نمونه دتخویف دنیوی. تسلی، عقلی دلیلونه. او براءت د اٰلهو باطلو ذکرکوی.

دریم باب ۵۱ نه اخره پورے په دے کښے تسلی للنبی علیه الصلوٰة والسلام. دلیل نقلی دموسی دکتاب نه،زواجر ، دلائل لاثبات قیامت، دلائل عقلی په دعوی. تخویف دنیوی اخروی. دلیل نقلی د انبیاء کرامونه او اخر کښے تخویف دنیوی ذکرکوی.

**حاصل دسورت**:.په دی سورت کښے دشرك فی الدعاء نفی ده ایت ۲۵،٦۰،۳.تسلي او تخویف دنیوی باندی درجل مومن او دهغه دقوم واقعه. او ابتداء کښے ددی مکتوب(قران) د عظمت دپاره قرآن ته ترغیب ذکرکوی.

**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر دتنصیص د عذاب قبر دپاره د فرعونیانو٤٦. (۲)دعاء ملائیکة العرش للمؤ منین.

# خلاصۃ سورۃ حم السجدۃ

**ترتیب**:.داسورت نزول کښے٦١نمبر دے پس د سورة المؤمن نه نازل شوے دے

**اسماءالسورۃ**:.سورة حم السجدة، سورة فصلت،سورة سجدة المومن.

**ربط**:. (١) مخکښې سورت کښے توحید ثابت شو نو اوس پری دشبهو جوابونه کوي .(٢)ماقبل کښں ترغیب الی الکتاب ؤو.نو دلته زجر معرضینو دهغے ته دے.

**دعوی دسورت**:ددعوے داظهار نه منع کونکی دخلورو شبهو جواب.

**تقسیم او حاصل دسورت**:. سورت په دری بابونو مشتمل دے.

وړومبے باب :١نه٢٤پورے په دے کښے ترغیب الی القران او د هغے اوصاف . زجر، شبهه او دهغے جواب، عقلی دلائل. نمونے دتخویف دنیوی او تخویف اخروی تفصیلی ذکر کوی.

دویم باب ٢٥ نه ٤٣ پورے په دے کښے جواب د دویمے شبهے ، زجر او تخویف . بشارت او بیان د استقامت . طریقے او آداب د تبلیغ ، عقلی دلیلونه ،صداقت الکتاب او اخر کښے تسلی للنبی علیه السلام ذکرکوی.

دریم باب ٤٤ نه اخره پورے په دے کښےجواب د دریمے او څلورمے شبهے،زواجر،دانکار علت،عقلی دلیل او اخر کښے زجر او تخویف اخروی ذکر کوی.

**دسورت امتیازات**: (١)ذکر دشهادت د اعضاؤ او جلود. (٢)ذکر د نفرت د مشرکینو د قران نه.

# خلاصة سورة الشوریٰ

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښې ٦٢ نمبر دے پس د سورة حٰم سجده نه نازل شوے دے.

**اسماءِ السورة**:.سورة الشوریٰ،سورة حم عسق.

**ربط**:. (۱)مخکښې دشبهاتو بیان وو. اوس دلته شبهات کونکو ته زجردے.
(۲)ماقبل کښې صداقة القران بیان شو. نو دلته هم زجربیانیږی سره د ترقئ نه.

**دعوی دسورت**:.جواب ددریو شبهاتو.

**تقسیم او حاصل د سورت** :.سورت په دری بابونو مشتمل دے.
وړومبے باب ۱نه ۱۳پورې په دے کښې داولے او د دویمے شبهے جواب، عقلی دلائل، زواجر ، تسلی او دلیل وحی ذکرکوی.

دویم باب ١٤نه ٣٥ پورے په دے کښې جواب د دریمے شبهے، لس اوامر دپاره د تشجیع . زجر،تخویف ، بشارت، عقلی دلائل او اخر کښې تخویف ذکر کوی.

دریم باب ٣٦ نه اخره پورے په دے کښې تخویف دنیوی ، اخروی،زجر، عقلی دلیلونه،اصول د کامیابئ. ترغیب الی القران او تخویف اخروی ذکرکوی.ـ

**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر د اقسامو د وحی.(۲)جمل عشره دپاره د تشجیع د نبي علیه السلام او د أتباعو.

# خلاصۃ سورة الزخرف

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښے ٦٣نمبر دے پس د سورة الشوریٰ نه نازل شوے دے.

**ربط**:. (١)شوریٰ کښے دقرآن ریشتنوالے ذکر شو او قرآن باندی فیصلے کولو ته دعوت وو زخرف کښے إعراض کونکو ته زورنه ورکوی. (٢)ماقبل کښ ئے فرمائیلی ؤو.حجتهم داحضة نو دلته هغه دلیلِ باطل بیانوی په ٢٢،٢٠کښ.

**دعوی دسورت**:.داتمے شبهے جواب چی داخو زمونږ سفارشیان دی. جواب په ٨٦،٥٧کښے.

**تقسیم اوحاصل دسورت**:.سورت دری بابونو باندی مشتمل دے.

وړومبے باب ١ نه ٣٥ پورےدے.

وړومبے باب کښے ترغیب الی القران ، زواجر، تسلی ،دلائل عقلیه،دلیل نقلی دابراهیم نه ،تزهید فی الدنیا ذکر کوی.

دویم باب ٣٦ نه ٦٧ پورے په دے کښے زجر او تخویف د قران نه په اعراض،تسلی ، ترغیب الی القرآن .دلیل نقلی اجمالی از انبیاء کرام. دلیل نقلی از موسی او د شبهے جواب،دلیل نقلی تفصیلی از عیسی علیه السلام او جواب د شبهے او اخر کښے تخویف او بشارت ذکرکوی.

دریم باب ٦٨ نه اخره پورے په دے کښے تفصیلی بشارت اخروی. تخویف، زجر، دعوی دتوحید،عقلی دلائل . جواب د اتمے شبهے،اخر کښے اعلان دبیزارئی او تخویف ذکر کوی.

**دسورت امتیازات:** (١)ذکر د خصوصی درخواست د نبی علیه السلام ایت٨٨.(٢)شان عیسیؑ او دهغه باره کښ شبهه او د هغے جواب.

# خلاصة سورة الدخان

**ترتیب**:.داسورت نزول کښے ٦٤ نمبردے پس د سورة الزخرف نه نازل شوے دے

**ربط**:. (١) زخرف کښے دکتاب الله نه داعراض کونکو قباحت او هغوی ته زورنه ذکر شوه. دخان کښے دقرآن مقصد او عظمت ذکر کوی.(٢)ماقبل کښ ئے او فرمائیل ،،**فسوف یعلمون**،،نودلته د هغے عذاب تذکره کوی.

**دعوی دسورت**:. دنهمے شبهے جواب چی کیدے شی چي زمونږ فریاد الله ته اورسوی. جواب٨٦ کښی چی بغیرد اسبابو اوریدل دالله صفت دے.

**تقسیم او حاصل دسورت**:.سورت دوه بابونو باندی مشتمل دے.

وړومبے باب ١ نه ٣٩ پورے په دے کښے صداقت القران او ترغیب اوعظمت دقرآن، جواب دشبهے، دعوی اوصفات دالله ، زجر، تخویف او نمو نے د تخویف دنیوی ذکرکوی.

دویم باب ٤٠ نه اخره پورے په دے کښے تخویف اخروی تفصیلی او بشارت اخروی تفصیلی او اخر کښے تسلی للنبی علیه الصلوٰة والسلام او تخویف ذکر کوی.

**دسورت امتیازات:** (١)ذکر د تقسیم الأرزاق والاٴجال فی لیلة مبارکة ایت٤.(٢)إنعامات متروکه د فرعونیانو.

# خلاصة سورة الجاثية

**ترتیب**:.داسورت نزول کښې٦٥ نمبر دے پس د سورة الدخان نه نازل شوے دے.

**اسماءالسورة**:. سورةالجاثية، سورةالشريعة.

**ربط**:. (١)مخکښې ذکر شو چې قرآن ماستا په ژبه اسان کړے دے جاثيه کښې وائی چې د دی نعمت شکر ادا کړه په الحمدلله سره. (٢)ماقبل کښې تخويف او عذاب بيان شو. نو دلته د عذاب نه د بچ کيدلو طريقه بيانوی.

**دعوی دسورت**:. دلسمے شبهے جواب چې داغير الله رابلل زمونږ دمشرانو طريقه ده. جواب ١٨ کښې. دمشرانو نه بلکه دشريعت تابعداری اوکړئ.

**تقسيم اوحاصل دسورت**:. سورت په دوؤ بابونو مشتمل دے.

وړومبے باب ١ نه ٢١ پورے په دے کښےترغيب الی القران، عقلی دلائل زجر او تخويف او دمنکرانو بدصفتونه،دليل نقلی د بنی اسرائيلو نه، جواب د شبهے (دعوی د سورت)ذکر کوی.

دويم باب ٢٢ نه اخره پورے په دے کښے عقلی دلائل، زواجر، تخويفات اخروی،بشارت ، دعذاب اسباب،اخر کښے دعوی د توحيد سره ددليل نه ذکر کوي.

**دسورت امتيازات**: (١)ذکر د خصوصی حالت د مجرمانو (وترى كل أمة جاثية).(٢)عدم مساوات بين الموحد والمشرك.

# خلاصة سورة الاحقاف

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښې٦٦ نمبر دے پس د سورة الجاثيه نه نازل شوے دے.

**اسماء السورت**:. سورة الاحقاف، سورة ثلاثين.

**ربط**:. (١)مخکښې سورتونو کښې فادعوالله مخلصين له الدين باندې دشبهو جوابونه ذکروو احقاف کښې پرې نتيجه مرتب کوی چې و من أضل ممن يدعوا من دون الله.(٢)ماقبل کښې د فع د شبهاتو وه او دلائل عقليه نو دلته دهغوی نه مطالبه کوی د دليل په شرك باندے.

**دعوی دسورت**:.ديوولسمے شبهے جواب چې د دوئ په څولئ او په نوم کښې خير او برکت دے.جواب ٢٨ کښې چې کله عذاب راغے نو هغه د قربت خدايانو دوی لره ولے بچ نه کړے شو.

**تقسيم او حاصل دسورت**:.سورت په دوؤ بابونو مشتمل دے.

ورومبے باب ١انه ١٤پورے په دے کښې ترغيب الى القرآن، عقلى دليل، دمشرکانو نه د دليلونو مطالبه ، رد د شرك في الدعاء .زواجر، دليل نقلى ازموسى عليه السلام ،وحى دليل،اخرکښې اوصاف دمومنانو او بشارت ذکرکوی.

دويم باب ١٥نه اخره پورے په دے کښې اقسام د خلقو،بشارت او تخويف، دتخويف دنيوى دپاره هلاکت دپخوانو قومونو دنقلى دليل بطور، دعوی د سورت. دليل نقلى ازجنات دپاره دتشجيع،دليل عقلى دپاره داثبات د قيامت، اخر کښې تخويف او نبى عليه السلام ته تسلى او تشجيع ذکرکوی.

**دسورت امتيازات**: (١)ذکر دخصوصى حالاتو د جناتو چې متضمن دی ادابو د دعوت لره.(٢)نقل د قول المشرکين داصحابو باره کښې لوکان خيرا الخ.

# خلاصة سورة محمد

**ترتيب**:.داسورت نزول کښې ۹۵نمبردے پس د سورة الحديد نه نازل شوے دے.

**أسماء السورة**:. سورة محمد ،سورة القتال، سورة الذين كفروا.

**ربط**:.(۱)مخکښې سورتونو کښې دمشرکانو دشبهو په رد سره د توحيد اثبات اوشو. محمد کښې وائې چې که بيا هم نه منى نو جهاد ورسره اوکړئ. (۲)ماقبل کښې ئے اوفرمائيل **هذا بلاغ** نودلته بيان د جهاد کوى چه هغه ذريعه د بلاغ ده.

**دعوى دسورت** :. قتال او انفاق کولو ته ترغيب.

**تقسيم او حاصل دسورت**:.سورت په دوؤ حصو مشتمل دے.

وړومبے حصه ۱ نه ۱۹ پورے په دے کښې قتال ته ترغيب او دهغى علتونه او په اخر کښے پرى د توحيد تفريع.ورسره ورسره دمومنانو او د مشرکانو داوصافو تقابل، ترغيب او تخويف او دعوى دتوحيد ذکرکوى.

دويمه حصه ۲۰ نه اخره پورے په دے کښے زواجر منافقانو ته او دهغوى حالات. تخويف،ترغيب الى القتال او تشجيع،تزهيد في الدنيا او اخر کښے ترغيب الى الانفاق او زجر ذکرکوى.

**دسورت امتيازات**: (۱)ذکر د اوصاف خاصه د منافقينو چي هغه فساد، جبن،قطع تعلق دصله رحمي او إعراض عن القران دے.

(۲)اوصاف د منافقينو.

# خلاصة سورة الفتح

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښے۱۱۱نمبر دے پس د سورةالجمعة نه نازل شوے دے.

**ربط**:. (۱)سورة محمد کښے دجهاد بیان وو. فتح کښے دجهاد نه پس د فتح زیرے ورکوی. (۲)ماقبل کښ د منافقینو احوال ؤواو هغوی ته زواجرؤو.نو دلته د هغوی احوال بیانوی په بله طریقه.

**دعوی دسورت**:. مومنانو ته د جهاد نه پس د فتح زیرے.

**تقسیم د سورت**:.سورت په دریو بابونو باندی مشتمل دے،

وړومبے باب ۱نه ۱۰ پورے په دے کښے بشارت او ترغیب. اونتائج او فوائد دهغې ،دعوی دتوحید، ترغیب اطاعت درسول ته. مومنانو مجاهدینو ته زیرے ذکر کوی.

دویم باب ۱۱نه ۱۷ پورے په دے کښے زواجر منافقانو ته او دهغوی قباحتونه، دعوی د توحید او اخر کښے بیان د معذوره خلقو او بشارت ذکر کوی.

دریم باب ۱۸ نه آخره پور په دے کښے بشارت او اوصاف المومنین. زجر کافرانو ته ، جواب دیوے شبهے، آخر کښےعظمت د نبی کریم او اوصاف د صحابه کرامو او بشارت ذکر کوی.

**حاصل دسورت**:.داسورت په سورت محمد باندی تفریع دے په دیکښی زیرے او دمنافقانو قباحتونه او دمومنانو صفتونه ذکر دی .

**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر د واقعے د بیعت رضوان.(۲)صفات د صحابه کرامو رضی اللہ تعالیٰ عنهم.

# خلاصہ سورۃ الحجرات

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښے۱۰۶نمبر دے پس د سورةالمجادلة نه نازل شوے دے.

**ربط**:. (۱)فتح کښے دفتحے زیرے وو حجرات کښے داختلافاتو او جګړو دختمولو دپاره انتظامی امور ذکر کوی. (۲)ماقبل کښې ئے اوفرمائل **أَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوٰى** نو دلته د هغے کلمے تقاضا ښايي چه بيان د ادابو د اهل تقویٰ دے.

**دعوی دسورت**:. دمعاشرے داصلاح او دجماعت د نظم د پاره اووه آداب ذکر کوی.

چي اختلاف پيدا نشي او منافقانو ته زورنه چی ددی آدابو خيال نه ساتی.

**تقسیم او حاصل د سورت**:. سورت په دوؤ بابونو مشتمل دے.

وړومبے باب ۱ نه ۱۳ پورے په دے کښےاحکام او اداب د نبی علیه السلام ذکر کوی. مینځ کښے اداب ناکوخلقو ته بشارت او بے ادبو خلقو ته زجر ذکرکوی.

دويم باب ۱٤ نه آخره پورے په دے کښےمنافقانو ته زواجر او دعوی د توحيد ذکرکوی.

**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر دحجراتو د امهات المومنين .(۲)نهی د تقدم بين يدی الله ورسوله.

# خلاصہ سورۃ ق

**ترتیب**:.داسورت نزول کښے۳٤نمبر دے پس د سورة المرسلات نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة**:. سورة ق ، سورة الباسقات.

**ربط**:. (۱)مخکښی د توحيد داشاعت دپاره دجهاد او دقوانينو بيان او شو.

ق کښے د توحید او دقوانینو منکرانو ته تخویف اخروی ذکرکوی .
(۲)ماقبل کښے ذکر دمنافقانو وو دلته وائي چه داسے لوئ میدان راتلونکے چه هغے کښے به دوی ته دنفاق پته اولګی.

**دعوی دسورت:**. دقیامت اثبات (کذالك الخروج).

**تقسیم د سورت:**. سورت په دوو بابونو مشتمل دے.وړومبے باب ۱ نه ۱۵ پورے دے.

وړومبے باب کښے شهادة القران، زواجر، عقلی دلائل په قیامت،دعوی دسورت، دتخویف دنیوی نمونه ذکرکوی.

دویم باب ۱٦ نه اخره پورے په دے کښے دلیل عقلي په اثبات د قیامت ، تخویف اخروی ،بشارت په اوصاف حسنو باندی۔ تخویف دنیوی، اخر کښے ترغیب الی القران،تسلی للنبی، اوامر خمسه او توحید ذکرکوی.

**حاصل دسورت:**.سورت کښے د قیامت اثبات کوی په مثالونو اوعقلی دلیلونو سره او توحید پری تفریع کوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د ملکینو (سائق وشهید).(۲)سبب د تذکر من القران.

## خلاصة سورة الذاريات

**ترتیب:**.داسورت نزول کښے٦٧نمبردے پس د سورةالأحقاف نه نازل شوے دے.

**ربط:**. (۱)مخکښے دانسان دپیدائش تذکره وه اوس دپیدائش حکمت او مقصد ذکر کوی.(۲) ماقبل کښں دعوه وه کذلك الخروج نو دلته فرمائی إنما توعدون لصادق.

**دعوی دسورت** :.دقیامت اثبات د ماقبل نه په ترقی سره اوشواهد پری ذکر کوی.

**تقسیم د سورت:.** سورت په دوؤ بابونو باندی مشتمل دے.

وړومبے باب ۱ نه ۴۳ پورے په دے کښے دعوی باندے شواهد، دعوی دسورت،زجرمنکرانوته او دهغوی قباحتونه او بشارت للمومنین او دهغوی او صاف او تخویف دنیوی او عقلی دلائل ذکر کوی.

دویم باب ۲٤ نه اخره پورے. په دے کښے تخویف دنیوی دپاره نمونے داقوام مکذبه، عقلی دلائل دبعت بعد الموت،توحید،زجرللمنکرین او نبی علیه الصلوٰة والسلام ته تسلی ذکرکوی.

**حاصل دسورت**: سورت کښې اثبات دقیامت دماقبل نه په ترقی سره. هلته ذکر وو کذلك الخروج دلته وائی إنما توعدون لصادق وإن الدین لواقع یعني صرف دقبرونو نه راویستل نه بلکه جزاء اوسزا به هم وي.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د سر خلق الانس والجن سره ایت ٥٦ (۲)ذکر من أمن مع لوط علیه السلام.

# خلاصۃ سورة الطور

**ترتیب:**.داسورت نزول کښے ۷٦نمبردے پس د سورة الم سجده نه نازل شوے دے.

**ربط**:. (۱)مخکښی د توحید بیان اوشو اوس وائی چي توحید د نجات او دکامیابئ سبب دے .(۲)ماقبل کښ داثبات القیٰمة شپږ عقلی دلائل ؤو. نو دلته دهغے دپاره درے قسمه دلائل ذکردی.

**دعوی دسورت**:. دقیامت اثبات په ترقیِ سره سره د دلیلونو.

**تقسیم د سورت:۔** سورت دوه بابونه دے.

وړومبے باب ۱نه ۲۸ پورے په دےکښےشواهد او درے قسمه دلائل (عقلی، نقلی، وحی)، تخویف اخروی تفصیلی. بشارت اخروي تفصيلي او دعوی دتوحید ذکرکوی.

دویم باب ۲۹ نه اخره پورے په دے کښے تسلي للنبی علیه السلام ، زواجر په لفظ دأم سره. تحویف دنیوی ، تسلی للنبی او توحید ذکرکوی.

**حاصل دسورت**:.دی سورت کښی هم دقیامت اثبات دے. دماقبل نه په ترقی سره . هلته ذکروو وان الدین لواقع د لته وائی ماله من دافع. او ورسره منکرانو د قیامت او رسالت ته تنبیه ورکوی. او وائی چی توحید جنت ته د دخول سبب دے. او پنځلس ځله په لفظ دأم سره زواجر ورکوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)شهادات د نزول العذاب.(۲)زجرونه کثیره په مقاصدو اربعو.

## خلاصۃ سورۃ النجم

**ترتیب**:.داسورت نزول کښے۲۳نمبر دے پس د سورة الاخلاص نه نازل شوے دے.

**ربط**:. (۱)مخکښی ذکر شو چي توحید د نجات او د کامیابۍ ذریعه ده اوس په شرك ردکوی. (۲) ماقبل کښے ئے مسئله د توحید بیان کړه مسلسل.نودلته صداقة الرسول صلی الله علیه وسلم والقرآن بیانوی.

**دعوی دسورت**:. درسالت اثبات او دشرك او د زور د سفارش نفی.

**تقسیم دسورت**:. سورت کښے دوه بابونه دی.

وړومبے ۱نه ۲۸ پورے په دے کښے صداقت القران او ترغیب ،نفی د شفاعت قهری، رد دمشرکانو په دلیل ذکرکوی.

دویم باب ۲۹ نه اخره پورے په دے کښے تسلي للنبی ،تخویف او بشارت، زواجر، صداقتِ رسول ،ذکر دقیامت او اخر کښے توحید ذکرکوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د رؤیت د نبی علیه السلام جبرائیل لره عند سدرة المنتهیٰ.(۲)ملاقات النبی(علیه السلام) مع الله تعالیٰ اوذکر د مضمون دصحف سابقو.

# خلاصۃ سورۃ القمر

**ترتیب**:.داسورت نزول کښے۳۷نمبردے پس دسورة الطارق نه نازل شوے دے.

**اسماءالسورة**:. سورة القمر، سورةاقتربت.

**ربط**:. (۱) ماقبل کښے دتکذیب کونکو قومونو اجمالاتذکره اوشوه اوس دهغی پنځه نمونے تفصیلا بیانوی.(۲)ماقبل کښ زجروو د هغے کسانو په باره کښ چه هغوی د قران نه تعجب او خندا کوی. نودلته فرمایی چه دوی دهغے معجزے نه انکار کړےدے.

**دعوی دسورت**:. دقیامت اثبات او دشرك فی البرکات نفی.

**حاصل دسورت**:. سورت کښے دقیامت اثبات او دقیامت او دمعجزو منکرانو ته زجر او د برکت مسئله ذکر کوی اومنکرانو ته دتیرو قومونو نمونے د تخویف دپاره ذکر کوی.تسلی للنبی علیه السلام ، دعوی د سورت او بشارت للمومنین ذکرکوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر دتیسیر القرآن مرار.(۲)معجزه د شق القمر.

# خلاصة سورة الرحمٰن

**ترتیب:**.داسورت نزول کښے۹۷نمبر دے پس دسورت الرعد نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة:.** سورة عروس القران، سورة الرحمٰن، سورة الرفرف.

**ربط:.** (۱) مخکښې ذکر شو چې برکات ورکونکے هم یم اوس پرې عقلي دلیلونه ذکر کوي. (۲)ماقبل کښې تخویف او بشارت ؤو مختصر نو دلته ددے ددواړوتفصیل دے.

**دعوی دسورت:.** نفی دشرك فی البرکات او د سورة قمر نتیجه۔

**حاصل د سورت:.** سورت کښے درې رکوع دی. وړومبی رکوع کښے توحید سره د دلیلونو او د دیرشوانعاماتو او برکاتو تذکره. دویمه رکوع کښے مسئله نه منونکو دپاره تفصیلي تخویف اخروی۔

دریمه رکوع کښے منونکو دپاره تفصیلي بشارت اخروی ذکر کوی۔

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د تکرار دایت فبأی ألاء ربکما تکذبان. (۲)اقسام د جنتونو.

# خلاصة سورة الواقعة

**ترتیب:**.داسورت نزول کښے٤٦نمبردے پس د سورة طه نه نازل شوے دے.

**ربط:.** (۱)مخکښے زیرے او دآخرت ویره ذکر شو اوس د دی داهل او د مستحقینو بیان دے.(۲)ماقبل کښې دوه قسمه جنتونه بیان شول، نودلته د هغي اهل بیانوی ، السابقون، اصحاب الیمین.

**دعوی دسورت:.** فسبح بإسم ربك الغظيم. داد سورت رحمٰن تتمه ده.

**تقسیم د سورت:۔** سورت دوه بانونه دے.

وړومبے باب ۱نه ۵٦ پورې په دے کښے دقیامت اثبات او د هغے علامے او احوال. دفرق ثلاثو بیان او د هغوی جزاګانے ، او د عذاب علت ذکر کوی.

دویم باب ۵۷ نه اخره پورے په دے کښےعقلی دلائل ، دعوی دتوحید، صداقة القران،زواجر،اعاده دفرق ثلاثو او اخرکښے توحید ذکرکوی.

**حاصل دسورت**:. داد سورة رحمٰن تتمه ده نو په دیکښی دقیامت اثبات او دهغی علامے او د دریو ډلو بیان (سابقون ، اصحاب الیمین، اصحاب الشمال) او دهغوی صفتونه سره د بدلے ذکرکوی. او په دعوی باندی عقلی دلیلونه او د قرآن منکرانو ته زورنه .

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د خصوصی شاهد په عظمت د قران (فلاأقسم بمواقع النجوم). (۱)ذکر د فرقو ثلاثو تفصیلی سره د جزاء.

## خلاصة سورة الحديد

**ترتیب**:.داسورت نزول کښے۹٤نمبردے پس د سورةالزلزال نه نازل شوے دے.

**ربط**:، (۱)مخکښی سورتونو کښے توحید ثابت شو اوس ددے مسئلے داشاعت دپاره دمال لګولو او داوسپنے داستعمال ترغیب ورکوی.(۲)ماقبل کښ ئے دوه ځله او فرمائیل فسبح باسم ربك العظیم نو دلته ترغیب الی الانفاق لهٰذه المسئله ورکوی.

**دعوی دسورت**:. قتال او انفاق کولو ته ترغیب.

**تقسیم او حاصل دسورت** :. سورت دوه حصے دے.

وړومبے حصه انه ۲٤ پورے په دے کښے حصه دتوحید دعوی او انفاق ته ترغیب په پنځو وجوهوسره، توحید سره د دلائلو ،بشارت او تخویف او زواجر منافقانو ته ذکر کوی.

دویمه حصه: ۲۵ نه آخره پورے په دے کښے ترغیب الی الجهاد،زجر او ترغیب د ایمان اهل کتابوته ذکر کوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکرد انزال الحدید.(۱)ذکر د سوربین الجنة والنار.

## خلاصة سورة المجادلة

**ترتیب:**.داسورت نزول کښے۱۰۵نمبردے پس دسورةالمنافقون نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة**:. سورة المجادلة، سورة قدسمع، سورة الظهار.

**ربط**:. (۱)مخکښی انفاق ته ترغیب وو اوس د انفاق طریقه ذکر کوی. (۲)ماقبل کښې د جهاد باره کښې دوه دوه ډلے بیان شوے نو دلته هغے دواړوته نومونه ورکوی.(حزب الله، حزبُ الشیطان).

**دعوی دسورت**:.منافقانو ته زورنه چه تنظیم ورانوی.

**حاصل دسورت**:. سورت کښے د غلط رسم رد دے (یعنی په ظهار سره د تحریم رسم). مطلب دا چه اول په وړوکی تنظیم (کور) کښے فساد راغلے دے اول د هغی د اصلاح بیان او منافقین چه فساد کوی هغوی ته په لفظ د ألم سره دري زواجر او په لفظ دیایهاالذین امنوا سره دری قوانین ذکر کوی چه مومن او منافق جدا شی. او اخر کښے بشارت للمومنین ذکر کوی

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د احکامو دظهار سره.(۲)ذکر د مجادله د یوے صحابیےؓ .

# خلاصة سورة الحشر

**ترتيب**:.داسورت نزول کښې۱۰۱نمبردے پس دسورة البينة نه نازل شوے دے.

**اسماءالسورت**:. سورة الحشر، سورة بني نضير.

**ربط**:. (۱)مخکښې منافقانو ته زورنه ذکر شوه چه جماعت کښې فساد پيداکوي اوس هغوی ته دعهد په ماتولو زورنه ورکوی. (۲)ماقبل کښې ئے حز ب الله او حزب الشيطان ذکرکړل. نو دلته هغوی ته اصحاب الجنة او اصحاب النار نومونه ورکوی.

**دعوی دسورت**:. منافقانو فساد کونکو ته تخويف دنيوی.

**حاصل د سورت**:. منافقانو او فساد کونکو ته د دنيا ويره ورکوی. په نمونه کښې دبنونضير واقعه ذکر کوی. چه نبي عليه السلام سره ئی د معاهدے خلاف ورزی کړے وه او د منافقانو قباحتونه او بد صفتونه او د مومنانو دری قسمونه ورسره تخويف دنيوی، ترغيب الى الاٰخرة او ترغيب الى القرآن په يو مثال سره او په اخر کښې توحيد ذکرکوی.

**دسورت امتيازات**: (۱)ذکر دخصوصی صفت دصحابو ويؤثرون على أنفسهم ولوكان بهم خصاصة.(۲)ذکر د إجلاء د بنی نضير.

# خلاصة سورة الممتحنة

**ترتيب**:.داسورت نزول کښې۹۱نمبردے پس د سورة الاحزاب نه نازل شوے دے.

**اسماءالسورت**:. سورة الممتحنة، سورةالامتحان، سورةالمودة.

**ربط**:.دمخکښې سورت په ابتداء او اختتام کښې توحيد ذکر شو اوس وائي چه د توحيد منکرانو نه جداشئ.(۲) ماقبل کښې تخويف دنيوی وو خلاف

کونکوته دالله او درسول صلی الله علیه وسلم نه. نودلته بعضِ مومنانو ته زجرورکوی په هغه کارونو چه مناسب نه دی د شان د د وی سره.

**دعوی دسورت:**. کافرانو نه بیزاری اولرے والے او مومنانو ته تنبیه.

**تقسیم د سورت:**.سورت دوه بابونه دے.

ورومبے باب ۱انه ٦پورے په دے کښے زجر مو منانو ته په موالاة الکافرین باندے او دهغے علتونه او مثال کښے واقعه دابراهیم او د هغه دعا ذکرکوی.

دویم باب ۷انه اخره پورے په دے کښے بشارت للمومنین، تقسیم دکفاروبیا دوه قوانین یو مومنانو ته او یو رسول ته او اخر کښے دعوی دسورت ذکرکوی.

**حاصل دسورت:**. سورت کښے کافرانو نه دبیزارۍ اولری والی بیان او دکافرانو دوه قسمونه ذکر کوی (۱)معاهدین چی دهغوی سره لین دین جائز دے.

(۲)محاربین چه د هغوی سره لین دین جائزنه دی۔او مومنانو ته د کافرو سره په دوستئ کولو زورنه او تنبیه ورکوی .

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د حکم د مهاجراتو سره (فامتحوهن الخ).

(۲)اقسام د مشرکینو په اعتبار د تعلق.

# خلاصة سورة الصف

**ترتیب**:.داسورت نزول کښې ۱۰۹نمبردے پس د سورة التغابن نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة**:. سورةالصف، سورةالحواريين.

**ربط**:. (۱)مخکښې ذکر شو چه د مشرکانو نه جداشئ اوس وائی چه جهاد ورسره اوکړئ. (۲)ماقبل کښې ئے قانون پیش کړو چه کله خلك اسلام کښې داخلیږی. نو په دے طریقه دِ داخلیږی. نو دلته د اسلام د داعی شان ښايي.

**دعوی دسورت**:. مومنانو ته زورنه چه خبرے کوی اوعمل پری نه کوی. او جهاد ته ترغیب.

**حاصل د سورت**:. مومنانو ته په تشو دعوکولو زجر او جهاد ته ترغیب دپاره دری خطابونه په لفظ دیایها الذین امنوا. او انفاق ته ترغیب.دتشو خبروکونکو مثال یهود ذکر کوی ورسره ورسره بشارت دنیوی اخروی ذکرکوی.

**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر دتبشیر د عیسی په باره د نبی علیه الصلوة والسلام. (۲)زجر په قول بلاعمل .

# خلاصة سورة الجمعة

**ترتیب**:.داسورت نزول کښې۱۱۰نمبردے پس د سورة الصف نه نازل شوے دے.

**ربط**:. (۱)مخکښی جهاد ته ترغیب ذکر شو اوس انفاق ته ترغیب ورکوی. (۲)ماقبل کښې ئے د نبی صلی الله علیه وسلم دعوت او طریقے اوخودلے. نو دلته نصاب تعلیم ښائی په دویم ایت کښې.

**دعوی دسورت**:. توحید.

**حاصل دسورت:**. انفاق ته ترغیب او دهغے دپاره د حلالو ګټلو بیان لیکن په دنیا کښےدومره مه ننوځی چه دین درنه پاتی شی. او دتوحید او د رسالت بیان چه دهغی دپاره جهاد او انفاق کیږی.دارنګ سورت کښے دعوی دتوحید، صداقت القرآن زجر،اعلان د مباهلے،بیان دصلوة الجمعة دپاره د جهاد اوتنظیم ذکر کوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د تشبیه د علماؤ سوء د حمار سره.
(۲)فرایض د نبی صلی الله علیه وسلم.

# خلاصة سورة المنافقين

**ترتیب:**.داسورت نزول کښے ۱۰٤نمبردے پس د سورةالحج نه نازل شوے دے.

**ربط**:. (۱)مخکښې انفاق ته ترغیب ذکر شو اوس د بخیلانو منافقانو تذکره کوي .
(۲)ماقبل کښ ئے او فرمائیل چه پیغمبر کتاب دراورسئ نو عمل پرے اوکړئ. نو دلته زجر ورکوی هغه کسانو ته چه په کتاب عمل نه کوی چه منافقان دی.

**دعوی او حاصل دسورت**: بخیلانو منافقانو ته زواجر چه انفاق نه کوي او دهغوی اتلس قباحتونه او دمالدارو مومنانو ذمه داری او هغوی ته تنبیه چه دمنافقانو دخوئی نه ځان بچ کړئ او په خپلو رونړو باندی خرچ اوکړئ او مرګ نه مخکښې دانفان کولو ترغیب ورکوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د خصوصی تشبیه د منافقانو سره کأنهم خشب مسندة. (۲)ذکر د أصحاب العزة.

# خلاصة سورة التغابن

**ترتیب:**.داسورت نزول کښې ۱۰۸نمبر دے پس د سورةالتحریم نه نازل شوے دے.

**ربط**:. (۱)مخکښې انفاق او جهاد ته ترغیب وو اوس پرے توحید تفریع کوی. (۲)ماقبل کښې اجمال ؤو په مسئله توحید کښې. نو دلته تفصیل دے په دلائیلوسره.

**دعوی دسورت**:. دمقاصد اربعو اثبات، او جهاد او انفاق ته ترغیب.

**تقسیم او حاصل دسورت**:.سورت دوه حصے دے.

وړومبے حصه ۱نه۱۰ پورے په دے کښې دعوی د توحید سره دلائلو عقلیه،تخویف دنیوی اخروی ،زواجر .صداقتِ رسول او اخر کښې تخویف او بشارت ذکرکوی.

دویم حصه ۱۱نه اخره پورے په دے کښې ترغیب الی الجهاد،ترغیب اطاعتِ رسول ته ،تزهید فی الدنیا،ترغیب الی الانفاق او اخر کښې د دلیل په طور د الله صفات ذکرکوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د خصوصی نوم د قیامت سره(یوم التغابن).(۲)ذکر د حسن د صورتِ انسان.

# خلاصة سورة الطلاق

**ترتیب:**.دا سورت نزول کښې ۹۹نمبرد ے پس د سورة الدهر نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة:**.سورة الطلاق،سورة النساء القصری.

**ربط**:. (۱)مخکښې جهاد ته ترغیب ذکر شو اوس وائی چه دجهاد دپاره دانتظامی امورو پابندی ضروری ده.(۲)ماقبل کښې چه څه بیان شو. نو دلته د هغے اعاده کوی علیٰ سبیل اللف نشرغیر مرتب.

**دعوی دسورت**:.دسورت تغابن تتمه او د انتظامی امورو بیان.
**تقسیم او حاصل دسورت**:. سورت دوه حصے دے ۱نه۷ پورے.
دیکښے دانتظامی امورو (تدبیرمنزل) دیارلس اوامر او دیارلس نواهی او دکور احکامات ورسره ورسره فوائد دتقوی ذکر کوی.
دویمه حصه ۸ نه اخره پورے په دے کښے تخویف دنیوی اخروی ،بشارت ، مقاصد اربعه او اخر کښے توحید سره د دلائلو ذکرکوی.
**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر د تمثیل الارض بالسوات فی العدد.
(۲)ذکر د اقسامو د عدت.

# خلاصه سورة التحریم

**ترتیب**:.داسورت نزول کښے ۱۰۷نمبردے پس د سورة الحجرات نه نازل شوے دے.
**اسماء السورة**:. سورةالتحریم، سورةالنبي،سورة لم تحرم.
**ربط**:.(۱)مخکښے دانتظامی امورو بیان وو اوس د زوجینو د حقونو بیان دی.
(۲)ماقبل کښ ترغیب الی اطاعة الرسول صلی الله علیه وسلم ؤو. نو دلته زجرو ورکوی خلاف کونکودر رسول علیه السلام ته .
**دعوی دسورت**:. دمخکښے سورتونو خلاصه او دپیغمبرتابعدارئ ته ترغیب او دزوجیت حقونه.
**حاصل د سورت**:. داسورت د مخکښے سورتونو (دحدید نه طلاق پوری) خلاصه او تتمه ده ځکه چه مخکښې سورتونو کښې قتال او انفاق ته ترغیب بیان شو اوس تحریم کښے خلاصه ذکر کوی چه معاشره سمه کړئ. آسانی کوئ سختی مه کوئ ګنې معاشره به خرابه شي او دومره محبت مه کوئ چه

هغه د نفرت او دتنګۍ سبب شی. دارنګ سورت کښې دوه خطابونه او دوه قوانين دی سره دترغيب نه توبې او جهاد ته.

**دسورت امتيازات:** (۱)ذکر د ترغيب الی التوبة په خاص لفظ سره (توبة نصوحا) (۲)أقسام الجهاد.

# خلاصة سورة الملك

**ترتيب:**.داسورت نزول کښې ۷۷نمبردے پس د سورةالطور نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة:**. سورة تبارك، سورة تبارك الذی بيده الملك، سورة المنجية، سورة المانعة، سورة الواقية.

**ربط:**. (۱)مخکښې دپيغمبراطاعت ته ترغيب ذکر شو اوس توحيد ته ترغيب ورکوی.(۲)ماقبل کښې حقوق الزوجية بيان شو. نودلته حقوق الله بيانوی.

**دعوی دسورت:**. دشرك في البركات نفی.

**حاصل دسورت:**. نفی د شرك فی البركات او په هغی باندی يوولس دلائل عامه او خاصه او بيا نتيجه. منونکو ته بشارت ،منکرانو ته تخويف اخروی دنيوی دخول د جهنم او دشرك فی البركات سبب او د دعوت دوه طريقے ذکرکوی.

**دسورت امتيازات:** (۱)ذکر د تمنا دکافرو دقران د اوريدو **(**لوکنا نسمع الخ**)**. (۲)فرق بين المؤمن والكافر.

# خلاصة سورة القلم

**ترتيب**:.داسورت نزول کښے ۲نمبردے پس دسورة العلق نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة**:. سورة القلم، سورةن.

**ربط**:.(۱) مخکښے دبرکت مسئله ذکر شوه اوس په تبليغ تيزى ورکوى.
(۲)ماقبل کښ ئے اوفرمائيل، چه الله تعالىٰ سره شريك فے البركات نشته.نو دلته مثال دهغے کسانو بيانوى،چه هغوى الله سره شريك فى البركات ګنړى.

**دعوى دسورت**:. په تبليغ باندى تيزى او د سستئ نه ويره..

**حاصل د سورت** :. سورت کښے دپيغمبر په ريشتنوالے ګواهى ذکر ده او درسالت منکرانو او په تبليغ کښے سستى کونکو دپاره زجر او دهغوى لس قباحتونه. دمشرکينو حالت او نبى او مبلغ ته تسلى ذکر ده دا رانګ سورت کښے يو مثال دتخويف دنيوى، دمشرکانو په دلائلو رد ،صداقت درسول او دقران ذکرکوى.

**دسورت امتيازات**: (۱)ذکر د واقعے داصحاب الجنةدپاره عبرت.
(۲)ذکر د اوصاف عشره د مداهن.

# خلاصة سورة الحاقة

**ترتيب**:.دا سورت نزول کښے۷۸نمبردے پس د سورة الملك نه نازل شوے دے.

**ربط**:. (۱)مخکښے دبرکت دمسئلے په تبليغ تيزى ورکول ذکر شو اوس د دى مسئلے منکرانو ته دقيامت په راتلو تخويف ذکرکوى. (۲)ماقبل کښ ئے تخويف دُنيوى پيش کړو. نو دلته پنځه نمونےپيش کوى.

**دعوى دسورت**:.منکرينوته تخويف اخروي په راتلو دقيامت.

**حاصل دسورت**:. سورت کښې منکرانو د آخرت  ته تخویف. دقیامت دری احوال .تخویف دنیوی باندی د هلاك شوو قومونو پنځه نمونے او دپیغمبر د ریشتنوالی بیان دے. دا رنګ علتونه د عذاب او اخر کښے توحید ذکرکوی.
**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د اسماء د قیامت (الحاقة، القارعة، الواقعة).
(۲)ذکر د فناء عالم په بله طریقه.

# خلاصۃ سورۃ المعارج

**ترتیب**:.داسورت نزول کښے۷۹نمبردے پس دسورۃالحاقة نه نازل شوے دے.
**اسماء السورة**:. سورۃالمعارج، سورۃسائل، سورۃ الواقع.
**ربط**:.(۱)مخکښے منکرانو ته دآخرت  ویره ذکر شوه اوس وائي چه کله عذاب راشی نو هیڅ څوك به تری بچ نشي.(۲)ماقبل کښ ئے او فرمائیل چه غرونه به ذرے ذرے شی نودلته فرمائی چه دا به دوړئ غوندِشی.
**دعوی د سورت**:. دسورة الحاقة تتمه ده یعني د منکرانو دپاره دآخرت تخویف د عذاب په راتلو.
**حاصل دسورت**:. عذاب غوښتونکو ته زجر،دآخرت تخویف. دقیامت احوال، د کافرو قباحتونه چه دجهنم دتلوسبب دے او دومنانو صفتونه چه دعذاب لری کونکی دی.دا رنګ سورت کښے تسلی للنبی علیه الصلوٰة والسلام ذکر کوی.
**دسورت امتیازات:**  (۱)ذکر د خصوصی وصف قبیحه دانسان (هلوعا).
(۲)ذکر دفناء عالم په بله طریقه.

# خلاصة سورة نوح

**ترتيب**:.داسورت نزول كښے٧١نمبردے پس د سورةالنحل نه نازل شوے دے،

**ربط**:. (١)مخكښے دمسئلے اثبات او منكرانو ته تخويف ذكر شو اوس دنوح عليه السلام په واقعے سره دبيان طريقه ذكركوى.(٢)ماقبل كښ اثبات دمسئلے اوشو نودے سورت كښ تشجيع على التبليغ ده په واقعه د حضرت نوح عليه السلام سره.

**دعوى دسورت**:. د دنيا تخويف اوپه تبليغ تيزول د نوح په واقعے سره.

**حاصل د سورت**:. د نوح عليه السلام دتفصيلى واقعے په ذريعه تحضيض فى التبليغ او په منكرانو په دنيا كښے دعذاب راتلو نمونه. نبي عليه السلام ته تسلى او دتبليغ طريقه ذكر ده لطيفه دنوح تفصيلى واقعه كښے يوولس خبرى ذكر دى په هره خبره كښے پنځه امور دى.

**دسورت امتيازات**: (١)ذكر د طريقو د دعوت (ليلانهارا اجتماعى، انفراد). (٢)فوائد د استغفار.

# خلاصة سورة الجن

**ترتيب**:.دا سورت نزول كښے ٤٠نمبردے پس د سورةالأعراف نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة**:. سورة الجن، سورة قل أوحى.

**ربط**:. (١)مخكښے په تبليغ تيزى وركولو دپاره دنوح عليه السلام واقعه ذكر شوه اوس هم په دي مقصد د پيريانو واقعه ذكركوى. (٢)ماقبل كښ ئے اوفرمائيل چه الله به وسعت راولى په استغفارسره.نودلته هم فرمائي چه دوى له به ډيرے اوبه وركړم په استقامت سره.

**دعوى دسورت**:. دشرك اعتقادي رد.

**حاصل د سورت**:. دشرك اعتقادي يعنى دځلور قسمه شركونو رد او په دى باندى دپيريانو نه نقلي دليل ذكر كوى. او قرآن ته ترغيب وركوى.دارنګ سورت كښې دلائل وحيه، صداقة القران،تخويف دنيوى ذكركوى.

**دسورت امتيازات:** (۱)ذكر د خصوصى حالت د نبى عليه السلام (وانه لما قام عبدالله الخ).(۲)نفى د علم غيب د غير الله نه.

# خلاصة سورة المزمل

**ترتيب**:.دا سورت نزول كښې ۳نمبردے پس د سورة القلم نه نازل شوے دے.

**ربط**:. (۱)مخكښې د دعوت طريقے ذكر شوے اوس د دعوت دپاره د تياري بيان دے.(۲)ماقبل كښې ئےدجناتورغبت قران كريم ته ذكر كړو. نو دلته ترغيب الىٰ القران او تحضيض بيانوى دپاره دانسانانو.

**دعوى دسورت**:. قرآن ته ترغيب .

**حاصل د سورت**:. قرآن ته ترغيب او وړومبى لسو ايتونو كښې لس اوامر هر امركښې يوكال ته اشاره ده مطلب داچه قرآن وايه په لسو كالو كښې به جماعت جوړ شى او بيا دجماعت دملګرو درى قسمونه ذكر كوى(۱)معلمين اومعذورين (۲)مجاهدين(۳)تاجران او خادمان. دارنګ سورت كښې ترغيب الي القران،تخويف دنيوى اخروى او اخر كښې شپږ اوامر د تبليغ ذكركوى.

**دسورت امتيازات**: (۱)ذكر د تنظيم الاٴوقات او تنظيم الجماعة.(۲)ذكر د بعض عذابونو.

# خلاصة سورة المدثر

**ترتیب:**.داسورت نزول کښې ٤نمبردے پس د سورة المزمل نه نازل شوے دے.

**ربط**:. (۱)مخکښې ذکر شو چه د قرآن دعوت ورکړه اوس وائی چه په دعوت کښې به دےمخالفین هم راځی.(۲)ماقبل کښں ئےاوفرمائیل وما تقدموا لا ٔنفسکم نودلته فرمائی قم فا ٔنذر.

**دعوی دسورت**:. په تبلیغ د قرآن تیزی ورکول.

**حاصل د سورت**:. سورت کښې په تبلیغ د قرآن تیزي ورکوی. نبی علیه السلام ته تسلی ده، منکرانو معاندانو ته زجر،تخویف او درسول ریشتنوالی باندی ګواهي او مثال ذکر کوی.دارنګ سورت کښې د عذاب علتونه،نفی د شفاعت قهری او بشارت ذکرکوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د عدد ملائکو د جهنم (تسعة عشر).

(۲)بعضے اسباب د عذاب د جهنم.

# خلاصة سورة القیامة

**ترتیب:**.دا سورت نزول کښے۳۱نمبردے پس د سورة القارعة نه نازل شوے دے.

**ربط**:. (۱)مخکښې دقرآن نه مخ اړونکو ته زورنه ذکر شوه اوس ورته ویره ورکوی.(۲)هغه سورت کښں تحضیض په بیان د قران وو. نو دے سورت کښں دهغے ادب بیانوی.

**دعوی دسورت**:.دقیامت اثبات په ګواهی سره د هډوکو په راجمع کولو باندی.

**حاصل د سورت**:. سورت کښې د قیامت په اثبات ګواهي او مثال ذکر کوی او منکرانو ته تخویف څلور ځله هلاکت او دڅلور څیزونونه په انکار باندی زجر [(۱)توحید (۲)رسالت،(۳)قرآن(٤)قیامت]. دارنګ یو تمثیل دپاره د دعوے د سورت او آخر کښے زجر منکرین د بعث ته او دلائل په اثبات د حشرذکرکوی.

**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر دخصوصی دهشت دانسان (یقول الإنسان یومئذ أین المفر).(۲)اقسام د وجوه.

## خلاصة سورة الدهر

**ترتیب**:. داسورت نزول کښے۹۸نمبردے پس د سورةالرحمٰن نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة**:.سورة الدهر،سورة الإنسان، سورة هل أتي، سورة الأبرار، سورةالأمشاج.

**ربط**:.(۱)مخکښے دقیامت اثبات په ګواهئ سره ذکر شو اوس پری یو مثال ذکرکوی. (۲)ماقبل کښ بشارت وو مختصراً. نودلته هغه مفصل بیانوی .

**دعوی دسورت**:. دقیامت اثبات په یو مثال سره اولس نعمتونه.

**حاصل د سورت**:.سورت کښے دقیامت اثبات په مثال سره ذکرکوی. منکرانو ته تخویف. منونکو ته دآخرت زیرے اولس نعمتونه ذکر کوی. او ورسره قرآن ته ترغیب او د دنیا په محبت زجر چه دا د قرآن او دقیامت نه دانکار ذریعه ده. دارنګ تسلی للنبی علیه الصلوٰة والسلام، صفات الأبرار، ترغیب الی القران ذکر کوی.

**دسورت امتیازات**: . (۱)ذکر د خصوصی( عین الکافور، عین السلسبیل). (۲)انعامات خاصه د جنت.

# خلاصة سورة المرسلات

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښې۳۳نمبردے پس د سورة همزه نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة**:. سورة مرسلات، سورة العرف.

**ربط**:.(۱) مخکښې دقیامت اثبات ذکر شو بغیر د دلیلونو نه اوس پرے عقلي دلیلونه ذکر کوی. (۲)ماقبل کښ ئے د متقیانو لس جزاګانے ذکر کړے. نو دلته د منکرینو د پاره په لفظ وئیل سره لس سزاګانے ذکر دی.

**دعوی دسورت**:. دقیامت اثبات په ګواهو او په دلیلونو سره.

**حاصل دسورت**:. سورت کښے دقیامت اثبات په ګواهئ او په دلیلونو سره ذکر کوی او د قیامت منکرانو ته تخویف او زواجر او لس ځله لفظ دویل او منونکو ته بشارت ذکرکوی.

**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر د خصوصی حالت دجهنم (کأنه جمالت صفر). (۲)ذکر د جملے مخصوصے ویل یومئذ للمکذبین لس کرته.

# خلاصة سورة النبأ

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښے ۷۰نمبردے پس د سورةالمعارج نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة**:. سورة النبا، سورةالتساؤل، سورةالمعصرات، سورة عم.

**ربط**:.(۱)مخکښی دقیامت اثبات په عقلی دلیلونو سره اوشو اوس د الله تعالیٰ په بعث بعد الموت باندی دقدرت اظهار دپاره لوئ لوئ انعامات ذکر کوی. (۲)ماقبل کښ ئے شهادتونه په إثبات القیامة بیان کړل. نو دلته زجر ورکوی منکرینو د بعث ته.

**دعوی دسورت**:. دقیامت اثبات او منکرانو دقیامت ته زورنه او دزور دسفارش نفی.

**حاصل دسورت**:. سورت کښې دقیامت اثبات او دهغې منکرانو ته زجر او د یوم الفصل هغه لس نعمتونه چې دنیا کښې ترې مومن او کافر دواړه فائدې اخلی هغه به دقیامت په ورځ ختم شي. او دمنکرانو دپاره په لسو څیزونوسره تخویف ذکر کوی. دا رنګ بشارت اخروی تفصیلاً او نفی د شفاعت قهری ذکرکوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر دخصوصی تمنا دکافرو (یالیتنی کنت ترٰابا).(۲)انعامات عامه لس.

# خلاصة سورة النازعات

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښې ۸۱نمبردے پس د سورة النبأ نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة**:. سورة النازعات، سورةالساهرة، سورةالطامة.

**ربط**:. (۱)مخکښې دقیامت منکرانو ته زورنے ذکر شوې.اوس دهغوی دپاره د دنیا ویره ذکرکوی دفرعون په واقعے سره. (۲)ماقبل کښې تپوس کونکوته زجرو واولاً.نودلته تپوس کونکوته زجردے اُخرًا.

**دعوی دسورت**:. دقیامت اثبات په ګواهی سره او د دنیا ویره.

**حاصل دسورت**:. سورت کښې دقیامت اثبات په شواهدو او عقلي دلیلونو سره ذکرشوے دے. او دقیامت منکرانو ته د قیامت په باره کښې تپوسونو کولو باندې زورنه،دارنګ تخویف اخروی ، بشارت اُخروی، په تخویف دنیوی واقعه د موسیٰ د قوم ، تخویف،عقلی دلائل ذکرکوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)شهادات مخصوصه.(۲)ذکر د الطامة الکبریٰ.

# خلاصة سورة عبس

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښې۲٤ نمبردےپس د سورة النجم نه نازل شوے دے.

**اسماءالسورة**:. سورةعبس، سورةالأعمي، سورة الصاخة، سورةالسفرة.

**ربط**:.(۱) مخکښې دمجرمانو حالت بیان شو اوس هغوی ته د تبلیغ کولو ترغیب. (۲)ماقبل کښې تخویف دنیوی وو منکرینود قیامت ته. نودلته زجر شدید دے هغوی ته.

**دعوی دسورت**:. په تبلیغ باندی تیزول او دقیامت اثبات او دهغی احوال.

**حاصل دسورت** :. سورت کښے په تبلیغ باندی تیزی ورکوی او دهغی طریقه چې هغه چاته توجه ورکړه چې انابت پکښې وی. قرآن ته ترغیب. او دقیامت اثبات په دلیلونو سره او دقیامت احوال او د قرآن او د قیامت منکرانو ته زورنه ذکرکوی.

**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر دخصوص حالت د نبی علیه الصلوٰة والسلام او واقعه د اعمي. (۲)تسمیه د قیامت په الصاخة سره.

# خلاصة سورة التکویر

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښے۷نمبردے پس د سورة اللهب نه نازل شوے دے.

**اسماءالسورة**:. سورة التکویر، سورة کورت، سورةاذا الشمس کورت.

**ربط**:. (۱)مخکی دبعثت منکرانوته زورنه وه اوس دکتاب او رسول منکرانو ته زجر ورکوی.(۲)ماقبل کښې ئے اثبات د بعث وکړو. نو دلته ترقي کوی په دغے مسئلې په بیان د حالاتو د قیامت سره.

**دعوی دسورت**:. دقیامت اثبات او دانسان دخپلو عملونو سره ملاقات .

**حاصل دسورت**:. سورت کښے دقیامت بیان او د هغې دولس احوال شپږ دفنانه مخکښې اوشپږدقیامت په وخت کښے او دانسان دخپل عمل سره ملاقات. دکتاب په ریشتنوالی باندی ګواهي او ورسره دپیغمبر ریشتنوالے او منکرانو ته زورنه ذکرکوی.

**دسورت امتیازات:**. (۱)ذکر دسند د قران په واسطینو سره (واسطة ملك واسطة بشری). (۲)صفاتِ جبرئیل.

# خلاصۃ سورۃ الانفطار

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښے۸۲نمبر دے پس د سورة نازعات نه نازل شوے دے.

**ربط**:.(۱)مخکښې دقیامت اثبات اوشو. اوس وائی چې په هغه ورځ هیڅ څوك بچ کونکے نشته. (۲)ماقبل کښې دستورو خړوالې ذکر شو. نودلته انتثار الکواکب بیانوی.

**دعوی دسورت**:. دمخکښې سورت وضاحت او د زور دسفارش نفی.

**حاصل دسورت**:. دماقبل سورت وضاحت او دقیامت د څلورو انقلابونو تذکره او دزور دسفارش نفی او منکرانو ته زورنه او ویره اومومنانو ته زیرے ذکر کوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر دتقرر د ملائکو په کتابة الأعمال. (۲)انقلابات اربعه.

# خلاصة سورة المطففين

**ترتيب:**.دا سورت نزول كښې٨٦نمبردے پس د سورة العنكبوت نه نازل شوے دے.

**اسماءالسورة:**. سورة المطففين،سورة التطفيف۔

**ربط:**.(١)مخكښې ذكر شو چې قيامت به راځي څوك بچ كونكے نيشته اوس دېچ كيدو دپاره ايمان او نيك عمل ته ترغيب وركوى .(٢)ماقبل كښې ئے زجروركړو په ما غرك بربك الكريم سره. نو دلته ترغيب وركوى ايمان اونيك عمل ته.

**دعوى دسورت:**. ايمان اونيك عمل ته ترغيب وركوى د دنيا نه په بے رغبته كولو سره.

**حاصل دسورت:**. سورت كښې ايمان او نيك عمل ته ترغيب او زورنه او بے رغبتى د دنيا نه ذكر كوى هغه چا ته چې معمولى څيزونو ته ترجيح وركوي او اعلىٰ څيزونه توحيد او سنت ئې پريښودلے دے منكرانو ته دكتاب الفجار په تذكرے سره ويره اوزورنه او مومنانو ته دكتاب الأبرابر په تذكرے سره زيرے وركوى او د دوړاو احوال ذكر كوى او په اخر كښې مشركانو ته زورنه او مومنانو ته زيرے وركوى.

**دسورت امتيازات:** (١)ذكر دخصوصي حالت دقلب (كلا بل ران ... الخ). (٢)ذكر د سجين وعليّين.

# خلاصة سورة الانشقاق

**ترتيب:**.داسورت نزول كښې ٨٣نمبردے پس د سورة الانفطار نه نازل شوے دے.

**اسماءالسورة:**. سورة الانشقاق، سورة انشقت.

**ربط**:.(۱)مخکښې ایمان او نیك عمل ته ترغیب وو اوس هغه چاته زورنه ورکوی چې نه ایمان راوړی او نه نیك عمل کوی. (۲)ماقبل کښې ئے د عمل نامو حالت بعد الموت بیان کړو. نو دلته دهغې حالت بیانوی وقت الحشر.

**دعوی دسورت**:.دقیامت اثبات او دعالم فناء او نیك اعمالوته ترغیب.

**حاصل دسورت**:. سورت کښې د قیامت احوال او د عالم فناء او دقیامت په اثبات ګواهی او نیك عمل ته ترغیب او دایمان په نه راوړلو او دنیك عمل په نه کولو زورنه او ویره او مومنانوته زیرے ذکر کوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د تقسیم د عملنامو. (۲)ذکر د احوالو مخصوصو په قیامت کښې.

# خلاصة سورة البروج

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښې۲۷نمبردے پس د سورةالشمس نه نازل شوے دے.

**ربط**:.(۱)مخکښې ایمان ته ترغیب ذکر شو اوس وائی چې ایمان راوړل خو لویه خبره ده دوی خو د حق مقابله کوی. (۲)ماقبل ئے د دوو فرقو تقابل اخروی ذکر کړو. نو دلته د هغوی تقابل دنیوی هم بیانوی.

**دعوی دسورت**:. ویره منکرانو ته او د ماقبل سورت خلاصه ده.

**حاصل دسورت**:. داسورت دماقبل سورتونو خلاصه ده چې قیامت به د دی دپاره راځی چې ظالم ته سزا ورکړے شی. او د دنیا په ویره باندی د اصحاب الأخدود او د دروغ ګنړنکو امتونو مثالونه ذکرکوی.

**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر د واقعې داصحاب الاخدود.

(۲)تخویف په افتتان المؤمنین.

# خلاصة سورة الطارق

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښې ۳٦نمبردے پس د سورة البلد نه نازل شوے دے.

**ربط**:.(۱)مخکښې دقرآن دتکذیب کونکو ذکر اوشو اوس دتکذیب کونکو حقارت ذکر کوی. (۲)ماقبل کښې تخویف د آخرت بیان شو.نو دلته په هغے باندے شواهد او د لائل عقلیه پیش کوی.

**دعوی دسورت**:. کافرانو ته مهلت، (فمهل الکافرین .... )

**حاصل دسورت**:. سورت کښې په بعث بعد الموت باندی دوه گواهی او دلیلونه او منکرانو ته دعذاب ویره او دمهلت تذکره او قرآن ته ترغیب ذکر کوی.

**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر دخصوصی شواهدو په عظمت او په صدق دکتاب. (والسماء ذات الرجع الخ).(۲)ذکر د شاهد خاص.

# خلاصة سورة الاعلیٰ

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښې۸نمبردے پس د سورةالتکویر نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة**:. سورة الأعلیٰ، سورة سبح.

**ربط**: (۱)ددی ځائی نه ترسورة الضحٰی پورے د دنیا نه بے رغبتی او آخرت ته ترغیب ذکر دے. (۲)ماقبل کښې ئے او فرمائیل چه د هر چا حافظِ شته. نو دلته فرمائی هغه الله خالق او مربی دے.

**دعوی دسورت**:.بیان د توحید او د دنیا نه بے رغبتی.

**حاصل د سورت**:. سورت کښې په توحید دوه دلیلونه او دوه مسئلے بیانوی (۱) خالق دهر څیز الله دے(۲) عالم په هر څه الله دے. په دی باندی دوه نعمتونه تفریع کوی. سنقرئك فلاتنسی (۲) ونیسرك للیسریٰ. او ترغیب

ورکوی قرآن ته چي د قرآن نه بغير توحيد پوره کيدے نشي او دقرآن په لاره کښے رکاوټ دنيا سره مينه کول دی نو د دنيا بے رغبتی ذکرکوی.

**دسورت امتيازات:** (۱)ذکر د صحيفو دابراهيم او موسی عليهما السلام. (۲)ذکر د هدايت عامه.

## خلاصة سورة الغاشية

**ترتيب:**.داسورت نزول کښے٦٨نمبردے پس د سورة الذاريات نه نازل شوے دے.

**ربط:**. (۱)ماقبل کښې تزهيد فی الدنيا ؤو. نو دلته تخويف اوبشارت دے د تزهيد فی الدنيا د پيداکولودَپاره.(۲)ماقبل کښې ترغيب ببيان القران وو. نودلته هم ترغيب ببيان القران دے.

**دعوی دسورت:**. ويره او زيرے ورکول.

**حاصل د سورت:**. منکرانو ته ويره او مومنانو موحدينو ته زيرے په لسو وجوهاتو سره او ترغيب دے څلورو صفاتو ته چی داپه ځان کښے راولئ او اخر کښے تسلی او په تبليغ باندی تيزی ورکوی.

**دسورت امتيازات:** (۱)ذکر دخصوصی نوم د قيامت (الغاشية). (۲)ذکر د انعاماتو مخصوصه ؤو د جنت په تمثيلاتوسره.

## خلاصة سورة الفجر

**ترتيب:**.دا سورت نزول کښے ۱۰نمبردے پس د سورةالليل نه نازل شوے دے.

**ربط:**. (۱)ماقبل کښې تخويف او بشارت ؤو. نو دلته تضرع الیٰ الله ته ترغيب دے دپاره ددے چه د تخويف نه په امن شی او بشارت حاصل شی.(۲)ماقبل کښې تخويف اخروی ؤو. نودلته تخويف دنيوی دے په واقعه د سابقينو سره.

**دعوی دسورت:**. د دنيا نه بے رغبته کول.

**حاصل د سورت**:. په پنځو اوقاتو سره تذکیر چې بیدار شئ سستي مه کوئ دکامیابۍ او بهتروختونه درنه ضائع شول او تاسو هیڅ اونکړل. ددنیا په ویره د دری قومونو تذکره او د دنیا نه بې رغبتي په دریو طریقو سره. او زیرے او ویره ذکرکوی.
**دسورت امتیازات**:. (۱)ذکر دنفس مطمئنة او هغې ته بشارت.
(۲)ذکرد اوقاتو د تضرع إلی اللّٰه.

# خلاصة سورة البلد

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښې ۳۵ نمبردے پس د سورة قٓ نه نازل شوے دے.
**ربط**:. (۱)ماقبل کښې ئے زجر ورکړو ولا تکرمون الیتیم نودلته ترغیب دے احسان دیتیم ته.(۲)ماقبل کښې ذکر د اقوامو ثلثوو. نو دلته د دے زمانے دنیا دار ذکر کوی.
**دعوی دسورت**:هغه اسراف کونکوته زورنه چې بے ځایه خپل مال لګوی. او دګلی اصلاح.
**حاصل دسورت** :. سورت کښې بے ځایه خرچ کونکو او مال لګونکو ته زورنه او دمال لګولو صحیح ځایونه ذکر کوی.او دګلی داصلاح دپاره دری قوانین ذکرکوی(۱)دګلی مشربه محنتی وی (۲)دګلی مال به په صحیح ځائ لګوی. ۱۳،۱٤(۳)مشربه برداشت کونکے وی دخلقو په بدوردو به صبر کوی.
**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر دخصوص حالت دنبی علیه الصلوٰة والسلام (وأنت حل بهذا البلد). (۲)امور د اقتحام العقبة.

# خلاصۃ سورۃ الشمس

**ترتیب:.** دا سورت نزول کښې ۲٦نمبردے پس د سورةالقدر نه نازل شوے دے.

**ربط:.** (۱)ماقبل کښې یې دوه ډلې ذکرکړې، نو دلته فرمائی چه د دوی په مینځ کښې ډیر فرق دے.(۲)ماقبل کښې یې بے ځایه خرچونکي د دے امت ذکرکړل.نودلته دمخکنوامتونو ذکرکوی چه ثمود دی.

**دعوی دسورت:.** په عقائدو کښےفرق.

**حاصل د سورت:.** دصحیح او د غلطے عقیدے بیان او هغے کښے فرق ذکرکوی او په هغی باندی خلور ګواهئ او دهغه خلقو رد چي پاك نه دی او ځان پاك ګنړی او ددنیا د ویری مثال.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر دخصوصی عذاب د ثمودیانو (فدمدم علیهم). (۲)تقابل د اشیاء اٴربعه.

# خلاصۃ سورۃ اللیل

**ترتیب:.**دا سورت نزول کښے ۹ نمبردے پس د سورة الاعلیٰ نه نازل شوے دے.

**ربط:.** (۱)ماقبل کښې تفرقه بین الناس ذکر شوه في الاعتقاد. نو دلته تفرقه فی تاثیر الاٴعمال ذکر کوی.(۲)ماقبل کښے دبے ځایه خرچ کونکو ذکر وو.بطور تخویف دنیوی نو دلته بشارت دے هغه کسانوته چه هغوئ صحیح مصرف کښې خرچ کوی.

**دعوی دسورت:.** په نیك او بد عمل کښے فرق.

**حاصل د سورت:.** دنیك او بد عمل فرق ذکر کوی او په دی باندی دوه ګواهئ او د عمل د قبولیت دری شرطونه ذکر کوی.(۱)دالله او درسول اطاعت (۲)دشرك او بدعت نه ځان بچ کول(۳)توحید او اخلاص، داسی

خلقو ته زیرے او ددی مقابل کښے دهغه بدبخت بیان چي ددی شرطونو خیال نه ساتی او هغه ته ویره ذکر کوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر دخصوصي صفت د نارسره(نارا تلظی).
(۲)تقابل بین صفات المؤ من والکافر.

## خلاصۃ سورۃ الضحیٰ

**ترتیب:**.دا سورت نزول کښے۱۱نمبردے پس د سورةالفجر نه نازل شوے دے.

**ربط**:. (۱)ضحیٰ نه ترآخره پوری د قرآن دټولو مضامینو اعاده کوی.(۲)ماقبل کښ تسلی للا ٔمة وه. نودلته تسلی ده للنبی صلی اللّٰہ علیه واله وسلم.

**دعوی دسورت**:. تسلی نبی علیه السلام ته .

**حاصل د سورت** :.سورت کښے نبی علیه السلام ته دلاسه ورکوی دوحی په بندیدو. دوحی دبندیدو مثال دشپے او ورځ سره ورکوی لکه چي شپه او ورځ رائی نو دغه شان وحی هم ده د لږ وخت دپاره دوحی په بندیدو مه خفه کیږه او په نبی علیه السلام باندي د دریو انعاماتو تذکره او دهغی دشکر اداکولو دري طریقے ذکر کوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر دانعاماتو ثلاثو په نبی علیه الصلوٰة والسلام.
(۲)حقوق د یتیم او د سائل.

## خلاصۃ سورۃ الانشراح

**ترتیب:**.دا سورت نزول کښے ۱۲نمبردے پس د سورة الضحیٰ نه نازل شوے دے.

**اسماءِ السورة**:. سورة ألم نشرح، سورةالانشراح.

**ربط**:. (۱)ماقبل کښ تسلی للنبی صلی اللّٰہ علیه وسلم وه نو دلته تسلی للنبی(علیه السلام)وللمؤمنین بیانوی.(۲)ماقبل کښ دفع دیو اعتراض وه په

بندش د وحي په نبی صلی الله علیه وسلم باندے نو دلته دویم اعتراض دفع کوی.فقراو غریبی د اصحابورضی الله عنه د نبی صلی الله علیه وسلم.
**دعوی دسورت** :. تسلي للنبي أصالة او امت ته تبعا.
**حاصل د سورت**:.نبی علیه السلام ته تسلی أصالة او امت ته تبعا اود دریو نعمتونو تذکره په نبی علیه السلام باندی أصالة او په امت باندی تبعا.
**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر دیسرین په مقابله دعسر واحد کښے.
(۲)ذکر د انشراح الصدر ورفع الذکر.

# خلاصة سورة التين

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښے ۲۸نمبردے پس د سورةالبروج نه نازل شوے دے.
**دعوی دسورت**:.دتوحید اثبات او په تبلیغ باندے بهادر کول یاد انسانیت تکمیل ذکر کوی.
**حاصل دسورت**:.(۱)سورت کښے دتوحید اثبات په دری دلیلونو سره ، منونکو ته زیرے او منکرانو ته ویره. په تبلیغ باندی دبهادر کولو دپاره دانبیاؤ تذکره ،(چه ابراهیم،موسیٰ عیسیٰ او نبی علیهم السلام دی) چی دی مشرانو ته اوګوره دوی چه کوم کار کړے وو په دنیا کښے هغه ته هم اوکړه. یا په سورت کښے دهغه کسانو بیان دے چه هغوی دانسانیت دتکمیل بیان کړې وو. او دانسانیت دتکمیل اصول ایت٦ کښے او دغیر کامل تذکره ایت ٥ کښے کوی.
**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر دخصوصی انعام په انسان باندے (فی أحسن تقویم).(۲)ذکر د مقامات مخصوصه.

# خلاصة سورة العلق

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښې ۱نمبردے

**اسماء السورة**:. سورةالعلق،سورة اقرأ.

**ربط**:. (۱)ماقبل کښې مسئله دتوحید بیان شوه. نودلته تیزی ورکوی په قراءة الفران للتوحید.(۲)ماقبل ئے مسئله دتوحید سره د دلائلو ثابت کړه . نود لته زجردے هغه کسانو ته چه منع کوی دتوحید نه.

**دعوی دسورت**:.قرآن ته ترغیب.

**حاصل د سورت**:.سورت کښې قرآن ته ترغیب او دقرآن او دتوحید نه منع کونکو بد صفتونه او هغوي ته زورنه او ویره او ددی په مقابل کښې دداعی صفتونه او تسلی او ترغیب او څلور مقاصد عالیه ذکر کوي.

**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر د خصوصی تخویف معرض عن القران ته (سندع الزبانیة).(۲)قبائح د منع کونکی د قرآن.

# خلاصة سورة القدر

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښې ۲۵نمبردے پس د سورة عبس نه نازل شوے دے.

**ربط**:. (۱)ماقبل کښں ترغیب الیٰ اقراءة القران ؤو. نودلته عظمة القران بیانوی. (۲)ماقبل سورت کښں دعویٰ د اقرأ وه. نودے سورت کښې د هغے علت ذکر دے.

**دعوی او حاصل د سورت**:. دقرآن عظمت، او دقرآن دوجه لیلة القدر ته عظمت ملاؤ شو او دلیلة القدر حالات ذکرکوی.

**دسورت امتیازات**:(۱) ذکر د لیلة القدر او دهغے د برکاتو. (۲)ذکر د الفاظو مطلع الفجر.

# خلاصۃ سورۃ البینۃ

**ترتیب:**.دا سورت نزول کښے۱۰۰نمبردے پس د سورة الطلاق نه نازل شوے دے.

**اسماءِ السورة:**. سورةالبينة، سورة المنفكين،سورة البرية،سورة لم يكن.

**ربط:**.(۱)ماقبل کښې ئے عظمة القران بيان کړو. نودلته زجرورکوی منکرینو دقران ته.(۲)ماقبل کښې ئے دقران کريم عظمت بيان کړو. دے سورت کښې د هغے خلاصه بيانوی. ايت ۵ کښې.

**دعوی دسورت:**.منکرانو ته زورنه او ويره او درسالت او دقرآن دنعمت بيان.

**حاصل دسورت** :.سورت کښے دالله د لوئ نعمت درسالت او دقرآن بيان دے چه خلق ورته ډير محتاج دی او منکرانو ته زورنه او ويره او منونکو دپاره زيرے ذکرکوی.

**دسورت امتيازات:** (۱) ذکر دمقاصد متفق عليها سره فی الکتب السماوية (وماأمروا إلا ليعبدوا الله الخ). (۲)بيان د حال د اهل الکتاب قبل البعثة.

# خلاصۃ سورۃ الزلزال

**ترتیب:**.داسورت نزول کښے۹۳نمبردے پس د سورة النبأ نه نازل شوے دے.

**ربط:**.(۱)ماقبل کښې ئے د نعمة الرسول صلی الله عليه وسلم تذکره اوکړه. نو دلته تخويف اخروی ورکوی منکرينوته.(۲)ماقبل کښې ذ کر د معاندينو اوشو. نودلته هغوئ ته تخويف اخروی ورکوی.

**دعوی دسورت:**.تخويف اخروی په اثبات د قباحت سره.

**حاصل د سورت:**.سورت کښے شپږ احوال دحشر دپاره دتخويف اخروی.

**دسورت امتيازات:** (۱)ذکر د خصوصی احوالو د زمکے عند قيام الساعة.(۲)ذکر د زلزلة عظمیٰ.

# خلاصة سورة العاديات

**ترتيب:**.داسورت نزول کښې ١٤نمبردے پس د سورةالعصر نه نازل شوے دے.

**ربط**:.(١)ماقبل کښې ئے تخویف اخروی ورکړو . نودلته زجر ورکوی.

(٢)ماقبل کښې تذکره د قیامت اُوشوه. نو دلته ترغیب الیٰ الجهاد ورکوی.

**دعوی دسورت**:.دویری نه پس زورنه او قتال ته ترغیب

**حاصل**:. سورت کښې زورنه او قتال ته ترغیب دے.

چه أس دخپل مالك تابع دے. اے انسانه ! ته دخپل مالك تابع نه شوے. ددنیا نه بے رغبتی چه، أس الله اول دجهاد دپاره پیدا کړے دے او تاسوئ صرف ددنیا دپاره زغلوئ. او دانسان دمرض او دهغے دسبب او دعلاج بیان. زورنه او بهادر کول.

**دسورت امتیازات:** (١)ذکر د دخصوصی حالاتو د اسونو.

(٢)بیان دمرض ، سبب دمرض او علاج دهغے.

# خلاصه سورة القارعة

**ترتيب:**.داسورت نزول کښې٣٠نمبردے پس د سورةقریش نه نازل شوے دے.

**ربط:**.(١)ماقبل کښې زجرؤو. نودلته تخویف اخروی بیانوی.(٢)ماقبل کښې بعث عن القبور ذکر ؤو. نو دے سورت کښې تقسیم دے دوه قسموته په ورځ د قیامت.

**دعوی او حاصل د سورت**:. دزجر نه پس تخویف اخروی او بشارت اخروی او بیان د تول داعمالوذکرکوی.

**دسورت امتیازات:** (١)ذکر د خصوصی صفت د جهنم (الهاویه).

(٢) تسیمه د قیامت په القارعة.

# خلاصه سورة التكاثر

**ترتيب**:.دا سورت نزول کښې١٦ نمبردے پس د سورة الكوثر نه نازل شوے دے.

**اسماء السورت**:.سورة التكاثر،سورة ألهاكم.

**ربط**:.(١)ماقبل کښې ئے دوه ډلے پیش کړے. نو اوس د هغے سبب ذکرکوی چه محبت د دنيا دے.(٢)هغه سورت کښې تخویف ؤو. اوس زجر ذکرکوی.

**دعوی او حاصل دسورت**:. ددنيا نه بے رغبتي او تخويف اخروی او زجر ورکوی په جمع کولو د دنيا او په غفلت.

**دسورت امتيازات**: (١)ذکر د خصوصی سوال النعم (لتسئلن يومئذ عن النعيم)(٢)درے ځله لفظ د کلا دوه ځله ردع يوځل په معنى د حقًا.

# خلاصه سورة العصر

**ترتيب**:.داسورت نزول کښې ١٣ پس د سورة الانشراح نه نازل شوے دے.

**ربط**:.(١)ماقبل کښې زجرؤو په مينه د دنيا. نو دلته ترغيب دے اصولو دکاميابئ والنجاة عن الخسران ايمان عمل صالحه بيان حق او صبر.(٢)ماقبل کښې زجر ؤو بحب الدنيا. نودلته زجر دے بالخسران.

**دعوی او حاصل د سورت**:.څلورنيك اعمالو ته ترغيب چې دتاوان نه بچ کونکی دی.

**دسورت امتيازات**: (١)سورت ممتاز دے په ذکر د اصولو د کاميابئ. (٢)قسم په عصر.

# خلاصة سورة الهمزة

**ترتیب**:.داسورت نزول کښے ۳۲نمبردے پس د سورة القیامة نه نازل شوے دے.

**ربط**:. (۱)ماقبل کښې څلور اوصافِ حسنه بیان شو. نودلته منع کوی د اوصاف قبیحونه.(۲)ماقبل کښې زجر بالخسران ؤو. دلته زجر دے په بیان دصفاتو دخسران سره.

**دعوی اوحاصل دسورت** :. ددنیا نه بے رغبتی او په ناکاره صفتونو زورنه. ددی ځائ نه په څلورو سورتونو کښے دباطل پرستو نخښے ذکر کوی. سورة همزه کښې دانخښه ذکر کوی چه په حق پرستو باندی طعن او عیب لګوی.او د دنیا سره مینه کوی، ورسره تخویف اخروی ذکرکوی.

**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر د وصف دجهنم (نارالله الموقدة الخ) (۲)اوصاف قبیحه دمنکر.

# خلاصة سورة الفیل

**ترتیب**:.داسورت نزول کښے ۱۹ نمبردے پس د سورة الکافرون نه نازل شوے دے.

**ربط**:.(۱)ماقبل کښې زجرؤو سرکشئ والا صفاتوته. نودلته هغوی ته تخویف دنیوی ورکوی سره دزجرنه بهدم مرکز التوحید .(۲)ماقبل کښې زجر ؤو بالأوصاف القبیحة. نودے سورت کښې د هغے نتیجه او سبب ذکر کوی.

**دعوی او حاصل د سورت**:.بله نخښه ذکر کوی دباطل پرستو چې ددین او دتوحید مرکزونو ته نقصان رسوی او دهغوي مثال په اصحاب الفیل سره ذکرکوی.

**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر دواقعے داصحاب الفیل دپاره د عبرت. (۲)ذکر دطیراً أبابیل.

# خلاصۃ سورۃ قریش

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښې ۲۹ نمبردے پس د سورة التین نه نازل شوے دے

**ربط**:. (۱) ماقبل کښې زجر وؤ خرابونکو د مرکزِتوحید ته. نودلته زجر دے هغه کسانو ته چه هغوئ مرکزِ توحید د دنیا دپاره پریګدی.(۲)هغه سورت کښې ذکر د حفاظت دبیت ؤو. نو دے سورت کښې ذکر د حق د رب البیت دے.

**دعوی او حاصل د سورت**: ددنیا نه بے رغبتی او زورنه هغه چاته چي ددین مرکز ونه پریږدی او صرف ددنیا دپاره سفرونه کوی.او دابله نخښه ده دباطل پرستو.

**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر د دوؤ نعمتونو (أطعمهم من جوع وأمنهم من خوف).(۲)ذکر د حال د قریش.

# خلاصۃ سورۃ الماعون

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښے۱۷ نمبردے پس د سورة التکاثر نه نازل شوے دے.

**اسماء السورت**:. سورة الماعون، سورة الدین، سورة التکذیب، سورةأرأیت.

**ربط**:.(۱) ماقبل کښې زجرؤو د مرکزِ توحید پریخودونکوته. نودلته د هغوی اوصاف قبیحه بیانوی.(۲)ماقبل کښې امرو و بالتوحید فی العبادة نودے سورت کښې آثار ذکر کوی د ترک توحید.

**دعوی او حاصل د سورت**:.په ناکاره صفتونو زورنه. چي دیتیم او مظلوم سره زیاتے کوی او د مانځه خیال نه ساتی او دا بله نخښه ده دباطل پرستو.

**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر د خصوصی صفت دبے دینه خلقو (ویمنعون الماعون). (۲)اوصاف قبیحه د منکر.

# خلاصة سورة الكوثر

**ترتيب**:.داسورت نزول کښې ۱۵ نمبردے پس د سورة العاديات نه نازل شوے دے.

**اسماء السورت**:. سورة الكوثر، سورة النحر.

**ربط**:. (۱)ماقبل کښې اوصاف قبيحه د مكذبينو وو. نودلته دهغے خلاف نيك اوصاف بيانوی.(۲)ماقبل کښې ئے اوصاف قبيحه بيان کړل . نودلته دهغے نه د نجاة امور پيش کوی.

**دعوی او حاصل د سورت**:.ښو صفتونو ته ترغيب او نبی عليه السلام ته تسلی چه دوه کارونه څما دپاره اوکړه.(۱)عبادت بدني(۲)عبادت مالی .

دوه څيزونه په درکړم(۱)خير كثير(۲)دشمن به دے تباه کړم.

**دسورت امتيازات**: (۱)ذکر د خصوصی تسلئ نبی عليه الصلوة والسلام ته(إعطاء الكوثر او د دشمن تباهی).(۲)اصول هزيمة الأعداء.

# خلاصة سورة الكافرون

**ترتيب**:.داسورت نزول کښې۱۸ نمبر دے پس د سورة الماعون نه نازل شوے دے

**اسماء السورة**:. سورةالكافرون،سورة الإخلاص، سورة المقشقشة.

**ربط**:.(۱)ماقبل کښې اصول الفلاح بيان شؤل . نودلته حكم كوی په تبری عن المشركين.(۲)ماقبل کښې ذکر د إنعام د قران ؤو. نو دے سورة کښې براءت د ے دمنكرينو د دے انعام نه يعنی ددين حق او دين باطل امتياز په دوه ؤو شيانو سره دے. معبود د حق او طريقه د عبادت .

**دعوی او حاصل د سورت**:. دالله ددشمنانو سره تعلق ختمول او دشرك دواړه قسمونه (اعتقادی او فعلی)او دبدعت رد کوی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د مقاطعے د کفارو نه فی کل حین وزمان.
(۲)ذکر د جملے لکم دینکم ولي دین.

## خلاصة سورة النصر

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښے ۱۱٤ نمبردے پس د سورة التوبة نه نازل شوے دے.

**ربط**:.(۱)ماقبل کښې یے اوفرمائل چه بایئکاټ اوکړئ. ددشمن نه . نودلته بشارت دے په فتح او نصرت سره په مقابله د دشمن کښې .(۲)ماقبل کښے مقاطعه ذکر شوه دلته نتیجه د هغے ذکر کوی.

**دعوی او حاصل د سورت**:. مومنانو ته دفتح او دنصرت وعده او زیرے ذکرکوی.او درے حکمونه په طور د شکر.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د انعامات ثلاثو او درے اوامر.
(۲)بشارت بالنصرة والفتح وکثرة المسلمین.

## خلاصة سورة اللهب

**ترتیب**:.دا سورت نزول کښے ٦ نمبر دے پس د سورة الفاتحه نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة**:.سورة اللهب ،سورةتبت،سورة مسد.

**ربط**:. (۱)ماقبل کښې بشارت بالفتح والنصرة وو. نودلته بشارت دے په اهلاك د دشمن (داتتمه د بشارت ده).(۲)ماقبل کښے د نصرت تذکره وه نو دلته نمونه د نصرت ذکرکوی.

**دعوی او حاصل د سورت**:. دنصرت یونمونه ذکرکوی ددشمن په هلاکولو سره لکه ابولهب او دهغه ښځه شو.او تخویف دنیوی اخروی.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د هلاکت د ابولهب او دهغے دښځے. (۲)دعاء شرپه ابو لهب او په ښځه د هغه.

## خلاصة سورة الاخلاص

**ترتیب:**.داسورت نزول کښے۲۲ نمبردے پس د سورة الناس نه نازل شوے دے.

**اسماء السورة:**.سورة الاخلاص، سورةقل هو الله احد، سورةالمقشقشة، سورةالتوحید، سورةالتفرید، سورةالتجرید، سورة النجاة، سورة الولایة، سورة المعرفة، سورةالجمال، سورة النسبة، سورةالصمد، سورةالایمان، سورة البراءة،

**ربط:**. (۱)ماقبل کښ بشارت ؤو بهلاك العدو. نودلته ترغیب الي التوحید دے. (۲)ماقبل کښ ذکر د عذاب ؤو. نودے سورت کښ هغه مسئله ذکر ده چه انکار دهغے سبب د عذاب دے.

**دعوی او حاصل د سورت:**.توحید او د مشرکانو په ټولو فرقو او دشرك په ټولو قسمونو باندی رد.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د توحید.(۲)بیان د اخلاص التوحید مخالف د هر قسم شرك وکفرنه.

## خلاصة سورة الفلق

**ترتیب:**.داسورت نزول کښے ۲۰ نمبر دے پس د سورة الفیل نه نازل شوے دے

**ربط:**.(۱)ماقبل کښے خزانه پیش شوه دتوحید . نو دلته طریقه ښائی لحفاظة الخزانة.(۲)ماقبل کښ د الله رب العزت اسم ذات (الله)ذکر وو دلته د الله رب العزت اسم صفتي (رب)ذکر دے.

**دعوی او حاصل د سورت:**. دالله نه پناه غوختل او دتوحید د خزانے حفاظت.

**دسورت امتیازات:** (۱)ذکر د خصوصی صفت د الله (رب الفلق). (۲)ذکر د شرور او خصوصًا د حسد.

# خلاصة سورة الناس

**ترتیب**:.داسورت نزول کښې ۲۱نمبردے پس د سورة الفلق نه نازل شوے دے.

**ربط**:.(۱)ماقبل کښې ابتداء په قل أعوذ برب الفلق سره وه دلته په قبل أعوذ برب الناس سره ده.(۲)ماقبل کښې د الله يو صفتي نوم (رب) ذکر وو او دلته باقي درے صفات رب ملك اواله ذکر دی.

**دعوی او حاصل د سورت**:. دپناه دغوښتلو تتمه.

ددواړو سورتونو حاصل:. دا دوه سورتونه د مخکښې ذکر شوی دتوحید دخزانې دحفاظت په طور ذکر شوی دی. الفلق کښې ددنیوی آفتونو او الناس کښې دأُخروی آفتونو نه دپناه غوښتلو بیان او حکم دے. سورة فلق کښې دالله يو صفت او څلور مستعاذمنه (شرونه) اوالناس کښې يومستعاذ منه(شر) او دالله دری صفتونه ذکر دی چه په هغې کښېدانسان دری حالتونو (وړوکوالے، ځوانی،اوبوډا والی) ته اشاره ده او په دی ټولو حالتونو کښې انسان الله ته محتاج وی.

**دسورت امتیازات**: (۱)ذکر د قسمونو دشیطان (من الجنة والناس). (۲)مراتب ثلاثه د توحید چه هغه احتیاج الخلق الیٰ الله دے په اوّل ، وسط اوانتهاء کښې.

وآخر دعونا ان الحمد لله رب العالمین والصلوة والسلام علی خیر خلقه محمد واصحابه أجمعین.

تمت بالخیر